د جرمني ژبې پښويه

Deutsche Grammatik

لیکوال: محمدکریم نور

د لیکوال نور چاپ شوي کتابونه:

ژرونالېستي ځېلونه

ځانمرګی ژبی (ناول)

د دې کتاب ټول مادي او معنوي حقوق له لیکوال سره خوندي دي۔
څوک اجازه نه لري چې دا کتاب یا یې کومه برخه د لیکوال له اجازې
پرته چاپ کړي۔

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الرحمن الرحيم

ربي زدني علما

د جرمنۍ ژبې الفبې

کره الفبې								
A/a اَ	B/b بې	C/c څې	D/d دې	E/e اې	F/f اېف	G/g ګې	H/h هه	I/i اي
J/j یوت	K/k که	L/l اېل	M/m اېم	N/n اېن	O/o او	P/p پې	Q/q کوُ	R/r اېر
S/s اېس	T/t تې	U/u اُو	V/v فَو	W/w وې	X/x اېکس	Y/y اېپسېلون	Z/z څېت	
ځانګړي او اوملَوت توري								
ß	اېس څېت	دغه توری د (s) په څېر ویل کېږي لکه (Straße) شتراسې.						
Ä/ä	اَ- اوملَوت	د انګرېزۍ (a) په وزن ویل کېږي لکه (Ärger) اېرګر یا اېرګه.						
Ö/ö	او- اوملَوت	لکه د (o) په توګه ویل کېږي، خو د تلفظ په وخت کې شونډې نورې هم راټولېږي لکه (Mögen) موګن.						
Ü/ü	اُوو- اوملوت	کابو د (u) په څېر، خو د تلفظ په وخت کې شونډې نورې هم راټولېږي لکه(Zurück) څورُوک.						

پېژند وییکی (Der Artikel)

که مو پام شوئ وي، په پښتو کې وایو چې: ما "**یو**" کتاب وپېره. انارګل "**یوه**" کتابچه وموندهد . همدغه د "**یو**" او "**یوه**" کلمې پېژند وییکي (د تعریف توري) یا آرټیکلونه دي. په همدې توګه په جرمنۍ ژبه کې هم پېژندوییکي (د تعریف توري) یا آرټیکلونه شتون لري چې د نوم د بدرګه کوونکي په نامه هم یادېږي. دوی د دې لپاره کارول کېږي چې د یوه نوم:

- نوری (جنس) راوښيي چې نرینه دی که ښځینه یا منځینه (مخنث).

(c) ketabton.com: The Digital Library

- شمېر يې راوښيي چې يو ګړی (مفرد) دی که ډېر ګړی (جمع).
- پېر (حالت) يې راوښيي چې په کړند پېر (فاعلي حالت)، لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت)، لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) او که په تولپېر (اضافي حالت) کې دی.

د پېژندوييکي (د تعريف توري يا آرتيکل) ډولونه:

نامعين پېژندوييکی Unbestimmter Artikel:

Unbestimmter Artikel		
Maskulin نرينه	Feminin ښځينه	Neutral منځينه (مخنث)
ein يو	eine يوه	ein يو

نامعين پېژندوييکی (د تعريف نامعين توری) د هغه نوم لپاره کارول کيږي چې نامعين وي او يا هم په غونډله کې په لومړي ځل راشي.

Anaargul hat mir **ein** Heft gegeben.	انارګل ماته يوه کتابچه راکړه. په دغه بېلګه کې کتابچه مالومه يا مشخصه نه ده چې کومه کتابچه يا د چا کتابچه يا هم کوم ډول کتابچه ده.
Anaargul hat mir **ein** Heft gegeben. **Das** Heft ist liniert.	په دغه بېلګه کې کتابچه د لومړي ځل لپاره يادېږي. له همدې امله نامعين پېژندوييکی (د تعريف نامعين توری يا آرتيکل) ورته کارول کيږي، خو په دويمه غونډله (جمله) کې چې کتابچه بيا ياده شوې ده، بايد معين پېژندوييکی (آرتيکل) ورته وکارول شي.

د لا ښه ترا سسپړنې (تشريح) په موخه يو څو نورې بېلګې:

ما **يو** سړی وليد. **يوه** مېرمن راغله . انارګل **يو** موټر وپېره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برسېرنو بېلګو کې د "**یو**" او "**یوه**" وییکي (کلمې) نامعین پېژندوییکي (د تعریف نامعین توري) دي. که پر برسېرنو غونډلو (جملو) غور وشي، په ډاګه کېږي چې نه سړی مالوم دی، نه مېرمن چې ځوک دي. او نه هم موټر مشخص یا معین شوی دی چې څه ډول موټر دی. له همدې امله ورته نامعین پېژندوییکی (د تعریف نامعین توری) کارول کېږي.

د نامعین پېژندوییکي (د تعریف نامعین توری یا آرټیکل) اوړون (ګردان):

	Maskulin **نرینه**	**Neutral** **منځینه**	**Feminin** **ښځینه**	**Plural** **ډېرګړی (جمع)**
Nominativ کړندپېر	ein Mann	ein Kind	eine Frau	Kinder
Akkusativ لنډ کړی پېر	ein**en** Mann	ein Kind	eine Frau	Kinder
Dativ لر کړی پېر	ein**em** Mann	ein**em** Kind	ein**er** Frau	Kinder**n**
Genitiv تولپېر	ein**es** Mann**es**	ein**es** Kind**es**	ein**er** Frau	Kinder

کړندپېر (فاعلي حالت)، لنډ کړی پېر (مفعولي حالت)، لر کړی پېر (باواسطه مفعولي حالت) تولپېر (اضافي حالت)

نامعین پېژندوییکی (د تعریف نامعین توری) ډېرګړی (جمع) نه لري او منفي بڼه یې په (kein/keine) سره جوړېږي:

Singular **یوګړی**	**Plural** **ډیرګړی**	**Negativ Plural** **منفي ډېرګړی**
ein Stift	Stifte	**keine** Stifte
ein Kind	Kinder	**keine** Kinder

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامعین پېژندوییکی (د تعریف نامعین توری) له لاندې نومونو سره **نه کارول** کېږي:

له موادو، توکو او مانا نومونو سره	Ich trinke gerne Apfelsaft. زه په خوښۍ سره د مڼو اوبه څښم. Liebe macht blind. مینه سړی ړندوي.
که سړی وغواړي چې د دوی ځانګړتیا ته نغوته (اشاره) وکړي، نامعین پېژندوییکی (د تعریف توری) ورسره کاروي. په دغه بېلګه کې د مڼو د اوبو ځانګړتیا (süßen) ته نغوته شوې ده.	Ich suche **einen** süßen Apfelsaft. زه د مڼو خوږې اوبه لټوم.
د ځانګې (مسلک)، اړوندۍ (تابعیت) او د دین لپاره نه راځي.	Sie ist **Kellnerin.** Er ist **Deutscher.** Sie ist **Muslimin.** دا ګارسنه ده. دی جرمنی دی. دا مسلمانه ده.
له هغو کلمو سره چې یو له بله ناشلېدونکې اړیکې ولري	Angst haben, Tanzen gehen ډارېدل، نڅا ته تلل
له ځینو ژبنیزو څرګندنو (اصطلاحاتو) سره	Über Stock und Stein په ټول ملک کې، په ټولو ستونزمنو لارو
په متلونو کې	Ende gut, alles gut. چې پای یې ښه وي، ټول ښه وي.

معین پېژندوییکی Bestimmter Artikel :

په پښتو ژبه کې معین پېژندوییکی (د تعریف معین توری) نشته، بلکې یوازې نامعین هغه شتون لري، خو په جرمنۍ ژبه کې معین پېژندوییکی (د تعیرف معین توری) شته او په لاندې توګه دی:

Bestimmter Artikel		
Maskulin **نرینه**	**Feminin** **ښځینه**	**Neutral** **منځینه (مخنث)**
der	Die	das

(c) ketabton.com: The Digital Library

معین پېژندویکی (د تعریف معین توری) هغه وخت کارول کېږي چې یو څیز مالوم، معین یا مشخص وي. په همدې توګه له هغو نومونو سره راځي چې وار له وړاندې په غونډله کې یاد شوي وي او یا هم داسې انګېرل کېږي چې دوی پېژندل شوي نومونه دي. که ووایو چې: انارګل یو کتاب لولي. تاسې ته به هرو مرو پوښتنه پیدا شي چې انارګل کوم کتاب لولي. په دې اکر کې کتاب معین یا مشخص نه دی. خو که ووایم چې انارګل د پښتو پښویه یا ګرامر لولي، نو کتاب مالوم، معین یا مشخص شو .

Anaargul liest **die** Paschtu Grammatik.	انارګل پښتو پښویه (ګرامر) لولي.
Das Eis ist kalt.	سړوېی (آیسکریم) سړه (یخه) ده.
Ich bin **der** Freund von Maya.	زه د میه ملګری یم.

د ډېرګړي (جمع) نوم معین پېژندویکی (**die**) دی:

	Maskulin نرینه	**Neutral** منځینه	**Feminin** ښځینه	**Plural** ډېرګړی (جمع)
Nominativ کړندپېر	de**r** Mann	da**s** Kind	di**e** Frau	di**e** Kinder
Akkusativ لنډ کړی پېر	de**n** Mann	da**s** Kind	di**e** Frau	di**e** Kinder
Dativ لر کړی پېر	de**m** Mann	de**m** Kind	de**r** Frau	de**n** Kindern
Genitiv تولپېر	de**s** Mannes	de**s** Kindes	de**r** Frau	de**r** Kinder

که چېرې له معین پېژندویکي (د تعریف معین توري) څخه وړاندې سربل (Präposition) راشي، په ځینو پېرونو (حالتونو) کې پېژندویکی (د تعریف توری) له سربل سره یو ځای لیکل کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

am (an dem), im (in dem), beim (bei dem), vom (von dem),
ins (in das), zur (zu der)

دغه ډول يو ځای ليکل په ټوليزه (عمومي) توګه په لاندې حالتونو کې راځي:

im Februar, **am** Mittwoch	له وخت سره
am Frankfurt Flughafen **ins** Kino gehen	د پېژندل شويو ځيزونو او ځايونو سره
zum Zuhören	له هغه نوم سره چې له کړ (فعل) ځخه جوړ شوی وي : Zuhören له آره يو کړ (فعل) دی، خو دلته د نوم (اسم) په بڼه راغلی دی.
zur Verfügung stellen **zur** Kenntnis nehmen **im** Stich lassen.	د هغو کلمو لپاره چې يو له بله سره ناشلېدونکې اړيکې لري. Zur Kenntnis له nehmen ، zur Verfügung له stellen او im Stich له lassen سره يو ځای راځي او يوه ځانګړې مانا ورکوي.

لاندې بېلګې يې په عامه ژبه کې ډېرې کارول کيږي:

ans (an das), aufs (auf das), fürs (für das), hinterm (hinter dem),
überm (über dem) etc.

د معين پېژندويکي کارونځ

معين پېژندويکی (د تعريف معين توری) له هغو نومونو سره راځي:

Die Erde dreht sich um die Sonne.	چې په ټوليزه توګه پېژندل شوي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

Das Flugzeug fliegt gleich.	چې د حالت په پام کې نیولو سره پېژندل شوي وي
Ich habe ein Buch gekauft. **Das** Buch ist sehr interessant.	چې وار له وړاندې په غونډله (جمله) کې یاد شوي وي
die Türkei, **die** Slowakei **die** Mongolei **die** Niederlande **die** Bundesrepublik Deutschland	په ښېړوده (استثنایي) توګه له ځینو هغو جغرافیوي نومونه سره هم راځي چې په (ei–) پای ته رسېدلي، په ډېرګړي (جمع) بڼه راغلي او یا له هغو ملکونو سره چې له نوم سره یو ستاینوم هم ولري.
der Schwarzland, **die** Alpen, **die** Donau	د طبعي منظرو، غرونو او سیندونو له نومونو سره

Ich wohne in Marburg. Er kommt aus Afghanistan.	**په ټولیزه توګه معین پېژندوییکی (د تعریف معین توری) د هیوادونو له نومونو سره نه راځي.**
Ich habe Anaargul getroffen. Ich esse gerne Pizza. Liebe macht blind.	**د وګړو له نومونو، موادو او مانانومونو سره معین پېژندوییکی نه راځي.**

مانا نوم هغه نوم ته وایي چې نه ننګېرېدونکی وي یا په لاس سره نه احساس کېږي، لکه: ښایست، ننګ، روغتیا، میړانه، پیاوړیتوب، خوښي، وېر، اندېښنه، درناوی، سپکاوی.

Das Substantiv نوم

نوم هغه ویی (کلمه) دی چې یو څیز، وګړی، یو ژوی یا یوه ښکارنده (پدیده) نوموي. انارګل، شهباز، طوطي، کلی، ښار، مینه، لېوالتیا، کتاب او قلم ټول نومونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوم نوږی (جنس) Das Genus

په جرمنی ژبه کې نوم یا ښځینه دی یا نرینه او یا هم منځینه (مخنث) . لکه په پښتو او نورو ژبو کې د شمېر له مخې یا یوګړی (مفرد) او یا ډېرګړی (جمع) دی . د پېر (حالت) له مخې کولای شي چې په کړندپېر (فاعلي حالت)، لنډکړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت)، لر کړی پېر (با واسطه مفعولي حالت) او یا هم تولپېر (اضافي حالت) کې راشي . د نومونو نوږی (جنس) یوازې د دوی له پېژندویيکي (د تعریف توري) (das, die, der) څخه پېژندل کیږي .

د نرینه نوم نښې

<table>
<tr><td colspan="2">der :
Neffe, Onkel, Sohn, Vater</td><td>هغه نومونه چې په طبعي توګه نرینه وي، نرینه نومونه ګڼل کیږي، لکه وراره، تره، زوی او پلار</td></tr>
<tr><td>−er</td><td>der Lehrer, Schüler</td><td rowspan="15">هغه نومونه نرینه دي چې په (−er) تورو سره پای ته رسېدلي وي:
بېدویي (استثنا) : لاندې څو نومونه ښځینه نومونه دي:
die Butter, Mutter, Oper, Schwester, etc.

لاندې څو نومونه منځینه (مخنث) دي:

das Alter, Fenster
Messer, Wasser, Zimmer etc.</td></tr>
<tr><td>−nt</td><td>der Präsident</td></tr>
<tr><td>−ient</td><td>der Patient, Referent</td></tr>
<tr><td>−and</td><td>der Doktorand</td></tr>
<tr><td>−ant</td><td>der Fabrikant</td></tr>
<tr><td>−är</td><td>der Revolutionär</td></tr>
<tr><td>−eur</td><td>der Friseur</td></tr>
<tr><td>−ör</td><td>der Frisör</td></tr>
<tr><td>−ier</td><td>der Bankier, Offizier</td></tr>
<tr><td>−or</td><td>der Autor, Doktor</td></tr>
<tr><td>−ist</td><td>der Polizist, Realist</td></tr>
<tr><td>−e</td><td>der Däne, Franzose</td></tr>
<tr><td>−er</td><td>Geräte: der Computer,</td></tr>
<tr><td>−ling</td><td>der Frühling, Lehrling, Säugling,</td></tr>
<tr><td>−ig</td><td>der Essig, Honig</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

−**ich**	der Pfirsich, Teppich	
−**iker**	der Mechatroniker,	
−**s**	der Fuchs, Knirps	
der: • Befehl • Beginn • Besitz • Flug • Ruf • Schlaf		هغه نومونه چې له کړ (فعل) څخه جوړ شوي وي او(en) ترې غورځول شوی وي، نرینه دي: له آره د (schlaf) کړ (فعل) له (schlafen)، (Ruf) له (Rufen)، (Flug) له (Fliegen)، (Besitz) له Besitzen، (Beginn) له (Beginnen) او (Befehl) له (Befehlen) څخه اخیستل شوی دی.
der: Montag, Mai, Frühling, Sommer		د وخت (ورځ، میاشت او موسم) نومونه نرینه دي
der Hagel, Regen, Schnee		باران، ګلی، واوره
der BMW, ICE		د موټر ډولونه او ریل ګاډي
der Wein		الکولي څښاک توکي، خو د وربشو د اوبو یا بیرو لپاره بیا (das) راځي: Das Bier
der Fels, Granit, Marmor		مینرالونه او تیږې:

منځینه نومونه : لاندې نومونه منځینه (مخنث) دي:

−chen/−lein **das**: • Häus**chen** • Vög**lein**		یو نوم که ښځینه هم وي، خو که د (−lein,−chen) په تورو سره پای ته ورسیږي، منځینه (مخنث) ګڼل کیږي: Das Mädchen
−um	**das** Datum, Stadium, Zentrum	په همدې توګه د جدول د چپې خوا توري یو نوم منځینه (مخنث) کوي.
−ma	**das** Klima, Thema	

(c) ketabton.com: The Digital Library

–ment	**das** Parlament,	
–o/–eau:	**das** Kino, Radio, Niveau	
–at	**das** Sekretariat,	
–ett	**das** Ballett	
–in	**das** Benzin	
–il	**das** Ventil	
–en:	**das** Lesen, Schreiben, Kochen	هغه نومونه چې له کړ (فعل) څخه جوړ شوي وي او د جدول د چپ لوري پایتوري ولري، منځینه ګڼل کیږي.
–ing	**das** Training, Jogging	
das Deutsch, Englisch, Französisch		ژبې
das Güte, Schöne, Wahre, Blau,		هغه نومونه چې له ستاینوم (صفت) څخه جوړ شوي وي .
das schöne Kabul, **das** alte Afghanistan		هغه جغرافیوي ځانګړي نومونه لکه ښارونه، هېوادونه او وچې چې له ځان سره ستاینوم (صفت) ولري، منځینه ګڼل کیږي .
das Gewässer, das **Ge**birge		هغه نومونه او غونډنومونه چې د (Ge–) په مختاړي سره پیل شوي وي .
das Adlon, das Bella Italia		د نندارتون (سینما)، هوټلونو او کاروانسرایونو نومونه.
das: • Helium • Kupfer • Aspirin		د ډېرو کیمیاوي موادو، وسپنو او درملو نومونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځینه نومونه : لاندې نومونه ښځینه دي:

<table>
<tr><td colspan="2">Die:
• Frau
• Mutter
• Oma
• Schwester</td><td>هغه نومونه چې ښځینه وګړي په ګوته کوي لکه خور ، مور ...
بیدویي (استثنا):
das Mädchen, Fräulein</td></tr>
<tr><td>**−a**</td><td>die Kamera</td><td rowspan="11">د جدول د چپ لوري په پایتورو چې کوم نومونه پای ته ورسیږي، ښځینه ګڼل کیږي</td></tr>
<tr><td>**−ade**</td><td>die Ballade, Promenade</td></tr>
<tr><td>**−age**</td><td>die Etage</td></tr>
<tr><td>**−aise**</td><td>die Marseillaise</td></tr>
<tr><td>**−ance**</td><td>die Alliance</td></tr>
<tr><td>**−anz**</td><td>die Ambulanz</td></tr>
<tr><td>**−äne**</td><td>die Migräne</td></tr>
<tr><td>**−ung**</td><td>die Zeitung, Meinung</td></tr>
<tr><td>**−heit**</td><td>die Beliebtheit</td></tr>
<tr><td>**−keit**</td><td>die Möglichkeit</td></tr>
<tr><td>**schaft**</td><td>die Herrschaft, Gesellschaft</td></tr>
<tr><td>**−e**</td><td>die:
Erde, Hilfe, Sprache</td><td>خو پرته له نرینه وګړو او ځنارو څخه، لکه :
der Junge, der Affe,
das Auge, das Ende</td></tr>
<tr><td>**−ei**</td><td>die Bäckerei, Bücherei</td><td rowspan="6"></td></tr>
<tr><td>**−elle**</td><td>die madamoiselle</td></tr>
<tr><td>**−in**</td><td>die Lehrerin, Ärztin</td></tr>
<tr><td>**−ität**</td><td>die Universität</td></tr>
<tr><td>**−ion**</td><td>die Information,</td></tr>
<tr><td>**−ik**</td><td>die Technik, Politik</td></tr>
</table>

(c) ketabton.com: The Digital Library

− **ade**	die Marmelade, Schokolade	
−**ette**	die Toilette, Marionette	
−**ine**	die Maschine, Lawine	
−**ive**	die Alternative, offensive	
−**sis**	die Basis	
−**ur**	die Natur, Kultur	
−**Sal**	die Drangsal	
−**t**	**die**: • Furcht • Sicht • Tat	هغه نومونه چې له کړ (فعل) څخه جوړ شوي وي او د (t) پایتوری ولري. (Furcht) له آره له (Fürchten)، (Sicht) له (Sichten) او (Tat) له (Tun) څخه اخیستل شوی.
die Eins, Zwei, Drei		ګڼه او د ښوونځي نمرې
die Titanic, Boeing, Vespa		بېړۍ، الوتکې او موټر سایکلونه
die Rose, Tanne		ګلان او ونې

−**tum**	**der** Irrtum **das** Altertum	ځینې نومونه کېدای شي چې له یو ډول پایتورو سره یا نرینه وي یا منځینه.
das Haus + **die** Tür + **der** Schlüssel = **der** Haustürschlüssel		کله چې له څو نومونه څخه یو نوم جوړ شي، نو وروستی نوم د ټول نوم نوری (جنس) ټاکي.

ګڼه (Plural)

نوم کېدای شي چې یوګړی (مفرد) وي لکه یو کتاب، یوه کتابچه او یو قلم. همداسې کېدای شي چې ډېرګړی (جمع) وي لکه کتابونه، کتابچې او قلمونه. په جرمنۍ ژبه کې د نومونو ګڼه (جمع) په پینځو ډولونو سره جوړېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Singular **يوګړى (مفرد)**	**Plural** **ډېرګړى (جمع)**	**Pluralendungen** **د ډېرګړي پايتوري**
der Student	die Studenten	en يا n
der Friseur	die Friseure	E
das Bild	die Bilder	er يا r
der Opa	die Opas	S
der Löffel	die Löffel	صفر (هېڅ پايتورى نه لري)

قاعده :

Singular	Plural	
der Student der Afghane der Agent	die Student**en** die Afghan**en** die Agent**en**	هغه نرينه نومونه چې په: (e, ent, and, ant, ist, or) سره او هغه ښځينه نومونه چې په: (e, in, ion, ik, heit, keit, schaft, tät, ung) سره پاى ته رسېدلي وي، ډېرګړى (جمع) يې په (n/en) سره جوړېږي.
die Station die Krankheit die Tätigkeit	die Station**en** die Krankheit**en** die Tätigkeit**en**	
der General der König das Stativ der Frühling das Schicksal	die Generäle die Könige die Stative die Frühlinge die Schicksale	ټول هغه نرينه، ښځينه او منځينه نومونه چې په لاندې پايتورو سره پاى ته رسېدلي وي: −al, −ar, −är, −bold, −(e)rich, −eur, −ian, −ich, −ig, −il, −iv, −ling, −nis, −sal ګڼه (جمع) يې د (−e) په پايتوري جوړېږي. دغه بڼه تر ټولو ډېره له نرينه او مخنث نومونو سره راځي او کله ناکله اوملوټ هم له ځانه سره لري.
das Königtum der Reichtum das Brett	die Königtümer die Reichtümer die Bretter	هغه نرينه او منځينه (مخنث) نومونه چې په (tum) سره پاى ته رسېدلي وي، ګڼه (جمع) يې په (−er) سره جوړېږي. دغه بڼه ډېره له

(c) ketabton.com: The Digital Library

der Geist	die Geister	یو څپیز (یو سیلابه) نومونو سره راځي.
der Opa die Oma	die Opas die Omas	هغه نومونه چې په واول او ناخجن (بې فشاره) سېلابونو پای ته رسېږي، ګڼه (جمع) يې په (s–) سره جوړېږي او له ځان سره هېڅ وخت اوملوټ (واولي بدلون) نه لري.
das Meeting das Trikot	die Meetings die Trikots	د پردیو ژبو، په تېره انګریزۍ او فرانسۍ ژبو ويي(کلمې) د (s–) په پایتوري سره ډېرګړي (جمع) کېږي.
das Mädchen der Metzger der Gürtel	die Mädchen die Metzger die Gürtel	هغه نومونه چې په لاندې پایتورو سره پای ومومي: –chen, –en, –ger, –le, –lein, –ler, –ner, –sel, –tel ګڼه (جمع) يې د يو ګړي (مفرد) په څېر ده او هېڅ پایتورى نه اخلي.
das Hähnchen der Mechaniker der V**a**ter der V**o**gel	die Hähnchen die Mechaniker die V**ä**ter die V**ö**gel	هغه نرینه او منځینه (مخنث) نومونه چې په –chen, –el, –en, –er او –lein سره پای ومومي، ګڼه (جمع) نه لري، خو هغه نرینه نومونه چې د (u, o, a) توري ولري، کېدای شي چې دوی اوملوټ (واولي) بدلون ومومي.

پېر (Kasus)

پېر (حالت) په غونډ یا غونډله (جمله) کې د یوه نوم یا نومځري (ضمیر) څرنګوالی یا رول ښيي یا هم د غونډ یا غونډلې (جملې) د نورو توکو سره د دوی اړیکي څرګندي.

په جرمنۍ ژبه کې یو نوم یا نومځری (ضمیر) کېدای شي چې په کړند پېر (فاعلي حالت یا Nominativ)، لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت یا Akkusativ)، لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت یا Dativ) یا تولپېر (اضافي حالت یا Genitiv) کې راشي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړند پېر (Nominativ)

Anaargul schreibt einen Brief.	انارګل خط لیکي.

د یوه کار کوونکي ته کړند (فاعل) وایي. په برسېرنه بېلګه کې انارګل د یوه کار (خط لیکلو) سرته رسوونکی دی. په دې مانا چې انارګل د خط لیکلو کړند یا فاعل دی. له همدې امله دی په کړند پېر (فاعلي حالت) کې رغېدلی دی.

لنډ کړی پېر (Akkusativ)

Anaargul schreibt **einen Brief.**	انارګل خط لیکي.

کړی (مفعول) هغه وګړي یا څیز ته وایي چې یو کار پې کېږي. په دې بېلګه کې خط په خپله لنډ کړی (مفعول) دی، ځکه چې په ده د انارګل لخوا یو کار سر ته رسېږي. له همدې امله په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) کې رغېدلی دی.

لر کړی پېر (Dativ)

Anaargul gab **Laila** einen Brief.	انارګل لیلا ته یو لیک ورکړ.

په دې بېلګه (مثال) کې په ناسیده یا غیر مستیمه توګه په لیلا یو کار سر ته رسېږي او هغه دا چې انارګل دې ته یو لیک ورکوي. له همدې امله لیلا په خپله لر کړی (با واسطه مفعول) ده یا په لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت یا Dativ) کې راغلې ده. د لیلا او انارګل تر منځ واسطه خط دی چې انارګل ورکړ. له همدې امله لیلا ته لر کړی یا با واسطه مفعول وایي.

تولپېر (Genitiv)

Das ist die Wohnung **meiner Freundin.**	دا زما د ملګرې کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بېلګه کې ملګرې په تولپير (اضافي حالت) کې راغلې ده. دغه پېر (حالت) د کور او ملګرې تر منځ اړيکه څرګندوي چې کور د چا ملکيت دی يا په چا پورې اړه لري.

په څلورو پېرونو (حالتونو) کې د يو ګړي (مفرد) نوم اوړون (ګردان):

Singular – يوګړی (مفرد)			
	Maskulin نرينه	Feminin ښځينه	Neutral منځينه (مخنث)
Nominativ کړند پېر	der Vater پلار	die Mutter مور	das Kind ماشوم
Akkusativ لنډ کړی پېر	den Vater	die Mutter	das Kind
Dativ لر کړی پېر	dem Vater	der Mutter	dem Kind
Genitiv تولپېر	des Vaters د پلار	der Mutter د مور	des Kindes د ماشوم

Die n–Deklination

n – اوړون (ګردان)

ځينې نرينه نومونه په هغه ټولګي (ګروپ) پورې اړه نيسي چې د n – اوړون (ګردان) يا د (Die n–Deklination) په نامه سره يادېږي. دوی په ټولو پېرونو (حالتونو) کې، پرته له يوګړي کړند پېر (مفرد فاعلي حالت) يا (Nominativ Singular) څخه، په اوړون کې د n(e)– پايتوري خپلوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Singular **یوګړی (مفرد)**	**Plural** **ډېر ګړی (جمع)**
Nominativ ګړند پېر	der Student زده کړیال	die Löwen زمریان
Akkusativ لنډ کړی پېر	den Studen**ten**	die Löw**en**
Dativ لر کړی پېر	dem Studen**ten**	den Löw**en**
Genitiv تولپېر	des Studen**ten** د زده کړیال	der Löw**en** د زمریانو

der: • Junge • Kollege • Neffe		د n−Deklination په ټولګي (ګروپ) پورې په تېره هغه نومونه اړه نیسي چې نرینه وي او په (e) سره پای ته رسېدلي وي.	
همدارنګه هغه نرینه نومونه چې په لاندې تورو سره پای ته رسېدلي وي.			
−**and**	der Doktorand des Doktoran**den**	−**ant**	der Praktikant des Praktikan**ten**
−**at**	der Kandidat des Kandida**ten**	−**ent**	der Absolvent des Absolven**ten**
−**et**	der Athlet des Athle**ten**	−**ist**	der Journalist des Journalis**ten**
−**oge**	der Pädagoge des Pädago**gen**	−**nom**	der Ökonom des Okönom**en**
−**soph**	der Philosoph des Philosoph**en**	−**graf**	der Fotograf des Fotograf**en**

(c) ketabton.com: The Digital Library

−**urg**	der Chirurg, des Chirurg**en**	
der: • Afghane • Türke	des: • Afghanen • Türken	همداسې هغه نومونه چې تابعيت په ګوته کوي.

ځينې نرينه نومونه په لنډ او لر کړي پېر (بې واسطه او با واسطه مفعولي حالت) کې د (n−) يا (ns−) پايتوري اخلي:

Nominativ **کرند پېر**	**Akkusativ** **لنډ کړی پېر**	**Dativ** **لر کړی پېر**	**Genitiv** **تولپېر**
der Name	den Name**n**	dem Name**n**	des Name**ns**

Der Genitiv mit Von

تولپېر (اضافي حالت) له von سره

کله چې يو نوم په تولپېر (اضافي حالت) کې پرته له پېژندويکي (د تعريف توري يا آرټيکل) يا پرته له ستاينوم (صفت) څخه راشي، د تولپېر (اضافي حالت) بڼه يې د (von) له سربل (Präposition) سره جوړېږي . همدارنګه که په يوه غونډله (جمله) کې دوه يا ډېر نومونه په تولپېر (اضافي حالت) کې راشي، يو خوا يې پوهاوی يو څه ستونزمن شي، بلخوا په خپله د غونډلې (جملې) لوست او اواز هم يو څه سخت او بې خونده کېږي. له همدې امله بڼه ترا دا ده چې د ځينو نومونو تولپېر (اضافي حالت) د (von) له سربل (Präposition) سره ورغږېږي.

له ستاينوم سره	**پرته له ستاينوم څخه**
Das Verbot der russischen Party د روسي بندار بندول (منع کول)	Das Verbot **von** Party د بنډار جوړولو بندول (منع کول)
Die Einfuhr der afghanischen Äpfel	Die Einfuhr **von** Äpfel

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغاني مېنو راوړل (واردول)	د مېنو راوړل(واردول)
Ich habe den Ehemann der afghanischen Frau **von Sprachkurs** getroffen. ما د ژبې د کورس (چې د ژبې په کورس کې ده) د افغانې مېرمن مېړه ليدلی دی. په برسېرنه غونډله کې دوه نومونه په تولپېر (اضافي حالت) کې راغلي دي. له همدې امله دويم هغه يې له (von) سره رغېدلی دی.	

Die Deklination von Eigennamen

د ځانګړنومونو اوړون

ځانګړ نومونه (شخصي نومونه) کېدای شي چې د وګړو وي لکه انارګل، جانان، يا د جغرافيوي ځايونو لکه کندهار، وردک او يا هم د ادبي پنځونو لکه د سليمان لايق چونغر، د جهاني کوه طور او د ښاغلي زيار پښتو پېنويه. په جرمنۍ ژبه کې کله چې ځانګړ نومونه اوړون (ګردان) مومي، په تولپېر (اضافي حالت) کې د (s) پايتوری اخلي او کېدای شي چې له خپل اړوند نوم څخه مخکې يا وروسته راشي:

وروسته له نوم څخه	مخکې له نوم څخه
Das Buch Majas	Majas Buch
د ميه کتاب	د ميه کتاب

هغه نومونه چې په (s, ß, x, z) سره پاي ته رسېدلي وي، د دوی پر سر يوازې د اپاسترافي(´) نښه راوړل بسيا کوي.	Nargis´ Buch Shams´ Handy

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Das Adjektiv) ستاینوم

ستاینوم (صفت) هغه ویی (کلمه) ده چې یو نوم ستايي، د نوم په اړه مالومات راکوي، نوم تشريح کوي او یا يې د ځانګړتیاوو په اړه غربېږي:

Anaargul ist erkältet.	Das Buch ist zerrissen.	Das Auto ist schön.
انارګل يخ وهلی دی.	دا کتاب څيرې دی.	دا موټر ښکلی دی.

په برسېرنو بېلګو (مثالونو) کې "یخ وهلی، څیرې او ښکلی" ستاینومونه (صفتونه) دي چې د خپلو اړوند نومونو په اړه مالومات راکوي.

ځينې کسان په دې اند دي چې یوازې ښې ځانګړتیاوې ستاینومونه (صفتونه) ګڼل کېږي، خو له آره هر هغه ویی (کلمه) چې یو نوم ستايي، که ښه وي که بده، د ستاینوم (صفت) په نامه یادېږي.

د ستاینوم (صفت) ډولونه:

- **خبري او کړولي (قیدي) ستاینوم**

Prädikative und adverbiale Adjektive

خبري ستاینوم په غونډله (جمله) کې د خبر یوه برخه ده چې له مرستیالکړ (کمکي فعل) څخه وروسته راځي. که نوم نرینه وي که ښځینه یا منځینه (مخنث)، که یوګړی (مفرد) وي او که ډېرګړی (جمع)، ستاینوم په خپله آره بڼه پاتې کېږي او اوړون (ګردان) نه مومي:

Sie ist **traurig.** دا (ښځه) خپه ده.	دا (ښځه یا نجلۍ) خپه ده. په دغه بېلګه کې"خپه" خبري ستاینوم (صفت) دی. دی یوازې د (sein, bleiben, werden) له کړ (فعل) څخه وروسته راځي.
Die Kinder laufen **lachend** herum.	ماشومان د خندا په حال کې یو خوا بل خوا منډې وهي. په دغه بېلګه کې "خنداند" کړولي (قیدي) ستاینوم (صفت) دی چې له کړ (فعل) څخه وروسته راځي او دی ستايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Er läuft **langsam.** دی ورو ورو ځي. Sie spricht **leise.** دا په ټیټ غږ خبرې کوي.	کړولي ستاینوم (قیدي صفت) د کړ (فعل) په اړه مالومات ورکوي. په دې بېلګو کې (lustig, langsam, leise) کړولي ستاینومونه (صفتونه) دي.
Er/sie/es ist müde. Wir/Sie sind **müde.** Sie lacht **leise.** Du weinst **leise.** ستاینوم په خبري او کړولي بنه کې اوړون (ګردان) نه مومي.	

لندستاینوم (Attributives Adjektiv)

لندستاینوم د پېژندوییکي (د تعریف توري یا آرټیکل) او نوم تر منځ راځي او باید اوړون ومومي:

das **rote** Auto	die **kalte** Nacht	der **schwarze** Stift
سور موټر	**سړه** شپه	**تور** قلم

په برسېرنو بېلګو کې (schwarze, kalte, rote) لنډ ستاینومونه (صفتونه) دي. دغه ډول ستاینوم (صفت) باید د نوم د نوري (جنس)، شمېر او پېر (حالت) پر بنسټ اوړون ومومي.

Er ist ein sehr gut<u>er</u> Ehemann.	دی ډېر ښه مېړه (خاوند) دی. په دغه بېلګه کې خاوند (Ehemann) نرینه نوم دی او په کړند پېر (فاعلي حالت) کې راغلی دی، نو ځکه یې ستاینوم (صفت) د (er–) پایتوري اخیستي دي.
Du kannst heutzutage so ein<u>en</u> gut<u>en</u> Ehemann nicht finden.	ته نن سبا داسې یو ښه خاوند نه شې پیدا کولای. په دغه بېلګه کې خاوند په لنډ کړي پېر یا مفعولي حالت (Akkusativ) کې راغلی دی. له همدې امله یې ستاینوم (صفت) د (en–) پایتوري اخیستي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستاینوم کمزوری اوړون (Schwache Adjektivdeklination)

له معین پېژندوییکي (د تعریف معین توری یا آرټیکل) سره د ستاینوم (صفت) اوړون چې د (–en, –e) پایتوري خپل کړي، د ستاینوم د کمزوري اوړون په نامه یادېږي.

Die jung<u>e</u> Dame ځوانه مېرمن	der rot<u>e</u> Rock سره لمن (دامنه)	das dick<u>e</u> Buch پېړړ کتاب
په برسېرنو بېلګو کې د معین پېژندوییکي او نوم تر منځ ستاینوم د (e) په توري پای ته رسېدلی دی.		

په څلورګونو پېرونو (حالتونو) کې د لنډ ستاینوم اوړون:

	Maskulin نرینه	Neutral منځینه	Feminin ښځینه	Plural ګڼه (جمع)
Nom.	der **alte** Mann سپین ږیری سړی	das **leere** Blatt تشه پاڼه	die **rote** Rose سره غوټۍ	die **guten** Menschen ښه خلک
Akk.	den **alten** Mann	das **leere** Blatt	die **rote** Rose	die **guten** Menschen
Dat.	dem **alten** Mann	dem **leeren** Blatt	der **roten** Rose	den **guten** Menschen
Gen.	des **alten** Mannes د سپین ږیري سړي	des **leeren** Blattes د تشې پاڼې	der **roten** Rose د سرې غوټۍ	der **guten** Menschen د ښو خلکو

د ستاینوم کمزوری اوړون له ناټیک نومځرو (مبهمو ضمیرونو) څخه وروسته هم په همدې بڼه رغېږي:

dieser, diese, dieses, diese:	دغه زوړ کتاب ډېر په زړه پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

Dieses alte Buch ist sehr interessant.	دی.
jener, jene, jenes, jene: Jener Mensch, der viel liest, ist intelligent.	هر هغه څوک چې ډېر لوست کوي، وېښيار دی.
jeder, jede, jedes, jede: Jede Frau muss gut behandelt werden.	له هرې ښځې سره باید ښه رویه وشي.
mancher, manche, manches, manche: Manche Menschen denken gar nicht nach.	ځینې خلک هېڅ فکر نه کوي.
solcher, solche, solches, solche: Solches Buch kann man wenig finden.	داسې کتاب سړی ډېر لږ پیدا کولای شي.
welcher, welche, welches, welche: Welche Uhr magst du?	کوم ساعت دې خوښېږي؟
derjenige, diejenige, dasjenige, diejenigen: Dasjenige Kind, das gar nicht spielt, wird irgendwann sehr dick.	هغه ماشوم چې هېڅ لوبې نه کوي، یو وخت به ډېر چاغ شي.
derselbe, dieselbe, dasselbe, dieselben: Derselbe junge, der laut schreit, hat meine Uhr kaputt gemacht.	همدغه هلک چې په لوړ غږ چیغې وهي، زما ساعت مات کړ.

د ستاینوم غښتلی اوړون (Starke Adjektivdeklination)

کله چې له ستاینوم څخه مخکې پېژندوییکی (د تعریف توری یا آرټیکل) نه وي یا یې په مخکې آر (اصلي) عددونه لکه یو، دوه درې او یا هم ناوړېدوني نومځري (هغه ضمیرونه چې نه ګردان کېږي) راغلي وي، نو ستاینوم په غښتلې بڼه اوړون مومي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Maskulin **نرينه**	**Neutral** **منځينه**	**Feminin** **ښځينه**	**Plural** **ګڼه (جمع)**
Nom.	alter Mann زوړ سړی	leeres Blatt تشه پاڼه	rote Rose سره غوټۍ	gute Menschen ښه خلک
Akk.	alten Mann	leeres Blatt	rote Rose	gute Menschen
Dat.	altem Mann	leerem Blatt	roter Rose	guten Menschen
Gen.	alten Mannes د زاړه سړي	leeren Blattes د تشې پاڼې	roter Rose د سرې غوټۍ	guter Menschen د ښو خلکو

په څلورګونو پېرونو (حالتونو) کې د نرينه، منځينه او ښځينه نومونو سره د ستاينوم اوړون	
Nominativ کړندپېر	**Alter Mann** bleibt am Wochenende zu Hause. زوړ سړی د اوونۍ په پای کې په کور کې پاتېږي.
Akkusativ لنډ کړی پېر	Du brauchst kein **leeres Blatt**. ته تشې پاڼې ته اړتيا نه لرې.
Dativ لر کړی پېر	**Roter Rose** reißt du kein Blatt ab. له سرې غوټۍ څخه به پاڼه نه شکوې.
Genitiv تولپېر	Die Gesichter **guter Menschen** erkennst du nicht schnell. ته د ښو خلکو مخونه ژر نه شې پېژندلای.

له نامعين پېژندوييکي (د تعريف نامعين توري) سره د ستاينوم اوړون:

	Maskulin	**Neutral**	**Feminin**	**Plural**
Nom.	ein gut**er** Mann يو ښه سړی	ein gut**es** Kind يو ښه ماشوم	eine gut**e** Frau يوه ښه ښځه	gut**e** Leute ښه خلک
Akk.	ein**en** gut**en** Mann	ein gut**es** Kind	eine gut**e** Frau	gut**e** Leute

(c) ketabton.com: The Digital Library

Dat.	ein**em** gut**en** Mann	ein**em** gut**en** Kind	ein**er** gut**en** Frau	gut**en** Leute**n**
Gen.	ein**es** gut**en** Mann**es** د یوه ښه سړي	eines gut**en** Kind**es** د یوه ښه ماشوم	ein**er** gut**en** Frau د یوې ښې ښځې	gut**er** Leute د ښو خلکو

د ستاینوم (صفت) دغه ډول اوړون له برسېرنو پایتورو سره د نامعین پېژندویيکي (د تعریف نامعین توري) (ein)، د (was für ein) څرګندني (اصطلاح) او د (mein, dein, sein, ihr, Ihr, unser) له تولنومځرو (ملکي ضمیرونو) څخه وروسته ټول یو ډول راځي.

meine gut**en** Zeit**en** mein**en** gut**en** Zeit**en**	همدارنګه د (kein) له منفي پېژندويیکي (د تعریف توري) سره او کله چې د (mein, dein, sein, ihr, Ihr, unser) تولنومځري (ملکي ضمیرونه) د ملکي پېژندويیکي (ملکي آرټیکل) په بڼه راشي، ستاینوم په ټولو پېرونو (حالتونو) کې د (–en) پایتوري خپلوي.
dunk**el**: ein **dunkles** Zimmer ein **dunkler** Raum	هغه ستاینومونه (صفتونه) چې په (–el) سره پای ومومي، د پایتورو په خپلولو سره یې (–e) تل غورځي.
Teu**er**: ein **teures** Auto, **teure** Autos ein **teurer** Mantel **teure** Mäntel	هغه ستاینومونه (صفتونه) چې په (–er) پای ته ورسېږي، (–er) یې کله ناکله غورځي.
ein **langer**, **roter**, **glatter** Kleid	که چېرې څو ستاینومونه یو پر بل پسې راغلي وي، ټول یې باید ګردان شي او ټول یې یو ډول اوړون مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم کړل شوي ستاینومونه (Substantivierte Adjektive)

هغه نومونه چې له ستاینومونو (صفتونو) څخه جوړ شوي وي یا د نوم په بڼه راغلي او کارول کېږي، د نوم کړل شویو ستاینومونو په نامه یادېږي. دوی هم داسې اوړون (ګردان) مومي لکه ستاینوم او پېژندوییکی (د تعریف توری) چې یو ځای راغلي وي او یا د لنډستاینوم په څېر ګردانېږي، خو یوازې نوم ترې غورځي. د دغه ډول نوم کړل شوي ستاینوم لومړی توری لوی لیکل کېږي.

	Maskulin نرینه	Neutral منځینه	Feminin ښځینه	Plural ډیرګړی
Nom.	der Bekannte پېژندل شوی	das Neue نوی	die Fremde پردۍ	die Alten زاړه
	ein Bekannter	ein Neues	eine Fremde	Alte
Akk.	den Bekannten	das Neue	die Fremde	die Alten
	einen Bekannten	ein Neues	eine Fremde	Alte
Dat.	dem Bekannten	dem Neuen	der Fremden	den Alten
	einem Bekannten	einem Neuen	einer Fremden	Alten
Gen.	des Bekannten د پېژندل شوي	des Neuen د نوي	der Fremden د پردۍ	der Alten د زړو
	eines Bekannten د یوه پېژندل شوي	eines Neuen د یوه نوي	einer Fremden د یوې پردۍ	Alter د زړو

په برسېرن جدول کې (Bekannte, Neue, Fremde, Alte) له آره (په اصل کې) ټول ستاینومونه (صفتونه) دي، خو دلته د نوم په توګه راغلي دي. لومړی توری یې لوی لیکل شوی دي.

لنډ کړستاینومونه (Attributive Partizipien)

هغه ستاینومونو ته ویل کېږي چې له کړ (فعل) څخه جوړ شوي او له نوم څخه مخکې راغلي وي. دوی د لنډستاینوم په څېر اوړون (ګردان) مومي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Maskulin	Neutral
Nominativ کړند پېر (فاعلي حالت)	**Partizip II – دويم کړ ستيانوم**	
	der geschriebene Brief ليکل شوی ليک	das gelesene Buch لوستل شوی کتاب
	ein geschriebener Brief يو ليکل شوی ليک	ein gelesenes Buch يو لوستل شوی کتاب
	Partizip I – لومړی کړستاينوم	
	der lesende Mann لوستونکی سړی	das weinende Kind ژړاند ماشوم
	ein lesender Mann يو لوستونکی سړی	ein weinendes Kind يو ژړاند ماشوم
Akkusativ لنډ کړی پېر (بې واسطه– مفعولي حالت)	**Partizip II – دويم کړ ستيانوم**	
	den gelesenen Brief لوستل شوی ليک	das gelesene Buch لوستل شوی کتاب
	einen gelesenen Brief يو لوستل شوی ليک	ein gelesenes Buch يو لوستل شوی کتاب
	Partizip I – لومړی کړستاينوم	
	den lesenden Mann لوستونکی سړی	das weinende Kind ژړاند ماشوم
	einen lesenden Mann يو لوستونکی سړی	ein schreibendes Kind يو ليکونکی ماشوم

	Feminin	Plural
Nominativ کړند پېر (فاعلي حالت)	**Partizip II – دويم کړ ستيانوم**	
	die geschriebene Geschichte ليکل شوې کيسه	die gelesenen Romane لوستل شوي رومانونه
	eine geschriebene Geschichte	gelesene Romane

(c) ketabton.com: The Digital Library

	یوه لیکل شوې کیسه	لوستل شوي رومانونه
	Partizip I – لومړی کړستاینوم	
	die schminkende Frau سینګار کوونکې ښځه	die lesenden Leute لوستونکي خلک
	eine schminkende Frau یوه سینګار کوونکې ښځه	lesende Leute لوستونکي خلک
Akkusativ لنډ کړی پېر (بې واسطه- مفعولي حالت)	**Partizip II – دویم کړ ستیانوم**	
	die geschriebene Geschichte لیکل شوې کیسه	die gelesenen Romane لوستل شوي رومانونه
	eine geschriebene Geschichte یوه لیکل شوې کیسه	gelesene Romane لوستل شوي رومانونه
	Partizip I – لومړی کړستاینوم	
	die schminkende Frau سینګار کوونکې ښځه	die lesenden Leute لوستونکي خلک
	eine schminkende Frau یوه سینګار کوونکې ښځه	lesende Leute لوستونکي خلک

کړولونه (Adverbien)

کړولونه (قیدونه) د یوه کړ (فعل) د پېښېدنې ځرنګوالی، ځای، مهال، لامل او داسې نورې ځانګړتیاوې ځرګندوي. کړول (قید) هغه ویی (کلمه) ده چې یو کړ (فعل)، ستاینوم (صفت) او یا یو بل کړول (قید) ستایي.

Verb	Ich lese **langsam.**	زه ورو لوست کوم.
Adjektiv	Das ist ein **sehr** altes Buch.	دا یو ډېر زوړ کتاب دی.
Adverb	Ich war **sehr** früh **hier.**	زه دلته ډېر مخکې وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کړولونو (قیدونو) بېلابېلې بڼې :

Lokaladverbien: da, vorn(e), hier, hinten, hin, dort, oben, her *Wir sind hier **vorne**.*	• توني کړول (مکاني قید) : چې د یوه کړ (فعل) د پېښېدلو ځای راښیي. موږ دلته په مخکې (وړاندې) یو.
Temporaladverbien: gestern, jetzt, vorher, immer, heute, damals, zuerst, oft, morgen, sofort, meist(ens) *Ich war **gestern** in Kabul.*	• مهالي کړول د یوه کړ (فعل) د پېښېدلو وخت څرګندوي. زه پرون په کابل کې وم.
Modaladverbien: so, gern, leider, glücklicherweise, umsonst, genauso, irgendwie, hoffentlich *Sie liest **gerne** Zeitung.*	• دودوال کړول (مودال قید) د یوه کړ (فعل) دود ټاکي، څرنګیز کړول هم بلل کېږي، ځکه چې د یوه کړ د پېښېدنې حالت یا څرنګوالی ښیي. دا (ښځه) په خوښۍ ورځپاڼه لولي.
viel, fast, kaum, wenig, sehr, etwa *Er hat wenig Geld.*	• کچ و مېچ (اندازه) دغه کړول (قید) د یوه کړ (فعل) د پېښېدلو کچه یا اندازه په ګوته کوي. دی لږ روپۍ لري.

پرتله (Die Komparation)

په جرمنۍ ژبه کې ستاینوم (صفت) پوړۍ (درجې) لري چې یو له بل سره پرتله کېدای شي. همداسې یې کړول (قید) هم در واخلئ. ستاینوم (صفت) او کړول (قید) د پرتلې درې پوړۍ (درجې) لري او د اوړون (ګردان) په وخت کې پایتوري خپلوي، لکه په لاندې بېلګو کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثبت (Positiv) : په دغه بڼه کې ستاینوم (صفت) یا کړول (قید) کوم پایتوری نه نیسي.

Das Fahrrad ist **so** schnell **wie** der Bus	بایسکېل همدومره ګړندی دی لکه بس.

پرتلیز (Komparativ) : په دغه بڼه کې ستاینوم یا کړول د (er−) پایتوري خپلوي.

Das Auto ist schnell**er** als das Fahrrad.	موټر له بایسکېل څخه ډېر ګړندی دی.

لوړترین (Superlativ) : په دغه بڼه کې ستاینوم یا کړول د (est−) پایتوري نیسي.

Das Flugzeug ist **am** schnell**ste**n.	الوتکه تر ټولو ګړندۍ(چابک ترینه) ده.

مثبت (Positiv) : مثبته (مطلقه) پرتله چې ستاینوم (صفت) هېڅ پایتوري نه خپلوي، یا د یوه نوم (وګړي، څیز) ځانګړتیا څرګندوي یا د دوو وګړو یا څیزونو تر منځ همرنګي. له ستاینوم (صفت) څخه مخکې د (so) یا (genauso) ویي (کلمې) راځي او پرتله شوی څیز په (wie) ورسره تړل کیږي.

Laila ist **hübsch.** لیلا **ښکلې** ده.	د یوه نوم ځانګړتیا
Anaargul ist **(genau)so** groß wie Spingul. انارګل **همدومره** لوړ دی **لکه** سپین ګل.	د دوو نومونو پرتله

پرتلیزه (Der Komparativ)

کله چې د یوه نوم توپیر له بل نوم سره د یوې پوړۍ (درجې) په کچه وي، نو د دې توپیر د څرګندلو لپاره پرتلیزه بڼه کاروو. ځینې پرتلیزې بڼې سمدودې او ځینې هغوی یې بېدودې (بې قاعده) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمدودې (باقاعده) بڼې :

	Grundform–آره بڼه		Komparativ–پرتلیزه بڼه	
Adjektiv	billig	ارزانه	billiger	ارزان تر
	schnell	ګړندی	schneller	ګړندی تر
	langsam	ورو	langsamer	ورو تر
Adverb	wenig	لږ	weniger	لږ تر

هغه ستاینومونه (صفتونه) او کړولونه (قیدونه) چې په (el, er) یا غبرګغږ (Diphthong) سره پای ته رسېدلي وي، د (–e) توری یې غورځي:

Grundform–آره بڼه		Komparativ–پرتلیزه بڼه	
dunkel	تیاره	dunkler	تیاره تر
respektabel	محترم	respektabler	محترم تر
teuer	ګران	teurer	ګران تر

څو ځېنې ستاینومونه (څو سېلابه صفتونه) او د (oft) کړول د پرتلیزې بڼې په جوړښت کې اوملوټ (Umlaut) یا واولي بدلون خپلوي.

Grundform–آره بڼه		Komparativ–پرتلیزه بڼه	
hoch	لوړ	Höher	لوړ تر
jung	ځوان	Jünger	ځوان تر
oft	ډېر	Öfter	ډېرترا وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیدوده (بې قاعده) بڼې

	Grundform – آره بڼه		Komparativ – پرتلیزه بڼه	
Adjektiv	gut	ښه	besser	ښه ترا (بهتره)
Adverb	bald	ژر	eher	ژر تر
	viel	ډېر	mehr	ډېر تر
	gern	په خوښۍ	lieber	په مینه

له پرتله شوي کس یا څیز څخه وړاندې تل د (als) کلمه راځي:

Torpekei ist hübscher **als** Zarina.	تورپېکۍ له زرينې څخه ښکلې ده.

لوړترین (Der Superlativ)

لوړترینه پوړۍ په یوه ټولي (ګروپ) کې د یوه نوم لوړترینه درجه په ګوته کوي او ښيي چې دی په خپله ډله کې تر ټولو نورو د لوړې پوړۍ (درجې) خاوند دی. لوړترینه پوړۍ له (am+superlativ) او همدرانګه له (Artikel+superlativ) سره رغیږي:

Grundform	am + Superlative	Artikel + Superlativ
schön ښکلی	am schönsten ښکلی ترین (تر ټولو ښکلی)	der/die/das schönste ښکلی ترین
teuer ګران (قیمته)	am teuersten ګران ترین (تر ټولو ګران)	der/die/das teuerste ګران ترین
dunkel تیاره	am dunkelsten تیاره ترین (تر ټولو تیاره)	der/die/das dunkelsten تیاره ترین

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کړول (قید) لوړترینه پوړۍ د (am) له مختاړي سره جوړېږي:

Anaargul spielt **am besten.**	انارګل تر ټولو ښه لوبه کوي.

که لوړترینه پوړۍ له نوم څخه وړاندې راشي، معین پېژندوییکی (د تعریف معین توری) کارول کېږي:

Zarina hat **das schönste** Kleid.	زرینه ښایسته ترین (تر ټولو ښایسته) کمیس لري.
په دې بېلګه کې لوړترینه پوړۍ (das schönste) له نوم (Kleid) څخه وړاندې راغلې ده.	

که لوړترینه پوړۍ د لر ستاینوم (خبري صفت، Prädikativ) په بڼه د (werden, sein) له کړ (فعل) سره راغلې وي، کولای شي چې دواړه بڼې واخلي:

Das Gemälde ist **am schönsten.**	Das Gemälde ist **das schönste.** منظره ښایسته ترینه (تر ټولو ښایسته) ده.

په لوړترینه پوړۍ کې ځینې ستاینومونه (صفتونه) او د (Oft) کړول (قید) اوملوټ (Umlaut) یا واولي بدلون هم خپلوي:

Grundform –آره بڼه–		**Superlativ** –لوړترینه بڼه–	
warm	تود	am wärmsten	تودترین
hoch	لوړ	am höchsten	لوړ ترین
jung	ځوان	am jüngsten	ځوان ترین
oft	زیاتره	am öftesten (auf häufigsten)	تر ټولو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

<table>
<tr><th>Grundform
آره بنه</th><th>Superlativ
لوړرینه پوړی</th><th rowspan="10">کله چې ستاینوم (صفت) په لاندې تورو :
• (−e, −s, −ss, −ß, −x, −sk, −sch)
• (−d/−t)
• (−haft, −los)
سره پای وومي، لوړترینه پوړی یې په (−est) سره جوړېږي.</th></tr>
<tr><td>heiß</td><td>heißeste</td></tr>
<tr><td>mild</td><td>mildeste</td></tr>
<tr><td>brüsk</td><td>brüskeste</td></tr>
<tr><td>ratlos</td><td>ratloseste</td></tr>
<tr><td>stolz</td><td>stolzeste</td></tr>
<tr><td>ungewiss</td><td>Ungewisseste</td></tr>
<tr><td>bewegt</td><td>Bewegteste</td></tr>
<tr><td>komplex</td><td>Komplexeste</td></tr>
<tr><td>zaghaft</td><td>Zaghafteste</td></tr>
<tr><td>frisch</td><td>am frischesten</td><td rowspan="4">بېدويي (استثنا):</td></tr>
<tr><td>süß</td><td>am süßesten</td></tr>
<tr><td>spannend</td><td>am spannendsten</td></tr>
<tr><td>groß</td><td>am größten</td></tr>
<tr><td>neue</td><td>neueste</td><td rowspan="2">هغه ستاینومونه (صفتونه) چې په خپلواک (واول) او غبرګغږ سره پای ته ورسېږي، وړترینه بنه یې په (−est, −st) سره جوړېږي :</td></tr>
<tr><td>frohe</td><td>froheste</td></tr>
</table>

د لوړترینې بنې بېدويي (استثنا):

	Grundform آره بنه	Komparativ پرتلیزه بنه	Superlativ لوړترینه بنه
Adjektiv	gut ښه	besser ښه ترا (بهتره، غوره)	am besten ښه ترین

(c) ketabton.com: The Digital Library

Adverb	viel ډېر	mehr ډېر تر	am meisten تر ټولو ډېر
	gern په خوښۍ	lieber په مینه	am liebsten تر ټولو په ډېره مینه
	bald ژر	eher ژرتر	am ehesten ژرترین

دا چې د ستاینوم (صفت) په لوړترینه پوړۍ کې یو نوم تر نورو هغوی د لوړې پوړۍ (درجې) خاوند وي، له ده سره پرتله شوي څیزونه د (von/vom) په کلمه سره څرګندېږي:

Gulalei ist die hübscheste (**von** allen Schülerinnen).	
ګلالۍ تر ټولو (زده کوونکیو) څخه ښایسته (ښایسته ترینه) ده.	

اړینه نه ده چې د غونډلې دغه برخه چې په لندیو (قوسونو) کې راغلې ده، ولیکل شي، خو که د لا ښه ترا روښانتیا په پار یا هم که لیکل یې هرو مرو وي، کېدای شي چې په برسېرنه توګه ولیکل شي.

که چېرې بېلابېل څیزونه له یو بل سره پرتله شوي او له دوی څخه یوه ته لوړترینه پوړۍ ورکړل شوې وي، لوړترینه پوړۍ د کړول (قید) په توګه کارول کېږي.

Der Wagen ist **am schönsten.**	موټر تر ټولو ښکلی دی.

موټر له ډېرو نورو څیزونو سره چې همرنګي نه دي، پرتله شوی او لوړترینه پوړۍ یې ګټلې ده.

که چېرې لوړترینه پوړۍ د لرستاینوم (خبري صفت) په توګه راغلې وي، په دې مانا چې همرنګي څیزونه له یو بل سره پرتله شوي دي.

Dieser Fernseher ist **der schönste.**	دغه تېلویزیون تر ټولو ښایسته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برسېرنه غوندله ښيي چې تېلويزيون له نورو تېلويزيونو سره پرتله شوی دی او ده لوړه درجه ګټلې ده. اړينه نه ده چې د نورو تلويزيونو يادونه دې وشي. په دغه اکر (حالت) کې ستاينوم (صفت) په خپله لوړترينه پوړۍ کې دي –e)st) پايتوري خپلوي.

نومځری (Pronomen)

نومځری (ضمير) هغه ويی (کلمه) ده چې د نوم پر ځای راځي يا د نوم استازيتوب کوي. دی په غونډله (جمله) کې د نوم د بې شمېره راتګ يا يادښت مخنيوی کوي:

انارګل زما ملګری دی. **دی** د اوونۍ په پای کې زما کره راځي.

Anaargul ist mein Kumpel. **Er** kommt am Wochenende zu mir.

په برسيرنه لومړۍ غونډله کې **انارګل** نوم دی. په دويمه هغه کې د انارګل پر ځای "**دی**" د نومځري (ضمير) په توګه راغلی او د انارګل د نوم د بيا يادولو مخه يې نيولې ده. همداسې په جرمنۍ غونډله کې **(Anaargul)** نوم دی او په دويمه غونډله کې يې پر ځای نومځری (Er) راغلی دی.

Nomen–نوم	**Pronomen–(ضمير) نومځری**
Nicole studiert Jura. نيکول حقوق لولي (زده کړه کوي)	**Sie** ist sehr fleißig. دا ډېره زحمت کښه ده.
Friedrich lernt Französisch. فريدريش فرانسوي زده کوي.	**Er** spricht aber gut Englisch. خو دی ښې انګرېزي خبرې کوي.
Ralf und **Harmut** spielen Fußball. رلف او هارموت د فوټبال لوبه کوي.	**Sie** spielen Fußball seit Jahren. دوی له کلونو راهيسې د فوټبال لوبه کوي.

په برسېرنو بېلګو کې د نومونو (نيکول، فريدريش، هارموت) پر ځای اړوند نومځري (دا، دی، دوی) او په جرمنۍ غونډلو کې (sie, er, sie) راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نومځری (ضمیر) کولای شي چې نه یوازې په خپله بڼه، بلکې د پیژندویيکي (د تعریف توري یا آرټيکل) په بڼه هم له نوم سره یو ځای راشي. د بېلګې په توګه:

Artikel **پیژندویيکی**	**Pronomen** **نومځری**
Das ist **mein** Buch. دا زما کتاب دی.	Das ist **meins.** دا زما دی.
Dein Wagen ist schön ستا موټر ښکلی دی.	**Deiner** ist schön. ستا ښکلی دی.
Dieser Wagen gefällt mir. دا موټر مې خوښیږي.	**Dieser** gefällt mir. دا مې خوښیږي.

ځانګړنومځری (Das Personalpronomen)

ځانګړنومځري (شخصي ضمیرونه) د وګړو لپاره لکه زه، ته، دی، موږ او ... لپاره راځي. دوی (نومځري) په خبرو اترو کې د وګړو رول په ګوته کوي.

	Pronomen	**نومځري**
یوګړي (مفرد) نومځري	ich	زه (لومړی کس)
	du	ته (دویم کس)
	er	دی (نرینه، دریم کس)
	sie	دا (ښځه، دریم کس)
	es	دی (مخنث، دریم کس)
ډېرګړي (جمع) نومځري	wir	موږ (لمړي کسان)
	ihr	تاسې (دوه یا ډیر کسان)
	Sie	تاسې (دویم کسان)
	sie	دوی (دریم کسان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی کس د هغه کس په مانا دی چې خبرې کوي، دویم کس د مخاطب لپاره یا هغه کس ته چې خبرې ورسره کېږي، ویل کېږي. دریم کس هغه څوک په ګوته کوي چې په اړه يې خبرې کېږي، لکه:

1. Person Singular und Plural **لومړی یوګړی (مفرد) او ډېرګړي (جمع) وګړي:** په دغو بېلګو کې "زه" او "موږ" خبرې کوو. له همدې امله لومړي کسان ګڼل کېږو.	Ich gehe zur Schule. زه ښوونځي ته ځم. Wir sind Studenten. موږ زده کړیالان یو.
2. Person Singular und Plural **دویم یوګړي او ډېرګړي وګړي:** په دې بېلګو کې انارګل، تاسې او تاسې (شما) مخاطب یا دویم کسان ګڼل کېږي. ځکه چې له دوی سره مخامخ خبرې کېږي.	Anaargul, zitiere mir ein Gedicht. انارګله، ما ته یو شعر ووایه. Ihr seid aus Afghanistan. تاسې له افغانستان څخه یاست. Sie sind eine gute Lehrerin. تاسې (شما) یوه ښه ښوونکې یاست.
3. Person Singular und Plural **دریم یو ګړي (مفرد) او ډېرګړي (جمع) کسان:** په دې بېلګو کې دی، دا، دی او دوی دریم وګړي یا غایب کسان ګڼل کېږي ځکه چې د دوی په اړه خبرې کېږي.	Er/sie/es ist erkältet. دی، دا، دی یخ وهلی، یخ وهلې (زوکام) دی (ده). Sie sind Afghanen. دوی افغانان دي.

د ځانګړنومځرو (شخصي ضمیرونو) څلورګوني پېرونه (حالتونه):

Singular- یو ګړی (مفرد)					
1.Person		2.Person	3.Person		
Nom.	ich	du	er	es	sie
Akk.	mich	dich	ihn	es	sie
Dat.	mir	dir	Ihm	ihm	ihr
Gen.	meiner	deiner	seiner	seiner	Ihrer

(c) ketabton.com: The Digital Library

Plural- (جمع) ګڼه			
	1.Pers. لومړی وګړی	2.Pers. دويم وګړی	3.Pers. دريم وګړی
Nom.	wir	Ihr	sie/Sie
Akk.	uns	euch	sie/Sie
Dat.	uns	euch	ihnen/Ihnen
Gen.	unser – زموږ	euer – د تاسې	ihrer/Ihrer – د دوی، ستاسې

د (Sie) نومځری (ضمير) يو چا ته د درنښت يا احترام په مانا کارول کيږي. که مو پام شوی وي په پښتو يا دري ژبه کې موږ کولای شو چې يوه (د شمېر پر بنسټ) کس ته د "ته" يا "تو" خطاب وکړو، خو همداسې کولای شو چې يوه کس ته د تاسې يا شما خطاب وکړو، حال دا چې شما او تاسې د ډېرو کسانو لپاره هم کارول کيږي. په جرمنۍ ژبه کې هم کيدای شي چې يوه کس ته د (Du) نومځری (ضمير) وکارول شي او همدارنګه د (Sie) هغه.

د (Sie) نومځری ښايي چې د (Du) پر ځای د ناپېژانده کس لپاره د درنښت په موخه وکارول شي، ځکه چې په جرمني کلتور کې سړی له ناپېژانده کس څخه واټن نيسي او هممهال يې دوه اړخيزه احترام ته راغوارې.

د (Es) منځينه نومځری (Das Pronomen Es)

د (Es) منځينه (مخنث) نومځری په غونډله (جمله) کې په بېلابېلو بڼو سره راتللای شي او ځينې وخت خپله آره (اصلي) مانا هم له لاسه ورکوي. په ټوليزه توګه په لاندې بڼو سره ډېر راځي:

Wie viele Seiten hat **das Buch**?	**د نومځري (ضمير) په بڼه سره:** په دغه بېلګه کې د (Das Buch) پر ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

Es hat 200 Seiten. Ich bin **<u>Krank</u>**. Ich bin **<u>es</u>** auch.	راغلی. **د ستاینوم پر ځای:** په دې بېلګه کې د (Krank) پر ځای (es) راغلی.
Ich habe meinem Sohn versprochen, **<u>ihm ein Handy zu kaufen</u>.** Ich habe **<u>es</u>** auch meinem Sohn versprochen.	**د ملې غونډلې (فرعي جملې) پر ځای:** په دغه بېلګه کې د ملې غونډلې پر ځای یوازې (es) راغلی دی.
Es kommen viele Gäste heute.	**د ناربښتیني کړند (فاعل) پر ځای:** (Es) په خپله د غونډلې آر (اصلي) کړند (فاعل) نه دی، بلکې یوازې د ده پر ځای راغلی دی. په دې بېلګه کې آر کړند مېلمانه (Gäste) دي. له همدې امله کړ (فعل) هم د آر کړند (فاعل) پر بنسټ اوړون موندلی، نه د (Es) پر بنسټ.
Es regnet. **Es** ist kalt. **Es** ist zwölf Uhr. **Es** ist zu spät. Mir geht´**s** gut. Machen Sie **es** gut.	**د ناوګړیز (غیر شخصي) کړند او کړي په توګه:** په دغه بېلګه کې (Es) د ځینو ناوګړیزو کړونو (فعلونو) د کړند (فاعل) او په ځینو څرګندنو (اصطلاحاتو) کې د کړي (مفعول) په توګه راغلی

د (Es gibt) څرګندنه (اصطلاح) کومه ځانګړې مانا نه لري، بلکې یوازې د دې لپاره کارول کېږي چې د یوه شي شتون ته نغوته وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Es gibt viele Läden hier.	دلته ډېرې هټۍ (دوکانونه) شته دي.

نومځریز کړولونه (Pronominaladverbien)

هغه کړولونو (قیدونو) ته ویل کېږي چې د خپل جوړښت لومړۍ برخه یې د (da, hier, wo) کړولونه (قیدونه) وي او دویمه برخه یې یو سربل (Präposition) وي. له همدې امله ورته سربلیز کړولونه (Präpositionaladverbien) هم ویل کېږي. د نومځریزو کړولونو (ضمیري قیدونو) لومړۍ برخه کړول (قید) نیولې وي او دویمه هغه یې سربل. د بېلګې په توګه (dagegen) . په لومړۍ برخه کې د (da) کړول (قید) راغلی او له هغه وروسته د (gegen) سربل. نومځریز کړولونه د هغه نوم، غونډ یا د غونډلې (جملې) د یوې برخې پر ځای راځي چې په متن کې یا وار له وړاندې یاد شوي وي او یا به وروسته یاد شي. د بېلګې په توګه :

Du schuldest mir 1000€. **Dazu** kommt noch 100€ vom Vorjahr.
ته زما زر آیرو پوروړی یې. پر دې سربېره سل آیرو نورې د تېرکال راځي.

په دغه بېلګه کې د (Dazu) نومځریز کړول (ضمیري قید) د (1000€) پر ځای راغلی دی. د پام وړ هرګوره دا ده چې زر آیرو په متن کې وار له وړاندې یادې شوې دي.

Ich denke ständig **daran**, welches Handy ich mir kaufen soll.
زه په پر له پسې توګه په دې اړه چورت وهم چې ځان ته کوم یو ګرځند تیلیفون وپېرم.

په برسېرنه بېلګه کې د (daran) نومځریزکړول (ضمیري قید) د ملې غونډلې (فرعي جملې) پر ځای راغلی دی، مله غونډله په متن کې هرګوره وروسته له نومځریز کړول څخه راغلې ده.

نومځریز کړولونه (ضمیري قیدونه) اوړون (ګردان) نه مومي، خو کله چې سربل (Präposition) په واول (خپلواک) توري پیل شي، د کړول (قید) او سربل تر منځ د (-r) توری ور ډېرېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Adverb کړول (قید)	**Präposition** سربل	Pronominaladverb نومځریز کړول
da	auf	Da*r*auf
wo	auf	Wo*r*auf
da	gegen	Dagegen
da	für	Dafür

د نومځریزو کړولونو نوملړ

	da(r)	**hier–**	**wo(r)**
an	daran	Hieran	Woran
auf	darauf	Hierauf	Worauf
aus	daraus	hieraus	Woraus
bei	dabei	Hierbei	Wobei
durch	dadurch	hierdurch	Wodurch
für	dafür	Hierfür	Wofür
gegen	dagegen	hiergegen	Wogegen
hinter	dahinter	hierhinter	
in	darin	Hierin	Worin
mit	damit	Hiermit	Womit
nach	danach	hiernach	Wonach
neben	daneben	hierneben	
über	darüber	hierüber	Worüber
um	darum	Hierum	Worum
unter	darunter	hierunter	Worunter
von	davon	hiervon	Wovon
vor	davor	Hiervor	Wovor

(c) ketabton.com: The Digital Library

zu	dazu	Hierzu	Wozu
zwischen	dazwischen	hierzwischen	

نومځريز کړولونه (ضميري قيدونه) د وګړو يا کسانو لپاره نه کارول کېږي، بلکې د څيزونو لپاره راځي:

Ich bin mit ihr ins Kino gegangen. Ich bin **damit** ins Kino gegangen.	زه له دې سره سينما ته ولاړم. په دويمه بېلګه کې موږ نه شو کولای چې د (mit ihr) پر ځای (damit) وکاروو، ځکه چې مانا يې غلطيږي.
Ich kann mich nicht an sie erinnern. Ich kann mich nicht **daran** erinnern.	زه دا (دغه ښځه يا نجلۍ) نه شم پر زړه کولای يا مې نه پر زړه کيږي. د لومړۍ بېلګې (an sie) په (daran) سره نه شي بدلېدلای، ځکه چې مانا يې غلطيږي.

په نومځريزو کړولونو (ضميري قيدونو) کې يوازې د (davon, darunter) هغوی د وګړو او څيزونو لپاره راتللای شي او همدا يوه بېدويي (استثنا) لري.

Ich habe viele Freunde, darunter/davon sind einige aus Afghanistan. زه ډېر ملګري لرم، ځيني له دوی/ په دوی کې ځينې له افغانستان څخه دي.
Laila hat mir viele Bücher gegeben, darunter/davon sind welche sehr bekannte Romane. ليلا ما ته ډېر کتابونه راکړي دي، ځينې له دوی څخه ډېر پېژندل شوي رومانونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Das Possessivpronomen) تولنومځری

تولنومځری (ملکي ضمیر) د یوه څیز د ملکیت یا اړوندی د څرګندولو لپاره کارول کېږي چې د چا دی یا پر چا پورې اړه لري. په ټولیزه (عمومي) توګه تولنومځری (ملکي ضمیر) د پېژندوییکي (آرټیکل) په توګه له نوم څخه وړاندې راځي او د نوم د نوري (جنس) پر بنسټ اوړون مومي:

Mein Nachbar spricht Russisch.	زما ګاونډی روسي خبرې کوي.
Du liebst **deinen Sohn.**	ته له خپل زوی سره مینه کوې.
Er schenkt **seiner Tochter** eine Halskette.	دی خپلې لور ته یوه غاړه کۍ ډالۍ کوي.

په برسېرنو بېلګو کې تولنومځری د پېژندوییکي (آرټیکل یا د تعریف توري) په توګه له نوم څخه وړاندې راغلی او د نوم د نوري (جنس) او پېر (حالت) پر بنسټ یې اوړون (ګردان) موندلی دی.

د ملکي پېژندوییکي بڼې

د هغه تولنومځري (ملکي ضمیر) بڼې چې د ملکي پېژندوییکي (تعریف توري) په توګه راغلی وي:

	Maskulin	Neutral	Feminin	Plural
ich	mein Stift	mein Heft	meine Mappe	meine Fragen
du	dein Stift	dein Heft	deine Mappe	deine Fragen
er	sein Stift	sein Heft	seine Mappe	seine Fragen
es	sein Stift	sein Heft	seine Mappe	seine Fragen
sie	ihr Stift	ihr Heft	ihre Mappe	ihre Fragen

(c) ketabton.com: The Digital Library

wir	unser Stift	unser Heft	unsere Mappe	unsere Fragen
Ihr	euer Stift	euer Heft	eure Mappe	eure Fragen
sie	ihr Stift	ihr Heft	ihre Mappe	ihre Fragen
Sie	Ihr Stift	Ihr Heft	Ihre Mappe	Ihre Fragen

په جرمنۍ ژبه کې د تول یا ملکیت آرټیکل (Possessivartikel) او تولنومځري (ملکي ضمير) تر منځ توپير شته. ملکي پېژندویيکی یوازې نه شي راتللای، حال دا چې تولنومځری (ملکي ضمير) کولای شي چې یوازې راشي.

Possessivartikel **ملکي پېژندویيکی**	**Possessivpronomen** **تولنومځری (ملکي ضمير)**
Das ist **mein** Fahrrad. دا زما بایسکل دی.	Das ist **meins.** دا زما دی.

هغه تولنومځري (ملکي ضميرونه) چې له نوم څخه وړاندې د ملکي پېژندویيکي (تعريف توري) (Possessivartikel) په توګه راشي، د نوري (جنس)، شمېر او پېر پر بنسټ اوړون مومي:

	Kasus	**Maskulin**	**Neutral**
Ich	Nom.	mein Stift	mein Heft
	Akk.	meinen Stift	mein Heft
	Dat.	meinem Stift	meinem Heft
	Gen.	meines Stiftes	meines Heftes
Du	Nom.	dein Stift	dein Heft
	Akk.	deinen Stift	dein Heft

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Dat.	deinem Stift	deinem Heft
	Gen.	deines Stiftes	deines Heftes
Er/Es	Nom.	sein Stift	sein Heft
	Akk.	seinen Stift	sein Heft
	Dat.	seinem Stift	seinem Heft
	Gen.	seines Stiftes	seines Heftes
sie	Nom.	ihr Stift	ihr Heft
	Akk.	ihren Stift	ihr Heft
	Dat.	ihrem Stift	ihrem Heft
	Gen.	ihres Stiftes	ihres Heftes
wir	Nom.	unser Stift	unser Heft
	Akk.	unseren Stift	unser Heft
	Dat.	unserem Stift	unserem Heft
	Gen.	unseres Stiftes	unseres Heftes
Ihr	Nom.	euer Stift	euer Heft
	Akk.	euren Stift	euer Heft
	Dat.	eurem Stift	eurem Heft
	Gen.	eures Stiftes	eures Heftes
Sie	Nom.	Ihr Stift	Ihr Heft
	Akk.	Ihren Stift	Ihr Heft
	Dat.	Ihrem Stift	Ihrem Heft
	Gen.	Ihres Stiftes	Ihres Heftes
sie	Nom.	ihr Stift	ihr Heft
	Akk.	ihren Stift	ihr Heft
	Dat.	ihrem Stift	ihrem Heft
	Gen.	ihres Stiftes	ihres Heftes

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Kasus	**Feminin**	**Plural**
Ich	Nom.	meine Mappe	meine Bücher
	Akk.	meine Mappe	meine Bücher
	Dat.	meiner Mappe	meinen Büchern
	Gen.	meiner Mappe	meiner Bücher
Du	Nom.	deine Mappe	deine Bücher
	Akk.	deine Mappe	deine Bücher
	Dat.	deiner Mappe	deinen Büchern
	Gen.	deiner Mappe	deiner Bücher
Er/Es	Nom.	seine Mappe	seine Bücher
	Akk.	seine Mappe	seine Bücher
	Dat.	seiner Mappe	seinen Büchern
	Gen.	seiner Mappe	seiner Bücher
sie	Nom.	ihre Mappe	ihre Bücher
	Akk.	ihre Mappe	ihre Bücher
	Dat.	ihrer Mappe	ihren Büchern
	Gen.	ihrer Mappe	ihrer Bücher
wir	Nom.	unsere Mappe	unsere Büchern
	Akk.	unsere Mappe	unsere Bücher
	Dat.	unserer Mappe	unseren Büchern
	Gen.	unserer Mappe	unserer Bücher
Ihr	Nom.	eure Mappe	eure Bücher
	Akk.	eure Mappe	eure Bücher
	Dat.	eurer Mappe	euren Büchern
	Gen.	eurer Mappe	eurer Bücher
Sie	Nom.	Ihre Mappe	Ihre Bücher
	Akk.	Ihre Mappe	Ihre Bücher

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Dat.	Ihrer Mappe	Ihren Büchern
	Gen.	Ihrer Mappe	Ihrer Bücher
sie	Nom.	ihre Mappe	ihre Bücher
	Akk.	ihre Mappe	ihre Bücher
	Dat.	ihrer Mappe	ihren Büchern
	Gen.	ihrer Mappe	ihrer Bücher

د تولنومځري (ملکي ضمير) بڼې :

تولنومځري چې پرته له نوم څخه راځي، د نوم ځايناستي ګرځي او په لاندې ډول اوړون مومي:

	Kasus	**Maskulin**	**Neutral**	**Feminin**	**Plural**
Ich	Nom.	meiner	mein(e)s	meine	meine
	Akk.	meinen	mein(e)s	meine	meine
	Dat.	meinem	meinem	meiner	meinen
	Gen.	meines	meines	meiner	meiner
Du	Nom.	deiner	dein(e)s	deine	deine
	Akk.	deinen	dein(e)s	deine	deine
	Dat.	deinem	deinem	deiner	deinen
	Gen.	deines	Deines	deiner	deiner
Er/ Es	Nom.	seiner	sein(e)s	seine	seine
	Akk.	seinen	sein(e)s	seine	seine
	Dat.	seinem	seinem	seiner	seinen
	Gen.	seines	seines	seiner	seiner
sie	Nom.	ihrer	ihr(e)s	ihre	ihre
	Akk.	ihren	ihr(e)s	ihre	ihre
	Dat.	ihrem	ihrem	ihrer	ihren

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Gen.	ihres	ihres	ihrer	ihrer
wir	Nom.	unserer	unser(e)s	unsere	unsere
	Akk.	unseren	unser(e)s	unsere	unsere
	Dat.	unserem	unserem	unserer	unseren
	Gen.	unseres	unseres	unserer	unserer
Ihr	Nom.	eurer	eur(e)s	eure	eure
	Akk.	euren	eur(e)s	eure	eure
	Dat.	eurem	eurem	eurer	euren
	Gen.	eures	eures	eurer	eurer
Sie	Nom.	Ihrer	Ihr(e)s	Ihre	Ihre
	Akk.	Ihren	Ihr(e)s	Ihre	Ihre
	Dat.	Ihrem	Ihrem	Ihrer	Ihren
	Gen.	Ihres	Ihres	Ihrer	Ihrer
sie	Nom.	ihrer	ihr(e)s	ihre	ihre
	Akk.	ihren	ihr(e)s	ihre	ihre
	Dat.	ihrem	ihrem	ihrer	ihren
	Gen.	ihres	ihres	ihrer	ihrer

نغوتنومځرى (Das Demonstrativpronomen)

نغوتنومځرى (اشاري ضمير) د نوم ځايناستى ګرځي او يوه څيز يا يوه وګړي ته نغوته (اشاره) کوي. په دې نغوتې (اشارې) سره د دوى په شتون ټينګار کيږي او يا اړين ګڼل کيږي. له همدې امله د غونډلې (جملې) په لومړي سر کې راځي.

Welches Auto möchtest du kaufen? **Dieses.**	کوم موټر غواړې چې وپيرې؟ دغه. (د نوم ځايناستى)
Derjenige, der gute Geschichte	هر هغه کس چې ښې کيسې ليکي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

schreibt, bekommt den Job.	دنده به تر لاسه کړي. (په شخص ټینګار کول)

نغوتنومځري (اشاري ضميرونه) کولای شي چې د معين پېژندوييکي (د تعريف معين توري يا آرټيکل) په بڼه راشي يا د نوم ځايناستي وګرځي. د معين پېژندوييکي په بڼه له نوم څخه مخکې راځي او د نومځري (ضمير) په بڼه د نوم پر ځای. دوی بېلابېلې بڼې لري چې تر ټولو ډېرې يې د (die, das, der) دي. دوی د معين پېژندوييکي (د تعريف معين توري يا آرټيکل) سره يو شان دي، خو يوازې د لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) او د تول (ملکيت) بڼې يې توپير لري.

Kennst du Anaargul? انارګل پېژنې؟ **Den** kenne ich nicht. هغه نه يې پېژنم.	کله چې وغواړو په يوه ځيز ټينګار وکړو، د يادونې لپاره يې اړين وګڼو يا وغواړو چې د پام وړ يې وګرځوو، لاندې نغوتنومځري کاروو:
Derjenige, der ehrenhaft seine Aufgaben erledigt, ist glücklich. هر هغه څوک چې خپله دنده په ريښتينولۍ سره سرته رسوي، بختور دی.	–der/die/das, –derjenige/dasjenige/diejenige(n) –derselbe/dieselbe/dasselbe
Hast du einen neuen Rock? نوې لمن (دامنه) لرې (اخيستې ده)؟ Nein, er ist **derselbe** wie gestern. نه، دا همغه ده چې پرون مې اغوستې وه.	
Welches Buch möchtest du? کوم يو کتاب غواړې؟ **Dieses**. دغه.	کله چې له يوه ټولي (ګروپ) څخه يو ځيز خوښوو يا ټاکو، لاندې نغوتنومځري کاروو: –dieser/diese/dieses –jener/jene/jenes

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې نغوتنومځري (اشاري ضميرونه) له نومونو سره يو ځای د معين پېژندويکي (د تعريف معين توري) په توګه راشي، د همدوی په څېر اوړون مومي. توپير يې له معين پېژندويکي سره دا دی چې په دغه اکر کې نغوتنومځری (اشاري ضمير) يوه ځانګړي (خاص) څېز ته نغوته (اشاره) کوي، د هغه وړتيا يا اړتيا په ګوته کوي او د پام وړ يې ګرځوي:

Mit **der** Einstellung kommst du in **die** Gesellschaft nicht weiter. په دغه ذهنيت يا چلن په دې ټولنه کې وراندې نه شې تللئ.

په دغه بېلګه کې د ذهنيت (Einstellung) او ټولنې (Gesellschaft) لپاره د ځانګړې نغوتې (اشارې) او پاملرنې په موخه نغوتنومځری کارول شوی چې د معين پېژندويکي په بڼه راغلی دی.

په ټوليزه توګه نغوتنومځري (اشاري ضميرونه) په لاندې توګه اوړون مومي:

Kasus	Maskulin	Feminin	Neutral	Plural
Nom.	dieser/der derjenige derselbe	diese/die diejenige dieselbe	dieses/das dasjenige dasselbe	diese/die diejenigen dieselben
Akk.	diesen/den denjenigen denselben	diese/die diejenige dieselbe	dieses/das dasjenige dasselbe	diese/die diejenigen dieselben
Dat.	diesem/dem demjenigen demselben	dieser/der derjenigen derselben	diesem/dem demjenigen demselben	diesen/denen denjenigen denselben
Gen.	dieses desjenigen desselben	dieser derjenigen derselben	dieses desjenigen desselben	dieser derjenigen derselben

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (die, das, der) نغوتنومځري (اشاري ضمير) په عامه ژبه کې ډېر کارول کېږي، په ځانګړې توګه:

- چې په نومځري (ضمير) پورې يوه اړيکغونډله (ارتباطي جمله) نښتې وي:

Ich möchte die Person sehen, **die** dieses Rätsel lösen kann.
زه غواړم چې هغه کس ووينم چې دغه کيسۍ حل کولای شي.

د (Das) نغوتنومځرى (اشاري ضمير) ډېر وخت د غونډلو په پيل يا خبري برخه کې راځي او له اړوند کړ (فعل) سره سم د پښوييز دوی (ګرامري قاعدې) پر بنسټ اوړون نه مومي:

Das ist dein Schicksal.	دا ستا برخليک (بخت) دی.
Das sind meine Geschwister.	دا زما خويندې ورونه دي.

برسېرنې بڼې کولای شي چې د پېژندوييکي (د تعريف توري) په توګه له نوم سره او همدرانګه د نومځرو (ضميرونو) په بڼه په خپلواکه توګه وکارول شي:

Welchen Stift möchtest kaufen? کوم قلم غواړې چې واخلې؟ **Diesen** Stift möchte ich kaufen. دغه قلم غواړم چې واخلم.	د معين پېژندوييکي (آرتيکل) په بڼه:
Welcher Stift gefällt dir? کوم قلم دې خوښيږي؟ **Dieser** gefällt mir. دغه مې خوښيږي.	د نغوتنومځري (اشاري ضمير) په بڼه:

هغه نغوتنومځري (اشاري ضميرونه) چې د نوم پر ځای راغلي وي، بايد له نغوت وييکي (اشاري توري) څخه توپير شي، ځکه چې نغوتنومځري بل ډول اوړون مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکنومځری (Das Relativpronomen)

اړیکنومځري (ارتباطي ضمیرونه) د نوم پر ځای راځي، د آرې غونډلې (اصلي جملې) د نوم په اړه سرباري مالومات راکوي او مله غونډله (فرعي جمله) پیلوي. د اړیکنومځري نوری (جنس) او شمېر یې په اړوند نوم پورې اړه لري او پېر (حالت) یې د غونډلې (جملې) په کړ (فعل) پورې:

Die Frauen, **die** Salsa tanzen, kommen aus Brasilien. کومې/ دا ښځې چې سلسه ناڅي (نڅا کوي)، د برازیل دي.	
Der Mann, **den** ich fragte, ist mein Kumpel. کوم/ دا سړی چې ما وپوښت، زما ملګری دی.	
Das Kind, mit **dem** die Frau wegfuhr, hatte zu viel geweint. کوم/ دا ماشوم چې له ښځې سره له دې ځایه ولاړ، ډېر یې ژړلي وو.	

په لومړۍ بېلګه (مثال) کې د (die) اړیکنومځری (ارتباطي ضمیر) د نوم (Frauen) پر ځای راغلی او د ده له نوري (جنس)، شمېر او پېر (حالت) سره یې سم اوړون (ګردان) موندلی دی. په دویمه بېلګه کې د (den) اړیکنومځری د نوم (Mann) ځایناستی ګرځېدلی او د ده له نوري (جنس)، شمېر او پېر سره سم یې اوړون (ګردان) موندلی دی. همداسې یې د (dem) اړیکنومځری درواخلئ. هممهال که پام وشي، په ټولو بېلګو کې اړیکنومځري (ارتباطي ضمیر) ملې غونډلې (فرعي جملې) پیلوي او له آرې (اصلي) هغې سره یې اړیکه ټینګوي.

د (die, das, der) اړیکنومځري

د دغو نومځرو (ضمیرونو) اوړون (ګردان) د معین پېژندویکي (د تعریف معین توري) په څېر دی، یوازینی توپیر یې هرګوره په تولپېر (اضافي حالت) او د ګڼې (جمع) په لر کړي پېر (باواسطه مفعولي حالت) کې دی چې د (en-) پایتوري خپلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Kasus	**Maskulin**	**Neutral**	**Feminin**	**Plural**
Nom.	der	das	Die	Die
Akk.	den	das	Die	Die
Dat.	dem	dem	Der	Denen
Gen.	dessen	dessen	Deren	Deren

Nom.	Ein Kind, **das** viel zu viel weint, könnte Hunger haben. یو ماشوم چې ډېر ژاړي، کېدای شي چې وږی وي.
Akk.	Der Stift, **den** ich dir schenke, kostet 100€. دا قلم چې زه یې تا ته ډالۍ کوم، سل آیرو قیمت لري.
Dat.	Ein Mann, **dem** seine Arbeit nicht wichtig ist, ist kein guter Arbeiter. یو سړی، چې خپل کار ور ته اړین نه وي، ښه کارګر نه دی.
Gen.	Die Frau, **deren** Handtasche ich fand, kommt aus Russland. دا ښځه چې ما یې لاسي بکس وموند، د روسیې ده.

د دې لپاره چې په یوه غونډله (جمله) کې مو د معین پېژندوییکي (د تعریف معین توري) او اړیکنومځري (ارتباطي ضمیر) د ناسم پوهاوي مخه نیولې وي، نو ځینې وخت د **(die, das, der)** د اړیکنومځرو (ارتباطي ضمیرونو) پر ځای **(welche, welches, welcher)** هم کارول کېږي.

Der Mann, **der** der Frau nachlief… دا سړی (کوم) چې په ښځه پسې ولاړ…	Der Mann, ***welcher*** der Frau nachlief…
Die Frau, **der** der Stift gehört… دا ښځه (کومه) چې قلم پرې پورې اړه لري…	Die Frau, ***welcher*** der Stift gehört…
Das Kind, **das** das Spielzeug sucht… دا ماشوم (کوم) چې خپل د لوبو سامان لټوي…	Das Kind, ***welches*** das Spielzeug sucht…

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چوکاټ د کېڼې خوا په لومړۍ بېلګه کې پنډ لیکل شوی (der) یو اړیکنومځری (ارتباطي ضمیر) دی چې د (Mann) پر ځای راغلی دی او دویم (der) د (Frau) د معین پېژندویکي (د تعریف معین توري یا آرټیکل) اوړېدلي (ګردان شوې) بڼه ده. دغه معین پېژندویکی له آره (die) دی او په دغه بېلګه کې په لرکړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) کې راغلی دی او (der) ترې جوړ شوی دی. له همدې امله کېدای شي چې د اړیکنومځري (ارتباطي ضمیر) او معین پېژندویکي (د تعریف معین توري یا آرټیکل) په پېژندلو کې ستونځه یا ناسم پوهاوی را منځته شي.

دغه ډول اړیکنومځري (ارتباطي ضمیرونه) ډېر په لیکلې ژبه کې کارول کېږي. په ورځینو خبرو اترو کې لږ اوړېدل کېږي. تولپېر (اضافي حالت) هم نه لري. اوړون (ګردان) یې په لاندې توګه دی:

Kasus	Maskulin	Neutral	Feminin	Plural
Nom.	welcher	welches	welche	Welche
Akk.	welchen	welches	welche	Welche
Dat.	welchem	welchem	welcher	Welchen

د (wer, was) پوښتویکي (استفهامي کلمې) هم د اړیکنومځري په توګه کارېدای شي:

Kasus پېر	Personen وګړي	Dinge څیزونه
Nominativ	wer	Was
Akkusativ	wen	Was
Dativ	wem	–
Genitiv	wessen	Wessen

د (wer) پوښتویکی (استفهامي کلمه) د نرینه، ښځینه او منځینه (مخنث) نومونو پر ځای پرته له کوم توپیر څخه د اړیکنومځري (ارتباطي ضمیر) په توګه راځي، حال دا چې (was) د څیزونو او مانا نومونو پر ځای کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Weißt du, **wer** dir den Brief geschickt hat?	پوهیږې چې دغه لیک چا درته رالیږلی دی؟
Sie versteht nicht, **was** du tust.	دا (ښځه) نه پوهیږي چې ته څه کوې.
Was du machst, musste ich auch machen.	څه چې ته کوې، باید زه يې هم وکړم.
Ich weiß, **wessen** Auto das ist.	زه پوهیږم چې دا د چا موټر دی.

د **(woher, wohin, wo)** اړیککړولونه (ارتباطي قیدونه) له آره کړولونه (قیدونه) دي. دوی د اړیکنومځرو (ارتباطي ضمیرونو) په څېر مله غونډله (فرعي جمله) پیلوي، خو هممهال د کړول (قید) دنده هم تر سره کوي. دوی د هېوادونو، ښارونو او سیمو له نومونو څخه وروسته راځي:

Das ist genau die **Klasse**, ***wo*** ich dich zum ersten Mal sah. دا همغه ټولګی دی چې ما ته د لومړي ځل لپاره پکې ولیدې.
Sie ist zurück nach **Kabul** geflogen, **woher** sie eigentlich kommt. دا بېرته کابل ته، اصلاً دکوم ځای چې ده، والوته (پرواز يې وکړ).
Lisa fliegt nach **Afghanistan**, **wohin** ihr Vater schon gegangen ist. لیزا افغانستان ته پرواز کوي، هلته چې پلار يې وار له وړاندې تللی دی.

د **(was)** ټولیز (عمومي) اړیکنومځری (ارتباطي ضمیر) پرته له اوړون څخه کولای شي چې په کړند پېر (فاعلي حالت) او کړې پېر (مفعولي حالت) کې راشي. دی هم د نوم ځایناستی ګرځي او مله غونډله (فرعي جمله) پیلوي:

Nominativ **کړند پېر**	Du hast ein schönes Kleid, <u>was</u> mich sehr freut. ته یو ښایسته کمیس لرې چې ما ډېر خوشحاله کوي.
Akkusativ **لند کړی پېر**	Sie hat wieder einen Job, <u>was</u> sie mir gestern erzählt hat. دا (ښځه) بیا یوه نوې دنده لري، څه چې پرون يې ما ته ووې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناټيکنومځری (Indefinitpronomen)

ناټيکنومځري (مبهم يا نامعين ضميرونه) د يوه ناجوت (نامعين) وګړي يا څيز پر ځای راځي، يا هم د داسې څيز لپاره راځي چې په اړه يې په ټوليزه (عمومي) توګه بايد خبرې وشي، نه په ځانګړې او دقيقه توګه، لکه يو سړی، يو څوک، يو چا. دوی کېدای شي چې په ډېرګړې (جمع) يا يوګړې (مفرد) بڼه سره راشي. په جرمنۍ ژبه کې کېدای شي چې ګڼه (جمع) يې د يوګړي (مفرد) پر ځای راشي او مفرد يې د ګڼې (جمع) پر ځای، خو په دې سره يې مانا نه غلطيږي. د نوري (جنس) له پلوه کېدای شي چې اوړون هم ومومي. اوړون يې هر ګوره داسې دی لکه نوری (جنس) يې چې نرينه وي. ځينې له دوی څخه يوازې راځي چې د رېښتينو ناټيکنومځرو (مبهمو ضميرونو) په نامه هم يادول کېږي، لکه:

Einer, irgendeiner, irgendwer, man, jemand, irgendjemand, jedermann, keiner, niemand, etwas, irgendetwas, nichts, alles, viel, wenig.

Irgendeiner muss mich nach Hause fahren.	يو څوک مې بايد کور ته ورسوي.
Niemand kann alles erreichen.	هېڅوک نه شي کولای چې هر شي ته ورسېږي.
Jedermann muss einen Beruf lernen.	هر سړی بايد يو مسلک زده کړي.

ځينې يې کولای شي چې له نوم سره د نامعين پېژندويکي (د تعريف نامعين توري يا آرټيکل) په توګه راشي لکه لاندې ناټيکنومځری (مبهم ضمير) :

	Maskulin	Neutral	Feminin	Plural
Nom.	einer	ein(e)s	Eine	(welche)
Akk.	einen	ein(e)s	Eine	(welche)
Dat.	einem	einem	Einer	(welchen)
Gen.	eines	eines	Einer	–

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (einer) ناټیکنومځری (مبهم ضمیر) ګڼه (جمع) نه لري. د ګڼې (جمع) لپاره یې (welche) یا (irgendwelche) راځي. همداسې کېدای شي چې (welche) د داسې یوه شي لپاره راشي چې اندازه یې مالومه نه وي، خو وار له وړاندې په متن یا غونډله کې یاد شوی وي.

Ich habe ein Auto. Jeder hat **eins.**	زه یو موټر لرم. هر څوک یو لري.
Du kannst **einen** stundenlang beschäftigten.	ته کولای شې چې یو څوک په ساعتونو بوخت کړې.
Sie können **einem** wehtun.	تاسې کولای شئ چې یو څوک ودردوئ.
Nur **einer** tut sowas gutes.	یوازې یو سړی (یوڅوک) داسې ښه کار کوي.

د (Niemand, Jemand, Man) ناټیکنومځرو (مبهم ضمیرونو) اوړون:

Nom.	**Man** **سړی (یو څوک)**	**Jemand** **یو سړی**	**Niemand** **هېڅوک**
Akk.	**einen**	jemanden	Niemanden
Dat.	**einem**	jemandem	Niemandem

لکه څنګه یې چې په برسیرن جدول کې څرګنده شوه، د (man) ناټیکنومځری (مبهم ضمیر) په یوګړې (مفرد) بڼه د کړند (فاعل) په توګه راتللای شي، خو په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) او لرکړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) کې یې ځای د (einer) ناټیکنومځری نیسي.

Man redet nicht schlecht über Leute. سړی په خلکو پسې بد نه غږېږي.	د (Man) ناټیکنومځری د یوه یا ډېرو هغو وګړو په مانا کارول کېږي چې یا یې په اړه په ټولیزه (عمومي) توګه خبرې کېږي او یا یې په اړه مالومات نه وي.
Jemand muss diese Arbeit machen.	د (Jemand) ناټیکنومځری یوازې د یوه نامالوم کس یا یوه نامالوم ګروپ لپاره راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	یو څوک باید هرو مرو دغه کار وکړي.
د (Niemand) ناټیکنومځری د (Jemand) هغه منفي بڼه ده.	**Niemand** macht deine Arbeit. هېڅوک ستا کار نه کوي.

د ځینو ناټیکنومځرو (مبهمو ضمیرونو) د ناټیکوالي (مجهولیت) د غښتلي کولو لپاره سړی کولای شي چي د نومځري (ضمیر) څخه وړاندې د (-irgend) مختاړی راوړي. د بېلګې په توګه:

که چېرې د (-irgend) په مخکې (wer, einer, etwas, jemand) راشي، نو ناټیکوالی یا ابهام یا مجهولیت یې نور هم غښتلی او ډېرېږي:

یو چا را ته وویل چي تورپېکۍ نه راځي.	Irgendjemand hat mir gesagt, dass Torpekai nicht kommt.
زوی ته دې له ځان سره یو شی راوړه.	Bring deinem Sohn irgendetwas mit.
یو څوک مې باید کورته یوسي.	Irgendjemand muss mich nach Hause fahren.

په لمړۍ بېلګه کې د "یو چا" نومځری ناټیک (مبهم) دی. دا چې چا راته وویل، مالومه نه ده. په دویمه بېګله کې "یو شی" ناټیک (مبهم) دی. په دې مانا چې یو شی راوړه، خو دا چې باید څه شی راوړې، ټاکل شوې او مالومه نه ده. په دریمه بېلګه "یو څوک" ناټیک (مبهم) دی. یو څوک مې باید کور ته یوسي، خو چې څوک مې وړي، ټاکلې او مالومه نه ده. په ټولو بېلګو کې د ناټیکوالي یا ابهام د غښتلي کولو لپاره د (-irgend) مختاړی راغلی دی.

ځیني له ناټیکنومځرو (مبهم ضمیرونو) څخه کېدای شي چې له هغو نومونو سره راشي چې له آره ستاینومونه وي، خو نوم ترې جوړ شوی وي او یا د نوم په توګه راغلي او کارول کیږي:

تا ته دې د زېږد ورځ بختوره وي!	Alles Gute zum Geburtstag!
ما تا ته لږ خواږه (شی) راوړي دي.	Ich habe dir etwas Süßes geholt.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برسېرنو بېلګو کې (Gute, Süße) له آره ستاینومونه (صفتونه) دي، خو د نوم په توګه راغلي دي. که چېرې (viel, wenig, alles) په برسېرنه بڼه (له ستاینوم سره چې د نوم په توګه راغلی وي) راشي، نو اوړون نه مومي. خو که چیرې له نوم سره لکه پېژندوییکی (د تعریف توری یا آرټیکل) راشي، نو باید ګردان شي.

له نوم کړل شوي ستاینوم سره	له نوم سره
Ich habe **viel** Süßes gegessen.	Ich habe **viel*e*** Menschen getroffen.
Sie könnte **wenig** Scharfes vertragen.	Sie hat **wenig*e*** Gläser dabei.
Alles Liebe und Gute zum Eid.	**Alle** Menschen haben gleiche Rechte.

د ناټیکنومځرو نورې بېلګې په لاندې توګه دي:

Alle, viele, andere–, ein bisschen, andere, jeder, die meisten, kein, verschiedene, mancher, ein paar, mehrere, ein einziger, etliche, wenige, ein jeder, irgendein, ein gewisser, manch einer, beide, einige.

پوښتنومځری (Das Interrogativpronomen)

پوښتنومځری (استفهامي ضمیر) په یوه پوښتغوندله (استفهامي جمله) کې د هغه نوم پر ځای راځي چې په اړه یې مالومات غواړو. په بله وینا، پوښتنومځری د یوه کړن (عمل)، پېښې، اکر (حالت)، وګړي یا یوه څیز په اړه د پوښتنې لپاره کارول کیږي. په جرمنۍ ژبه کې پوښتنومځري په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Wer?	څوک؟	Wer ruft an?	څوک زنګ وهي؟
Was?	څه شی؟	Was möchtest du?	ته څه شی غواړې؟
Wen?	څوک، چا (ته)؟ (لندکړی پېر)	Wen suchst du?	څوک لټوې؟
Wem?	چا (ته)؟ (لر کړی پېر)	Wem hat sie mein Buch gegeben?	دې (ښځې) زما کتاب چا ته ورکړ؟
Wessen?	د چا؟	Wessen Buch ist das?	دا د چا کتاب دی؟
welcher	کوم ؟	Welcher Hund bellt?	کوم سپی غاپي؟
was für ein(er)?	څه ډول؟	Was für ein Buch ist das?	دا څه ډول کتاب دی؟

د (Welche, Welcher, Welches) پوښتنومځري (استفهامي ضميرونه) د دې لپاره کارول کېږي چې له څو څيزونو يا له يوه ټولي (ګروپ) څخه د يوه مالوم يا ټاکلي هغه په اړه وپوښتو. په دغه بېلګه کې غواړو پوه شو چې د کتابونو، کتابچو او کمپيوټرونو په ټولي (ګروپ) کې کوم يو غواړئ، خوښوئ يا ټاکئ.

Welches Buch gefällt dir?	کوم کتاب دې خوښېږي؟
Welche Mappe willst du kaufen?	کومه دوسيه غواړې چې وپېرې؟
Welcher Rechner ist defekt?	کوم کمپيوټر خراب دی؟

(was für ein?) يوه ځرګندنه (اصطلاح) ده چې د پوښتنومځري (استفهامي ضمير) په توګه راځي او په ټوليزه (عمومي) توګه د يوه شي د ډول يا رقم د پوښتلو لپاره کارول کېږي. که چېرې بايد اوړون (ګردان) ومومي، يوازې وروستۍ برخه (ein) يې اوړون مومي. ګڼه (جمع) يې په (welche) سره رغېږي. په لاندې بېلګو کې غواړو چې په ټوليزه توګه د کمپيوټر او فابريکو په ډول او رقم پوه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Singular یو ګړی (مفرد)	Was für einen Computer möchtest du? څه ډول کمپیوتر غواړې؟
Plural ګنه (جمع)	Was für welche Fabriken gibt es hier? څه ډول فابریکې دلته شته دي؟

د **(was für ein)** اوړون:

	Maskulin	**Neutral**	**Feminin**	**Plural**
Nom.	was für einer	was für ein(e)s	was für eine	was für welche
Akk.	was für einen	was für ein(e)s	was für eine	was für welche
Dat.	was für einem	was für einem	was für einer	was für welchen
Gen.	was für eines	was für eines	was für einer	was für welcher

بېلګې:

Hier steht ein Beamter. دلته یو مامور ولاړ دی.	Was für **einer**? څه ډول (مامور)؟
Ich suche einen Stift. زه یو قلم لټوم.	Was suchst du für **einen**? څه ډول (قلم) لټوې؟
Dieter hat ihr ein Auto gekauft. دیتر دې (ښځې) ته یو موټر واخیست.	Was für **eins**? څه ډول (موټر)؟
Sie hat einem Mann das Leben gerettet. دې (ښځې) یوه سړي ته ژوند وژغوره.	Was für **einem**? څه ډول (سړي) ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

Er hat die Halskette einer Frau gefunden. ده د یوې ښځې د غاړې ځنځیر پیدا کړی دی.	Was für **einer**?` د کومې یا څه ډول (ښځې)؟
Draußen liegen so viele Bücher. د باندې ډېر کتابونه پراته دي.	Was für welche? څه ډول کتابونه؟

غبرګون نومځری (Das Reflexivpronomen)

غبرګون نومځری (انعکاسي ضمیر) هغه نومځری دی چې د یوه کړ (فعل) هم کړند (فاعل) وي او هم یې کړی (مفعول). دوی له نومونو یا ځانګړنومځرو (شخصي ضمیرونو) سره د "**ځان**" په ملګرتیا کولو لاسته راځي. که ووایو چې: انارګل ځان ژوبل کړ.

په برسېرنه بېلګه کې انارګل هم کړند (فاعل) دی او هم کړی (مفعول). په دې مانا چې د ده خپل کړن (عمل) بېرته ده ته ور ګرځي او اغېزه یې پر ده لوېږي. که ووایو چې سپن ګل ځان پرېمینځي. دلته هم سپین ګل د خپل کړ (فعل) هم کړند (فاعل) دی او هم یې کړی (مفعول).

په جرمنۍ ژبه کې غبرګون نومځري (انعکاسي ضمیرونه) یوازې دوې بڼې لري. یوه بڼه یې د لنډکړي پېر (بې واسطه مفعول) او بله هغه یې د لر کړي پېر (با واسطه مفعول) ده.

	ich	**du**	**er/sie/es**	**Wir**	**ihr**	**sie/Sie**
Akk.	mich	dich	sich	Uns	euch	Sich
Dat.	mir	dir	sich	Uns	euch	Sich

د لومړي او دویم وګړي بڼه یې د ځانګړنومځرو (شخصي ضمیرونو) په څېر ده، حال دا چې د دریم وګړي (شخص) بڼه یې د (sich) په راوړلو سره جوړېږي.

Ich dusche mich.	زه ځان مینځم.
Du verletzt dich.	ته خپل ځان ټپي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Er putzt sich die Zähne.	دی خپل غاښونه پاکوي.
Wir kennen uns.	موږ یو بل سره پېژنو.
Sie ziehen sich schön an.	تاسې ښکلي کالي اغوندئ.
Ihr macht euch große Mühe.	تاسې ځان ته ډېر زحمت ورکوئ.
Sie waschen sich.	دوی خپل ځانونه مینځي.

(Das Verb) کړ

کړ (فعل) د زماني په چوکاټ کې د یوه شي یا اکر (حالت) یا هم د یوه کړن (عمل) استنه څرګندوي.
یا په بله او لنډه وینا: **کړ (فعل) په یوه مهال (زمانه) کې د یوه کار کولو ته وایي.**

په جرمنۍ ژبه کې کابو (تقریباً) د ټولو کړونو (فعلونو) کړنومی (مصدر) په (en–) او ځینې هغوی یې یوازې په (n–) سره پای ته رسېږي:

red**<u>en</u>**, schlaf**<u>en</u>**, handel**<u>n</u>**

که چېرې له برسېرنو بېلګو څخه (en–) یا (n–) لرې کړو، نو پاتې برخې ته د کړ (فعل) ستنه وایې:

red–, schlaf–, handel–

د یوه کړ (فعل) د پای په پام کې نیولو سره، کړ (فعل) په دوه ډوله دی :

ناوړېدونی (چې نه وي ګردان شوی) (Infinitives Verb) : نه کومه وګړیزه پایله لري او نه خپلواک وي لکه د اوس او تېرمهال بېلګې:

sprechen, gesprochen haben

همداسې لومړی کړ ستاینوم (Partizip I) او دویم هغه (Partizip II):

sprechend, gesprochen

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوړېدونی کړ (ګردان شوی فعل) (Finites Verb): هم وګړيز پای لري او هم په غونډله کې د خبر (اېښوني) چار تر سره کوي. دوی د وګړي، نوري (جنس)، شمېر او پېر (حالت) په پام کې نيولو سره اوړون (ګردان) مومي.

Ich **schreib*e*** meiner Freundin einen Brief.	زه خپلې ملګرې ته يو ليک ليکم.

کړ (فعل) د مانا او ځانګړتيا پر بنسټ په درې ډوله دی:

Anaargul **liest** ein Buch. (Handlungsverben)	انارګل يو کتاب لولي. (کړن، چار)
Die Blätter **fallen**. (Vorgangsverben)	پاڼې تويېږي. (پېښېدل)
Nicole **liegt** in der Sonne. (Zustandsverben)	نيکول په لمر کې پرته ده. (حالت)

کړ (فعل) د چار او دندې پر بنسټ:

مرستيال کړ (Hilfsverb) :

مرستيالکړ (کمکي فعل) له بشپړ يا اصلي کړ (فعل) سره د بيلابېلو مهالونو او ځينو ځانګړو پښوييزو (ګرامري) څرګندنو (اصطلاحاتو) په جوړولو کې مرسته کوي. لاندې بېلګې په بېلابېلو مهالونو (زمانو) کې د (sein, haben, werden) مرستيالکړونو (کمکي فعلونو) په مرسته جوړې شوې دي.

Ich **bin** nach Hause gekommen.	زه کور ته راغلی يم.
Ich **habe** ein Buch gekauft.	ما يو کتاب پېرلی دی.
Ich **werde** Medizin studieren.	زه به طب (فاکولته) ولوم.

د بيلابېلو مهالونو (زمانو) او بېچار کړ (Passiv) لپاره د (sein, werden, haben) مرستيالکړونه (کمکي فعلونه) کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د **(Haben)** مرستیالکړ (کمکي فعل) اوړون:

	Präsens وسمهال	**Präteritum** بپشړ تېرمهال	**Konjunktiv I** لومړی ناخبري	**Konjunktiv II** دویم ناخبري
ich	habe	hatte	Habe	Hätte
du	hast	hattest	Habest	Hättest
er/sie/es	habe	hatte	Habe	Hätte
wir	haben	hatten	Haben	Hätten
ihr	habt	hattet	Habet	Hättet
sie/Sie	haben	hatten	Haben	Hätten

د **(sein)** مرستیالکړ (کمکي فعل) اوړون (ګردان) :

	Präsens وسمهال	**Präteritum** بشپړ تېرمهال	**Konjunktiv I** لومړی ناخبري	**Konjunktiv II** دویم ناخبري
ich	bin	war	Sei	Wäre
du	bist	warst	sei(e)st	wär(e)st
er/sie/es	ist	war	Sei	Wäre
wir	sind	waren	Seien	Wären
ihr	seid	wart	sei(e)t	wär(e)t
sie/Sie	sind	waren	Seien	Wären

د **(werden)** مرستیالکړ (کمکي فعل) اوړون (ګردان):

	Präsens وسمهال	**Präteritum** بشپړ تېرمهال	**Konjunktiv I** لومړی ناخبري	**Konjunktiv II** دویم ناخبري
ich	werde	wurde	werde	Würde
du	wirst	wurdest	werdest	Würdest
er/sie/es	wird	wurde	werde	Würde

(c) ketabton.com: The Digital Library

wir	werden	wurden	werden	Würden
ihr	werdet	wurdet	werdet	Würdet
sie/Sie	werden	wurden	werden	Würden

دودتاکی کړ (Modalverb):

دودتاکی کړ (موډال فعل) هغه کړ (فعل) ته وايي چې د يوې پېښې اړتيا او شونتيا (امکان) يا يې د ځرنګوالي آړونه (شرايط)، ډول او طريقه څرګندوي چې څنګه پېښ شو، لکه په لاندې بېلګو کې:

Dürfen	Du **darfst** nach Hause gehen.	ته **اجازه** لرې چې کور ته ولاړ شې.
Können	Er **kann** Spanisch sprechen.	دی **کولای** شي چې اسپانوي وغږيږي.
Sollen	Ich **soll** was essen.	**ښايي** چې زه يو څه شی وخورم.
Müssen	Sie **müssen** gehen.	تاسې **بايد هرو مرو** ولاړ شئ.
Wollen	Sie **will** ein Auto kaufen.	دا (ښځه) **غواړي** چې يو موټر وپېري.
Mögen	Wir mögen nach Hause gehen.	موږ (دا) خوښوو چې کور ته ولاړ شو.
Möchten	Ich möchte ein Haus kaufen.	زه غواړم چې يو کور وپېرم.

د دودتاکو کړونو (موډال فعلونو) مانا:

Wollen (غوښتل، په زور وي که په خوښه)	Ich **will** heute Schwimmen gehen.
Sollen (ښايېدل)	Du **solltest** was essen.
Müssen (هرو مرو، بايد)	Sie **müssen** heute arbeiten.
Können (توان)	Sie **kann** mich anrufen.
Dürfen (اجازه درلودل)	Er **darf** ein Eis essen.
Mögen (خوښېدل)	**Mögen** Sie ein Kaffee?
Möchten (غوښتل)	Was **möchtest** du kaufen?

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دودتاکی کړ له بشپړ کړ سره یو ځای راشي، بشپړ کړ د کړنومي (مصدر) په بڼه راځي.

Ich **kann** schwimmen. زه کولای شم چې ولامبم (لامبو ووهم).	Sie **möchte** einen Computer kaufen. دا (ښځه) غواړي چې یو کمپیوتر وپېري.

په لنډ تېرمهال کې دودتاکی کړ د (haben) له مرسیتالکړ سره د کړنومي (مصدر) په بڼه څرګندېږي:

Ich habe dir Bescheid geben **können**.	ما کولای شوی چې تا ته مالومات درکړم.

په برسېرنه بېلګه کې دودتاکی کړ (können) د کړنومي په توګه راغلی او اوړون نه مومي.

دودتاکی کړ (مودال فعل) کولای شي چې یوازې او پرته له کوم بل کړ (فعل) څخه هم راشي:

Ich **kann** das.	زه دا کولای شم.
Sie **wollen** das.	تاسې دغه (څه) غواړئ.

د (müssen) دودتاکی کړ (مودال فعل) په خپله منفي بڼه نه لري، خو له (brauchen… nicht) سره رغېدای شي او د کړ (فعل) څخه وړاندې (zu) ور ډېرېږي:

Du musst nach Hause gehen. ته باید هرو مرو کور ته ولاړ شې.	Nein, ich <u>**brauche nicht**</u> nach Hause <u>**zu**</u> gehen. نه، زه مجبور نه یم چې کور ته ولاړ شم.

دودتاکی کړ (مودال فعل) کېدای شي چې د ګومان د څرګندولو لپاره هم وکارول شي:

Anaargul ist nicht gekommen. Er **muss** krank sein. انار ګل نه دی راغلی. دی به هرو مرو ناروغ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې بېلګه کې د انارګل په باره کې ګومان څرګند شوی دی. انارګل هر وخت راځي، خو نن چې نه دی راغلی، داسې ګومان کېږي چې دی به هرو مرو ناروغ وي.

Spingul hat graue Haare. Er **muss** jetzt 45 Jahre alt sein. سپین ګل برګ وېښتان لري . ګومان کېږي چې دی به هرو مرو یا کېدای شي چې 45 کلن وي.
Die Kinder haben gegessen. Sie **dürfen** schon spielen gehen. ماشومانو ډوډۍ خوړلې دي. دوی اجازه لري، یا ګومان کېږي چې کولای شي چې لوبو ته ولاړ شي.

که چېرې په یوه غونډله (جمله) کې دودټاکی کړ (موډال فعل) له بېچار (Passiv) هغه سره یو ځای راشي، نو دودټاکی کړ په غونډله کې اوړون مومي او له کړند (فاعل) څخه وروسته راځي:

Das weinende Kind **sollte** als Erster untersucht werden. دا ژړاند ماشوم باید تر ټولو لومړی وکتل (معاینه) شي.

د دودټاکو کړونو (موډال فعلونو) اوړون:

د دودټاکو کړونو وسمهال او بشپړ تېرمهال د نورو مهالونو (زمانو) په پرتله ډېر کارول کېږي.

Präsens Indikativ – د وسمهال خبري انشايي							
	wollen	**sollen**	**müssen**	**dürfen**	**können**	**möchten**	**mögen**
Ich	will	soll	muss	darf	kann	möchte	mag
Du	willst	sollst	musst	darfst	kannst	möchtest	magst
Er/sie /es	will	soll	muss	darf	kann	möchte	mag
Wir	wollen	sollen	müssen	dürfen	können	möchten	mögen
Ihr	wollt	sollt	müsst	dürft	könnt	möchtet	mögt
Sie/sie	wollen	sollen	müssen	dürfen	können	möchten	mögen

(c) ketabton.com: The Digital Library

Präteritum Indikativ – د بشپړ تېرمهال خبري انشايي							
	wollen	**sollen**	**müssen**	**dürfen**	**können**	**möchten**	**mögen**
Ich	wollte	sollte	musste	durfte	konnte	möchte	mochte
Du	wolltest	solltest	musstest	durftest	konntest	möchtest	mochtest
Er/sie /es	wollte	sollte	musste	durfte	konnte	möchte	mochte
Wir	wollten	sollten	mussten	durften	konnten	möchten	mochten
Ihr	wolltet	solltet	musstest	durftet	konntet	möchtet	mochtet
Sie/sie	wollten	sollten	mussten	durften	konnten	möchten	mochten

Partizip II – دويم کړ ستاينوم						
gewollt	gesollt	gemusst	gedurft	Gekonnt	gewollt	gemocht
Konjunktiv II – دويم انشايي						
wollte	sollte	müsste	dürfte	Könnte	wollte	möchte

بشپړکړ (Vollverb) :

هغه کړ (فعل) ته وايي چې کولای شي يوازې په خپله په غونډله کې خبر (اېښونی) جوړ کړي. په دې مانا چې د مرستيالکړ (کمکي فعل) په توګه آرکړ (اصلي فعل) ته اړتيا و نه لري:

Ich **lache.**	زه خاندم.
Anaargul **liest** ein Buch.	انارګل يو کتاب لولي.
Sie **spricht** Deutsch.	دا (ښځه) جرمني خبرې کوي.

په برسېرنو بېلګو کې (lachen, lesen, sprechen) د غونډلې خبر (Prädikat) جوړوي، د غونډلې بشپړه مانا وړاندې کوي او مرستيالکړ (کمکي فعل) ته هيڅ اړتيا نه لري. که چېرې ووايو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Sie hat einen Roman geschrieben.	دې (ښځې) یو رومان لیکلی دی.

په برسېرنه بېلګه کې خبر (Prädikat) له (hat… geschrieben) څخه جوړ شوی دی چې د مرستیالکړ (کمکي فعل) په مرسته سره رغېدلی. له همدې امله د (schreiben) کړ (فعل) په برسېرنه غونډله (جمله) کې بشپړ کړ نه دی.

کړ اوړون (Die Konjugation)

کړ (فعل) د وګړي (زه، ته، دی، موږ)، شمېر (مفرد، جمع) او مهال (وسمهال، بشپړ تېرمهال، راتلونکې)، دود (اخباري، انشايي، امري) او نوري (جنس) پر بنسټ اوړون (ګردان) مومي.

وسمهال (Präsens)، تېرمهال (Präteritum)، لومړی انشايي (Konjunktiv I)، دويم انشايي (Konjunktiv II) او امري (Imperativ) د کړ ساده بڼې دي. نورې بڼې يې له يوه مرستيالکړ (کمکي فعل) او د بشپړ کړ له ناوړېدلې بڼې (چې ګردان شوې نه وي) سره جوړېږي.

Präsens	Ich **lese** ein Buch.	زه یو کتاب لوم.
Präteritum	du **last** ein Buch.	تا یو کتاب ولوست.
Konj. I	Sie **habe** ein Buch **gelesen**.	ګواکي دې یو کتاب لوستلی دی.
Konj. II	ich wünschte, ich **hätte** ein Buch.	دریغه چې ما یو کتاب درلودلای.
Imperativ	**Lesen** Sie ein Buch!	یو کتاب ولولئ!

وګړيز پای (Die Personalendungen)

کله چې یو کړ (فعل) ګردان شي او د یوه وګړي لپاره یې پای تغیر ومومي، نو دغه پای ته وګړيز پای وايي. په وسمهال (حال زمانه) کې د کړ (فعل) وګړيز پای په لاندې توګه دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ich	schreibe	−**e**
du	schreibst	−**st**
er/sie/es	schreibt	−**t**
Wir	schreiben	−**en**
Ihr	schreibt	−**t**
Sie/sie	schreiben	−**en**

برسېرن وګړيز پای د موډال کړ (دودتاکي فعل) او د (Wissen, Sein) کړونو (فعلونو) لپاره نه راځي.

په کړاوړون (فعلي ګردان) کې ځینې وخت یو څه بدلونونه رامنځته کېږي:

په وسمهال کې د ځینو کړونو (فعلونو) د ستې خپلواک (د فعل د ستې واول) د دویم او دریم یوګړي (مفرد) وګړي لپاره له (e−) څخه په (i−) بدلون مومي:

Ich spr<u>e</u>che:	du spr<u>i</u>chst.	er spr<u>i</u>cht.

همداسې د (a) واول (خپلواک) په (ä) اوملوت (Umlaut) بدلون مومي:

Ich tr<u>a</u>ge:	du tr<u>ä</u>gst.	er tr<u>ä</u>gt.

هغه کړونه چې سته یې په (el−/er−) پای ته ورسېږي، (e−) په لومړي یوګړي (مفرد) وګړي کې غورځي:

läch<u>**e**</u>ln.	ich lächle

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزوري، غښتلي او ګډ کړونه

Schwache, Starke und Gemischte Verbformen

کمزوري کړونه (Schwache Verben):

د کمزوري کړ (فعل) سته واولي بدلون نه مومي، بشپړ تېر مهال يې په (te–) سره او دويم کړ ستاينوم (Partizip II) يې د (–ge) په مختاړي او د (t–) په پايتوري سره جوړېږي. دوی سمدودي (با قاعده) هم بلل کېږي.

Verb	Präteritum	Partizip II
kaufen	kauf–**te**	**ge**–kauf–**t**
lachen	lach–**te**	**ge**–lach–**t**

غښتلي کړونه (Starke Verben):

د دوی سته په بشپړ تېرمهال او دويم کړ ستاينوم (Partizip II) کې نه يوازې واولي بدلون مومي، بلکې همدارنګه په دويم کړ ستاينوم کې د (en) پايتوري هم اخلي. دوی بې قاعده هم بلل کېږي.

	Präteritum	Partizip II
spr<u>e</u>chen	spr<u>a</u>ch	**Gesproch<u>e</u>n**

غښتلي کړونه د خپل واولي بدلون (Ablaut) پر بنسټ په درې ډوله دی:

Spr<u>e</u>chen: spr<u>a</u>ch, gespr<u>o</u>chen	– چې سته يې درې ډوله واولونه (خپلواک) ولري :
Schr<u>ei</u>ben:	– چې دوه ډوله خپلواک (واولونه) ولري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

schr**ie**b, geschr**ie**ben	
Lesen: las, gelesen	– چې د بشپړ تېر مهال واول (Vokal Präteritum) او دویم کړ ستاینوم (Partizip II) یې دوه ډوله واولونه ولري.

کډ کړونه (Gemischte Verben)

دغه ډول کړونه (فعلونه) هم د کمزورو او هم د غښتلیو کړونو ځانګړتیاوې لري. دوی د خپلې ستې واول په بشپړ تېرمهال (Präteritum) او دویم کړستاینوم (Partizip II) کې بدلوي. په بشپړ تېرمهال او دویم کړستاینوم کې یې پای د کمزورو کړونو (فعلونو) په څېر دی. په دې مانا چې د غښتلیو هغوی په څېر د ستې بېلابېل واولونه (خپلواک) لري، خو په بشپړ تېر مهال کې د کمزورو کړونو (فعلونو) په څېر د (–te–) او په دویم کړ ستاینوم (Partizip II) کې د (–t) پایتوری خپلوي:

Verben	Präteritum	Partizip II
nennen	nann**te**	**ge**nann**t**
denken	dach**te**	**ge**dach**t**

وېشوړ او ناوېشوړ کړونه (Trennbare und Untrennbare Verben):

په جرمنۍ ژبه کې کېدای شي چې په یوه کړ (فعل) یو مختاړی (Präfix) ور ډېر شي او په دې سره یې مانا په بشپړه توګه بدلون ومومي. دغه مختاړی له ځینو کړونو (فعلونو) سره یو ځای او له ځینې هغوی څخه جلا لیکل کېږي. د مختاړي جلا یا یو ځای لیکل په خپله په مختاړي پورې اړه لري، خو په تولیزه (عمومي) توګه داسې ویل کېدای شي چې هغه کړونه چې مختاړي یې په خج (فشار) سره وویل یا ولوستل شي، جلا لیکل کېږي او د وېشوړ (جلا کېدو وړ) کړونو (فعلونو) په نامه یادېږي. هغوی چې مختاړي یې پرته له خج (فشار) څخه ویل کېږي، مختاړی (پېشوند) ور سره یو ځای لیکل کېږي او د ناوېشوړ کړونو (د نه جلا کېدو وړ فعلونو) په نامه یادېږي. وېشوړ (د جلا کېدو وړ) مختاړي یا پېشوندونه (Präfix) په لاندې توګه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ab–, aus–, los–, vor–, da–, hin–, an–, bei–, mit–, weg–, daran–, auf–, ein–, nach–, zu–, darauf–, hinauf–, herauf–,

هغه کړونه چې د برسېرنو مختاړيو درلودونکي دي، په ټولو ساده مهالونو (زمانو) کې– پرته له ځيرمه يا فرعي غونډلو څخه– د مختاړي او دويم کړستاينوم (Partizip II) تر منځ د (–ge–) منځتاړی خپلوي:

Anrufen	Ich **rufe** dich **an.**	Ich habe dich an**ge**rufen.

هغه کړونه (فعلونه) چې مختاړی (Präfix) يې په خج (فشار) سره و نه لوستل يا تلفظ نه شي، له خپل اړوند کړ (فعل) سره يو ځای راځي او د ويش وړ نه دي. دغه مختاړي په لاندې توګه دي:

- be–, emp–, ent–, er–, ge–, miss–, ver–, zer–

belügen	Du hast mich **be**logen.	تا ما ته دروغ ووې.
missverstehen	Ich habe dich **miss**verstanden.	زه ستا په موخه پوه نه شوم.

په برسېرنو بېلګو کې (be) له (logen) څخه او (miss) له (verstanden) څخه جلا نه شي ليکل کېدای. دوی د دويم کړستاينوم (Partizip II) په بڼه کې د مختاړي (Präfix) او کړ (فعل) تر منځ د (–ge–) منځتاړی نه خپلوي.

Ich **be**stehe die Prüfung. زه په آزموينه کې بريالی کېږم.	Ich habe die Prüfung **be**standen. زه په آزموينه کې بريالی شوم.

ځينې مختاړي (Präfix) شته چې هم له کړ (فعل) سره يو ځای او هم ترې جلا ليکل کېدای شي. که له کړ سره يو ځای وليکل شي، يوه مانا لري، خو که ترې جلا وليکل شي، بله مانا ورکوي.

durch–, hinter–, über–, unter–, um–,

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلا لیکل	یو ځای لیکل
Er **fuhr** das Schild **um.** ده (موټروان) ترافیکي اشاره ووهله.	Er **umfuhr** das Schild. دی له ترافیکي اشارې څخه په څنګ تېر شو.
Sie **redet über** dich. دا د تا په باره کې خبرې کوي.	Sie will dich **überreden.** دا غواړي چې تا رضا کړي.
Ich **fahre** bis zur Stadt **durch.** زه تر ښاره پورې پرته له درېږ څخه سیده ځم.	Die Angst **durchfährt** dich nicht. وېره اغېزه نه دربانديې کوي.
Grab deine Arroganz **unter!** خپل کبر پټ (خښ) کړه.	Sie **untergräbt** deinen Ruf. دا تا بدنامه کوي.
Du musst **hinter** mir **gehen.** ته باید زما شاته (په ما پسې) ولاړ شي.	Du hintergehst mir. ته ما غولوې (چل را سره کوې).

مهال (Das Tempus)

د دې لپاره چې پوه شو چې یو کړ (فعل) څه وخت پېښ شوی یا څه وخت پېښېږي، اړینه ده چې په یوه مهال (زمانه) کې یې څرګند کړو. کړ (فعل) کېدای شي چې په بېلابېلو مهالونو (زمانو) کې راشي، خو د دود (mood) له پلوه په درې ډوله دی:

خبري (Indikativ) : د کړ (فعل) دغه بڼه یوازې د یوه څیز شتون، یوه وینا یا یو حقیقت په وسمهال (Präsens)، تېرمهالونو (Präteritum, Perfekt, Plusquamperfekt)، او وسترمهالونو یا راتلونکي زمانو (Futur I, Futur II) کې څرګندوي.

Präsens	Ich gehe nach Hause.	زه کور ته ځم.
Präteritum	Ich fand einen Laptop.	ما یو لپټاپ وموند.
Perfekt	Ich habe ein Buch gelesen.	ما یو کتاب لوستلی دی.
Plusquamperfekt	Ich hatte dich informiert.	ما ته خبر کړی وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Futur I	Ich werde dich anrufen.	زه به تا ته تیلیفون وکړم.
Futur II	Ich werde meine Aufgaben gemacht haben.	ما به خپله دنده کړې وي. (سر ته رسولې وي)

ناخبري (Subjunktiv): د کړ (فعل) دغه بڼه د یوه څیز اړوتې (شرطي)، ګوماني، ارماني او تواني بڼه څرګندوي.

Wenn ich Geld **hätte**, **würde** ich eine Schule bauen.	که مې روپۍ درلودای، نو یو ښوونځی به جوړ کړم.

امري (Imperativ) : د امر کولو لپاره کارول کیږي.

Warten Sie!	تم شئ!
Geh zur Schule	ښوونځي ته ولاړ شه!

وسمهال (Das Präsens):

وسمهال (حال زمانه) د هغه کړن (عمل) د څرګندولو لپاره کارول کیږي چې د خبرو کولو یا په حال وخت کې پېښیږي یا تر سره کیږي.

Ich mache jetzt einen Spaziergang.	زه اوس قدم وهم.

په همدې توګه:

Morgen gehe ich nach Wardak. سبا وردکو ته ځم.	که له وسمهال سره یو ټاکلی وخت وکارول شي، راتلونکې پېښې څرګندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Afghanistan **liegt** in Asien. افغانستان په آسیا کې پروت دی.	وسمهال د یوه ټولیز (عمومي) اکر (حالت) یا حقیقت د ښرګندولو لپاره هم کارول کیږي.
Präsident Ghani **kommt** nach Deutschland. ولسمشر غني جرمني ته راځي.	په ورځپاڼو کې سرلیک په وسمهال کې رغیږي.
Du machst deine Hausaufgabe! ته خپله کورنۍ دنده کوي (وکړه)!	په وسمهال کې کېدای چې امري غونډله (جمله) هم ورغیږي.

بشپړ تېرمهال (Das Präteritum)

بشپړ تېرمهال تېر شوی چار (عمل یا کړن) ښرګندوي او په لیکوالۍ (کیسې، داستان، راپور او خبر) کې ډېره کارول کیږي. کمزوري کړونه (فعلونه) د (–te–) پایتوري او غښتلي هغوی د خپلې ستې خپلواک (واول) ته بدلون ورکوي:

	Schwaches Verb	Starkes Verb	Gemischtes Verb
	lernen	**sehen**	**denken**
ich	lernt**e**	sah	dachte
du	lern**test**	sahst	dachtest
er/sie/es	lern**te**	sah	dachte
wir	lern**ten**	sahen	dachten
ihr	lern**tet**	saht	dachtet
sie/Sie	lern**ten**	sahen	dachten

په همدې توګه د (haben, Sein) کړونه (فعلونه) د بشپړ کړ (فعل) او دودتاکي کړ (مودال فعل) په بڼه په بشپړ تېرمهال (مطلقه تېره زمانه) کې ډېر کارول کیږي. همدارنګه د (Es gibt...) ښرګندونه (اصطلاح) هم په عامه ژبه کې په بشپړ تېرمهال کې رغیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

sein	
Ich war gestern im Kino.	زه پرون په ننداري (سینما) کې وم.
Du warst letztes Jahr in Kabul.	ته تېر کال په کابل کې وې.
Er/sie/es war krank.	دی یا دا ناروغ وو/وه.
Wir waren froh.	موږ خوښ وو.
Ihr wart nicht interessiert.	تاسې لېواله نه وئ (واست).
Sie/sie waren sehr müde.	تاسې (شما) ډېر ستړي وئ (واست). دوی ډېر ستړي ول.
Es gab mal ein Laden da drüben.	یو وخت هلته یوه هټۍ وه.

haben	
Ich hatte gestern keine Zeit.	ما پرون وخت نه درلود.
Du hattest ein Auto.	تا یو موټر درلود.
Er/sie/es hatte eine rote Jacke.	ده یا دې یوه سره کورتۍ درلوده.
Wir hatten viel Arbeit.	موږ ډېر کار درلود.
Ihr hattet es eilig.	تاسې بیړه درلوده.
Sie/sie hatten keine Bücher.	تاسې (شما) کتابونه نه دلودل. دوی کتابونه نه درلودل.

بشپړ تېرمهال د سیده او ناسیده وینا د نکل لپاره هم کارول کېږي:

Sie **fragte** mich, ob ich sie begleiten kann.	دې وپوښتم که چېرې یې بدرګه کړای شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ تېرمهال (Das Perfekt)

لنډ تېرمهال (ماضي قريب) د هغه چار (عمل يا کړن) د ښکاره کولو لپاره کارول کېږي چې په لنډ تېر وخت کې سر ته رسېدلی او تر وسمهال راغځېدلی وي، يا يې اغېزه او پايله تر وسمهال پورې را رسېدلې وي او يا هم په وسمهال کې د يادښت او اهميت وړ وي. لکه: ما ډوډۍ خوړلې ده.

دلته د ډوډۍ د خوړلو اغيزه مړښت ده يا د نورې ډوډۍ له خوړلو څخه انکار دی. په عامه ژبه کې لنډ تېرمهال ډېر کارول کېږي.

Ich habe dich zwei Mal angerufen.	ما تا ته دوه ځلې تيليفون کړی دی.
Sie ist nach Kabul geflogen.	دا (ښځه) کابل ته الوت (پرواز) کړی دی.
Wir haben uns vertragen.	موږ سره سلا شوي (سوله مو وکړه) يو.
Du bist Arzt geworden.	ته ډاکتر شوی يې.
Sie haben auf uns gewartet.	دوی موږ ته تم شوي دي.

ځينې وخت لنډ تېرمهال کېدای شي چې د دويم وسترمهال (Futur II) پر ځای هم وکارول شي.

In einem Monat habe ich das Buch fertig geschrieben.
په يوه مياشت که به مې (ټول) کتاب ليکلی وي.

لاندې کړونه (فعلونه) خپل لنډ تېر مهال له **(haben)** سره جوړوي:

Ich habe **ein Glass Tee** getrunken. ما يو ګيلاس چای ښښلی دی.	ټول ليږند (Transitiv) کړونه (هغه فعلونه چې په لنډ کړي پېر کې يو کړی يا مفعول ولري).
Sie hat den **ganzen Tag** gekocht. دې ټوله ورځ پخلی کړی دی.	ټول ناليږند (Intransitiv) کړونه (چې په لنډ کړي پېر کې مفعول و نه لري) چې د يوې پېښې بهير ښکندوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Er hat **sich gewaschen.** ده خپل ځان پرېمېنځلی دی.	له غبرګون کړونو (انعکاسي فعلونو) سره
Du hast mich einladen **können.** تا کولای شوئ چې ما را وبولې.	له دودتاکو (مودال) مرستیالکړونو سره

لاندې کړونه (فعلونه) خپل لنډ تېر مهال له **(sein)** سره جوړوي:

Ich bin **verärgert.** Sie ist **angekommen.**	هغه نالېږند (Intransitiv) کړونه چې د یوه کړن پای ښيي.
Ich bin nach Hause **gegangen.**	هغه کړونه (فعلونه) چې د ځای بدلون، خوځښت او یو پرمختګ ښيي.
Wir sind hier **geblieben.**	د (bleiben) له کړ (فعل) سره

د دود تاکي کړونو لنډ تېرمهال (Das Perfekt von Modalverben)

د مودال کړونو (دود تاکي فعلونو) لنډ تېرمهال د مرستیالکړ له وسمهال، د دودتاکي کړ (مودال فعل) له کړنومي (مصدر) او د کړنومي (مصدر) له بشپړ کړ (فعل) سره جوړېږي:

Präsens	Perfekt
Ich muss duschen. زه باید ځای پرېمینځم.	Ich habe deutschen müssen. ما باید ځای مینځلی وی.
Ich soll arbeiten. ما ته ښایي چې کار وکړم.	Ich habe arbeiten sollen. ما ته ښایېده چې کار وکړم.
Ich kann schreiben. زه کولای شم چې ولیکم.	Ich habe schreiben können. ما کولای شوی چې ولیکم.
Ich will lesen. زه غواړم چې ولوم (لوست وکړم).	Ich habe lesen wollen. ما غوښتل چې ولولم (لوست وکړم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ich darf ins Kino gehen. زه اجازه لرم چې ننداري ته ولاړ شم.	Ich habe ins Kino gehen dürfen. ما اجازه درلوده چې ننداري ته ولاړ شم.

لرتېرمهال (Das Plusquamperfekt)

لرتېرمهال (ماضي بعيد) د هغه چار یا کړن لپاره کارول کېږي چې په تېر وخت کې پېښ شوی وي، خو له وسمهال (حال) سره نه اړیکه ولري او نه پرې کومه اغېزه. په ټولیزه (عمومي) توګه د داسې یوه چار یا کړن لپاره راځي چې په تېر وخت کې له یوه ټاکلي وخت څخه وړاندې یا له یوه بل چار یا عمل څخه مخکې پېښ شوی وي . لومړی پېښه یا کړن (عمل) په لر تېرمهال او دویم هغه په لنډ تېرمهال (Perfekt) یا بشپړ تېرمهال (Präteritum) کې رغېږي:

Nachdem ich die Deutsche Sprache gelernt hatte, ginge ich nach Deutschland. وروسته له دې چې جرمنۍ ژبه مې زده کړې وه، جرمني ته ولاړم.

په دغه بېلګه کې دوه چارې څرګندې شوې دي. لومړۍ چار یا کړن د ژبې زده کول او دویم هغه جرمني ته تګ دی. لومړی مې ژبه زده کړه، وروسته جرمني ته ولاړم. لومړی چار (د ژبې زده کول) په لر تېرمهال کې او دویم هغه (جرمني ته تګ) بیا په بشپړ تېرمهال کې رغېدلی دی.

Ich hatte viel gearbeitet, bevor ich mir ein Auto kaufte. مخکې له دې چې موټر واخلم، ما ډېر کار کړی وو.

په دې بېلګه کې هم دوه چارې رانغښتل شوې دي. لومړی د کار کول او دویم هغه د موټر اخیستل دي. لومړی مې کار وکړ، وروسته مې موټر واخیست. له همدې امله لومړی کړن په لر تېرمهال او دویم هغه په بشپړ تېرمهال یا لنډ تېرمهال کې څرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لر تېرمهال د (haben, sein) د مرستيالکړ (کمکي فعل) په بشپړ تيرمهال او د آر کړ (اصلي فعل) په دويم کړستاينوم (Partizip II) سره رغېږي.

د (haben) له مرستيالکړ (کمکي فعل) سره:

Ich **hatte** dich sehr gemocht, bevor du mein Auto gestohlen hast/stahlst. مخکې له دې چې زما موټر غلا کړې، پر ما ډېر ګرانه وې.
Sie **hatte** gerade das Essen vorbereitet, da kam ich rein. کله چې دې ډوډۍ تياره کړې وه، زه د ننه راغلم.

د (sein) له مرستيالکړ (کمکي فعل) سره:

Ich **war** schon **gereist** als du bei uns **anriefst.**	کله چې تا موږ ته تيليفون وکړ، زه په سفر تللی وم.
Wir **waren** sehr gespannt **gewesen.**	موږ ډېر لېواله شوي وو.

Das Futur راتلونکې زمانه

لومړی وسترمهال (Das Futur I)

لومړی وسترمهال (راتلونکې زمانه) د هغه چار يا کړن لپاره کارول کېږي چې په راتلونکي کې تر سره يا پېښېږي: زه به حج ته ولاړ شم، تاسې به سبا ته په آزموينه کې برخه واخلئ، دوی به کتاب ولولي.

لومړی وسترمهال (راتلونکې زمانه) د (werden) مرستيالکړ (کمکي فعل) په مرسته د بشپړ کړ (فعل) له کړنومي (مصدر) سره جوړېږي:

Subjekt + werden (konj.) + Verb (Infinitiv)	
Ich **werde** arbeiten.	زه به کار وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Du **wirst** arbeiten.	ته به کار وکړې.
Er/sie/es **wird** arbeiten.	دی یا دا به کار وکړي.
Wir **werden** arbeiten.	موږ به کار وکړو.
Ihr **werdet** arbeiten.	تاسې به کار وکړئ.
Sie/sie **werden** arbeiten.	تاسې/ دوی به کار وکړئ/ وکړي.

کله چې د (werden) مرستیالکړ (کمکي فعل) له کړنومي (مصدر) سره راشي، کېدای شي چې د یوه چار یا کړن (عمل) په اړه ګومان رامنځته کړي یا په ټینګار سره یوه بلنه او غوښتنه څرګنده کړي:

Anaargul **wird** nicht mehr das Auto so schnell fahren.
انارګل به بیا موټر دومره تېزه و نه چلوي.

په دغه بېلګه کې له آره یو ګومان څرګند شوی. دا چې انارګل به په رېښتیا موټر تېز وچلوي که نه، په بېشړ باور سره نه شي ویل کېدای، خو ویناوال په دې اند دی چې انارګل به نور موټر ورو-ورو وځغلوي.

Du **wirst** nie im Leben hier spielen.
ته به بیا په ژوند کې دلته لوبه و نه کړې!

ویناوال په زغرده یا ټینګار سره وایي یا له مخاطب څخه غواړي چې بیا دلته لوبه و نه کړي.

په غونډله (جمله) کې د (wohl, sicher, bestimmt) کلمو په راوړلو سره ګومان یا ډاډ نور هم غښتلی کېږي:

Sie wird **wohl** nicht mehr zu Hause sein.
دا به شاید نوره په کور کې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم وسترمهال (Das Futur II)

دويم وسترمهال (راتلونکی) د هغه کړن يا چار د ځرګندولو لپاره کارول کيږي چې په راتلونکي مهال کې به په يوه ټاکلي وخت يا له يوه بل کړن (عمل) يا چار څخه مخکې سر ته رسېدلی وي. ځينې ژبپوهان هرګوره په دې اند دي چې دويم وسترمهال له آره د يوه چار په اړه د شک يا ګومان د ځرګندولو لپاره کارول کيږي. که ووايو چې:

Wir werden gegessen haben, wenn Ihr kommt.	تر څو چې تاسې راځئ، موږ به ډوډۍ خوړلې وي.
Ich werde mich bis nächstes Jahr verlobt haben	تر بله کاله به مې کوژده کړې وي.

په برسېرنه لومړۍ بېلګه کې دوه عملونه ځرګند شوي دي. لومړی چار راتګ دی او دويم هغه د ډوډۍ خوړل. په دويمه بېلګه کې له يوه ټاکلي وخت څخه وړاندې د کوژدې کول يا يې کېدون (امکان) ته نغوته شوې ده. دواړه بېلګې يو ګومان ځرګندوي. دا هرګوره مالومه نه ده چې هرو مرو به دواړه عملونه سر ته رسېږي.

دويم وسترمهال په ورځنيو خبرو اترو يا عامه ژبه کې ډېر کم کارول کيږي. د دې پر ځای لنډ تېرمهال د وخت له يادولو سره (ژر تر ژره، سبا، بله مياشت، بل کال ته) کارول کيږي.

Nächstes Jahr werden alle NATO Truppen aus Afghanistan abgezogen haben. Nächstes Jahr sind alle NATO Truppen aus Afghanistan abgezogen. راتلونکي کال ته به ټولې ناټو لښکرې له افغانستان څخه وتلې وي.

دواړه غونډلې يوه مانا لري. لومړۍ غونډله په دويم وسترمهال کې او دويمه هغه په لنډ تېرمهال کې د وخت له يادولو سره رغېدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم وسترمهال د (werden) مرستيالکړ (کمکي فعل) په وسمهاله بڼه، د آر کړ (فعل) په دويم کړستاينوم (Partizip II) او د (haben, sein) د مرستيالکړونو له کړنومي (مصدر) سره جوړېږي:

Ich werde gelesen haben, wenn du kommst.	ته چې راځې، ما به لوست کړی وي.
Du wirst in Juli gereist sein.	ته به په جولای کې تللی (سفر شوی) وې.
Sie wird bis Mitternacht da sein.	دا به تر نيمې شپې دلته (راغلې) وي.
Wir werden wohl verrückt sein wenn wir das machen.	موږ به شايد لېوني وو، که مو دا کار وکړ
Sie/sie werden wohl was gekocht haben.	تاسې يا دوی به شايد يو څه پخ کړي وي.

په برسېرنو بېلګو کې (werden, sein) په وسمهال کې اوړون مونډلی (ګردان شوی)، آر کړ (اصلي فعل) په دويم کړستاينوم (Partizip II) او (haben, sein) د کړنومي (مصدر) په بڼه راغلي دي.

	Schwaches Verb کمزوری کړ	Starkes Verb غښتلی کړ
Ich	werde studiert haben ما به زده کړه کړې وي.	werde gelesen haben ما به لوست کړی وي.
Du	wirst studiert haben تا به زده کړه کړې وي.	wirst gelesen haben تا به لوست کړی وي.
Er/sie/es	wird studiert haben ده يا دې به زده کړه کړې وي.	wird gelesen haben ده يا دې به لوست کړی وي.
Wir	werden studiert haben موږ به زده کړه کړې وي.	werden gelesen haben موږ به لوست کړی وي.
Ihr	werdet studiert haben تاسې به زده کړه کړې وي.	werdet gelesen haben تاسې به لوست کړئ وي.
Sie/sie	werden studiert haben	werden gelesen haben

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې یا دوی به لوست کړئ وي،	تاسې یا دوی به زده کړه کړې وي.	

لکه وړاندې چې وویل شول، دویم وسترمهال (Futur II) کېدای شي چې لکه لومړی وسترمهال (Futur I) د یوه ګومان د څرګندولو یا د یوې ټینګاري بلنې یا غوښتنې لپاره هم وکارول شي:

Spingul ist noch nicht da. Er wird den Flug verpasst haben. سپین ګل تر اوسه نه دی راغلی، دی به هرو مرو له الوتکې څخه پاتې شوی وي. (ګومان)
Sie werden bis morgen das Auto repariert haben. تر سبا پورې مو باید موټر جوړ کړی وي. (په ټینګار سره غوښتنه)

Konjunktiv ناخبري

ناخبري (انشايي، ګوماني) د کړ (فعل) داسې یو دود دی چې په ټولیزه توګه د ګومان او کېدون (امکان) د څرګندولو او همدارنګه د ناسیده وینا د نکل لپاره کارول کېږي.

لومړی ناخبري (Konjunktiv I):

لومړی ناخبري په ټولیزه توګه د نقل قول یا د نورو کسانو د خبرو او وینا د راوړلو لپاره کارول کېږي.

Lilly sagte, dass sie nicht nach Hause kommen **könne**.	لیلي وویل چې ګواکي دا نه شي کولای چې کور ته راشي.
Er meinte, dass er immer noch zur Universität **gehe**.	دی وایي چې ګواکي لا اوس هم پوهنتون ته ځي.
Ana sagt, sie **sei** krank.	انه وایي چې ګواکي ناروغه ده.
Marcel sagte, er **habe** kein Geld.	مرسیل وویل چې ګواکي دی روپۍ نه لري.

سربېره پر دې، لومړی ناخبري (Konjunktiv I) په لاندې حالتونو کې هم کارول کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Fried<u>e</u> sei mit dir!	اسلام علیکم!	مذهبي ویناوو کې
Er leb<u>e</u> hoch!	تل دې سرلوړی وي!	د هيلو ځرګندولو لپاره
Man nehm<u>e</u> 100 g Zucker, 200g Mehl.	سړی 100 ګرامه بوره، 200 ګرامه اوړه....اخلي.	د ډاکترانو د نسخو یا د پخلنځي لپاره
Gegeben **<u>sei</u>** eine Strecke zwischen zwei Punkten: a und b	د دوو ټکو A او B تر منځ واټن راکړل شوی دی.	په رياضي یا حساب کې

د لومړي ناخبري (Konjunktiv I) جوړول:

لومړی ناخبري له کړ ستې (د فعل له ستې) سره جوړېږي. د (er/sie/es) یا دریم وګړي لپاره چې کله ناخبري جوړوو، یوازې له کړنومي (مصدر) څخه (n–) غورځوو:

Verben	Rufen	Schreiben	Laufen	Hören
er/sie/es	ruf<u>e</u>	schreib<u>e</u>	lauf<u>e</u>	Hör<u>e</u>

په لومړي ناخبري کې د دویم وګړي (du, ihr) وګړیز پای د خبري (Indikativ) په څیر دی. یوازینی توپیر یې دا دی چې په ناخبري کې د کړستې (د فعل له ستې) څخه وروسته (e–) راځي:

Verben	**Rufen**	**Schreiben**	**Laufen**	**Hören**
du	ruf<u>e</u>st	schreib**<u>e</u>st**	lauf<u>e</u>st	Hör<u>e</u>st
ihr	ruf<u>e</u>t	schreib<u>e</u>t	lauf<u>e</u>t	Hör<u>e</u>t

د لومړیو وګړو (مفرد او جمع) (ich, wir, sie/Sie) د لومړی ناخبري (Konjunktiv I) او خبري (Indikativ) وګړیز پای کوم توپیر نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Indikativ	**Konjunktiv I**
ich	ruf**e**	Rufe
Wir/sie/Sie	rufen	Rufen

له همدې امله (ich, wir, sie/Sie) ته دويم ناخبري (Konjunktiv II) کارول کيږي.

	Konjunktiv II
Ich	**hätte** gerufen/**würde** rufen.
Wir/Sie/sie	**hätten** gerufen/**würden** rufen.

د لمړي ناخبري په بڼه د (sein, haben) د مرستيالکړونو (کمکي فعلونو) اوړون او وګړيز پای:

Bildung des Konjunktives I		
	Sein	**Haben**
ich	sei	Habe
du	seist	Habest
er/sie/es	sei	Habe
wir	seien	Haben
ihr	seiet	Habet
sie/Sie	seien	Haben

که چيرې د لمړي ناخبري(Konjunktiv I) بڼې له وسمهال (Präsens) سره نه توپير کيږي، نو بايد دويم ناخبري (Konjunktiv II) وکارول شي.

Maja sagte, ich **habe** keine Zeit für sie.	ميه وايي چې ګواکي زه د دې لپاره وخت نه لرم. دغه بېلګه که څه هم چې په ناخبري کې ده، خو د خبري سره کوم توپير نه لري. له همدې امله بايد په دويم ناخبري کې وليکل شي.
Maja sagte, ich **hätte** keine Zeit für sie.	

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم ناخبري (Konjunktiv II)

دويم ناخبري په ټوليزه توګه د خيال يا تصور، هيلو او هغو ارمانونو د څرګندولو لپاره کارول کيږي چې په لاس راوړل يا سر ته رسول يې په حال وخت يا د خبرې کولو په وخت کې کېدون (امکان) و نه لري. همداسې کېداى شي چې د ناسيده وينا د نکل (غير مستقيم نقل قول) او يا په هغو غونډلو کې راشي چې ډېر درنښت پکې څرګند شوى وي. په ټوليزه توګه په لاندې حالتونو کې کارول کيږي:

د هيلې او ارمان څرګندول: په لاندې بېلګه کې د موټر درلودلو يوه هيله او يو ارمان څرګند شوى دى. خو زه موټر نه لرم. همداسې يې دويمه بېلګه در واخلئ. زه پيلوټ نه يم، خو کاشکې چې واى.

Ich **wünschte**, ich **hätte** ein Auto.	دريغه (کاشکې) چې يو موټر مې درلودلاى.
Ich **wünschte**, ich **wäre** Pilot.	دريغه (کاشکې) چې زه پيلوټ واى.

د ناريښتيني (غير واقعي) حالت څرګندول:

Wenn ich Arzt **wäre**, **würde** ich armen Menschen helfen.	که زه ډاکتر واى، له نېستمنو خلکو سره به مې مرسته کړې واى.
Wenn er du **wäre**, **hätte** er viel Geld.	که دى ته واى، ډېرې روپۍ به يې درلوداى.

په ډېر درنښت او احترام يوه غوښتنه :

Wärst du so freundlich, mir eine Tasse zu geben.	دومره مهربانه شه ما ته يوه پياله راکړه.
Könntest du mir bitte ein Glass Tee geben?	کولاى شې چې مهربانې وکړې، ما ته يو ګيلاس چاى راکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ناسیده وینا نکل (غیر مستقیم نقل قول):

Anaargul sagt, du **müsstest** schneller arbeiten.	انارګل وایي چې ته باید چټک کار وکړې.
Lisa sagte, sie **wäre** lieber zu Hause.	لیزا وویل چې ښه به دا وی چې په کور کې وای.

په (als ob) سره د یوه ناریښتیني اکر (حالت) پر تله کول:

Du sahst so aus, **als ob** du müde **wärst.**	ته داسې ښکارېدې لکه چې ستړی وې.

ته یوازې داسې ښکارېدې لکه چې ستړی وې، خو ستړی نه وې. دغه ناریښتیني پرتله کېدای چې په (als ob) یا یوازې په (als) سره ورغبرېږي. که مله غونډله (فرعي جمله) په (als ob) راشي، نو اوړېدلی کړ (ګردان شوی فعل) (wärst) د غونډلې په پای کې راځي. (برسېرنه بېګله وګورئ). که چېرې پرتله یوازې په (als) سره پیل شي، اوړېدلی کړ (wärst) وروسته له (als) څخه راځي:

Du sahst aus, **als wärst** du müde.	ته داسې ښکارېدې لکه چې ستړی وې.

دغه ډول ناریښتیني پرتله کول کېدای شي چې په لومړي ناخبري (Konjunktiv I) سره هم جوړ شي:

Du sahst aus, als **seiest** du müde.	ته داسې ښکارېدې لکه چې ستړی وې.

د دویم ناخبري (Konjunktiv II) جوړول په مهال پورې اړه لري چې د وسمهال او که تېرمهال چار څرګندول غواړو. دوی کېدای شي چې د کړ (فعل) له ساده (Synthetisch) بڼې او یا د (würde) بڼې په مرسته جوړ شي. د وسمهال ساده بڼه یې په لاندې توګه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Synthetisch **ساده بڼه**	Ich **wäre.**	زه به وم (وای).
	Du **hättest.**	تا به درلودای.
	Wir **sprächen.**	موږ به غږېدو (و به غږېږو).

هغه کړونه (فعلونه) چې خبري بشپړ تېرمهال (Präteritum Indikativ) يې د دويم ناخبري (Konjunktiv II) په څېر دی، دويم ناخبري يې د (würde) په مرسته سره جوړيږي:

Präteritum Indikativ	Ich ginge	دا چې دواړه بڼې يو ډول دي، نو د سهوې دمخنيوي په موخه بايد د (würde) په بڼه ورغېږي.
Würde–Form	Ich ginge.	
Konjunktiv II	Ich **würde** gehen	زه به ولاړ شم . (هيله)

د دويم ناخبري په بڼه تېر حالت په (haben, sein +Partizip II) سره رغېږي:

Ich **wäre gelaufen.**	ما به منډه کړې وای.
Du **hättest** die Prüfung **bestanden.**	ته به په آزموينه کې بريالی شوی وای.
Wir **hätten** ein Buch **gelesen.**	موږ به يو کتاب لوستلی وای.

Der Imperativ امري

د جرمنۍ ژبې په پېښويه (ګرامر) کې د دود له پلوه د کړ (فعل) بله بڼه امري بڼه ده چې د غوښتنو، امرکولو، سپارتېښتنو، مشورو او بلنو لپاره کارول کيږي.

Dusch!	Geh was essen!	Gehen Sie bitte langsam!
امر : ځان پرېمينځه!	سپارښتنه: ولاړ شه يو څه وخوره!	هيله: مهرباني وکړئ لږ ورو ځئ!

امري بڼه په دريو ډولونو سره راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

du	Ihr	Sie
warte! تم شه!	wartet! تم شئ!	Warten Sie! تم شئ (درنبنت)!

کله چې د (du, ihr) له نومځري (ضمير) سره امري غوندله جوړوو، يوازې کړ (فعل) يې اوړون مومي، خو د (du, ihr) نومځرى په خپله غورځي. د (du) په بڼه کې ان د کړ وګړيز پاى (−st) هم غورځي. د (Sie) په بڼه کې هرګوره له کړ سره د (Sie) نومځرى (ضمير) هم راځي.

Du	Ihr	Sie
Schreib! وليکه!	Schreibt! وليکئ!	Schreiben Sie! تاسې يې وليکئ!

ځينې ژبپوهان په دې اند دي چې امري بڼه کېداى شي چې د (wir) په ملګرتيا هم ورغېږي:	
Warten wir!	تم کېږو! (راځئ چې تم شو!)
Gehen wir!	ځو به! (راځئ چې ځو!)

د دويم يوګړي (مفرد) وګړي د امري بڼې د جوړولو لپاره لاندې ټکي بايد په پام کې ونيول شي.

Du fährst.	Fahr!	په بېدوده کړونو (بې قاعده فعلونو) کې د دويم يوګړي (مفرد) شخص (Umlaut) غورځي:
Läch**eln**	Lächle!	هغه کړونه چې سته يې په (−eln, −ern, −nen, −ig) او هغوى چې سته يې په يو بې غږ (کانسوننت) چې له (−n, −m) سره راشي، امري بڼه يې په پاى کې د (−e) توری خپلوي.
Leug**nen**	Leugne!	
Öff**nen**	Öffne!	
At**m**en	Atme!	

(c) ketabton.com: The Digital Library

Bit**t**en	Bitt**e**!	همدارنګه هغه کړونه چې سټه یې په (–d, –t) پای وموميٍ،
Re**d**en	Rede!	ډیر هغوی یې په امري بڼه کې د (–e) توری خپلوي.

کړنومی (Der Infinitiv)

کړنومی (مصدر) یو ناپایه کړن څرګندوي. یا په بله وینا، کړنومی د کړ (فعل) آره بڼه ده چې د شمېر، مهال او نوري (جنس) پر بنسټ نه وي اوړېدلې یا ګردان شوې. لکه په پښتو ژبه کې چې خوړل، لوستل او لیکل یو کړنومی (مصدر) دی او اوړون یې نه دی موندلی، په همدې توګه یې په جرمنۍ ژبه کې هم در واخلئ. په جرمنۍ ژبه کې کړنومی په (–en, –n) سره پای ته رسېدلی وي.

Lach***en***, Les***en***, Vergess***en***, verhinder***n***, alter***n***

کړنومی (مصدر) کېدای شي چې یوازې او یا له (zu) سره راشي. په لاندې حالتونو کې یوازې راځي:

Ich kann schwimmen. Du musst ruhig sein.	زه کولای شم چې لامبو ووهم. ته باید کرار اوسې.	وروسته له دود ټاکي مودال کړ (فعل) څخه
Sie hat schwimmen können.	دې کولای شوی چې لامبو ووهي.	له مرستیالکړ سره په لنډ او لر تېرمهال کې

کړنومی (مصدر) له هغو کړونو (فعلونو) سره هم پرته له (zu) څخه راځي چې زموږ له حس سره تړاو ولري لکه لیدل او اورېدل:

Ich **sah** dich Auto **fahren**.	ما ته ولیدې چې موټر دې چلوه.
Ich **hörte** sie laut **lachen**.	ما دا واورېده چې په لوړ غږ یې خندل.

په همدې توګه له هغو کړون (فعلونو) سره چې یو خوځښت څرګندوي، کړنومی (مصدر) پرته له (zu) څخه راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ich **gehe** einkaufen.	زه په سودا اخیستلو پسې ځم.
Anaargul **läuft** Hilfe holen.	انارګل ځي چې د چا مرسته راوړي (وغواړي).
Ana **kommt** uns besuchen.	انه راځي چې موږ ووینې (زموږ میلمنه شي).

د (helfen, lernen, lehren, bleiben, lassen) له کړونو (فعلونو) څخه وروسته هم کړ (فعل) د کړنومي (مصدر) په بڼه پرته له (zu) څخه راځي:

Ich helfe dir beim **<u>Lernen</u>**.	په زده کړه کې درسره مرسته کوم.
Du **<u>bleibst</u>** hier stehen.	همدلته ولاړ (دربدلی) پاتې شه.
<u>Lass</u> es dir schmecken.	پرېږده چې مزه درکړي (ښه اشتها).
Sie **<u>lehrt</u>** mir Schwimmen.	دا ما ته لامبو را زده کوي.

که چېرې له کړنومي (مصدر) سره په غونډله کې نور بشپړاند توکي لکه کړی (مفعول) او یا کړول (قید) هم راشي، کېدای شي چې له (lernen, lehren, helfen) سره (zu) هم راشي:

Ich kann dir auch **<u>helfen</u>**, dein Auto **<u>zu</u>** reparieren.	زه هم کولای شم چې د موټر په جوړولو کې درسره مرسته وکړم.
Sie **<u>lehrt</u>** mir am Computer **<u>zu</u>** spielen.	دا ما ته په کمپیوټر کې لوبې را زده کوي.
Du **<u>lernst</u>** Suppe **<u>zu</u>** kochen.	ته د آش پخول زده کوې.

په برسېرنو بېلګو کې بشپړاند توکي (dein Auto, am Computer, Suppe) دي چې له کړنومي (مصدر) سره یو ځای راغلي دي.

ځینې کړونه (فعلونه) که له (zu) سره راوړل شي، یوه مانا ورکوي او پرته له (zu) څخه بله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ	بېلګه	مانا
Haben لرل	Du **hast** ein Auto.	ته یو موټر لرې (ملکیت)
	Du **hast** zu verschwinden.	ته باید ورک شي (باید له دې ځایه ولاړ شې)
Sein استېدل	Das **ist** deine Aufgabe.	دا ستا دنده ده (استېدل)
	Diese Aufgabe **ist** zu machen.	دغه دنده باید هرو مرو وکړل شي (باید، هرو مرو)
Scheinen ځلېدل	Die Sonne **scheint**.	لمر ځلیږي (ځلېدل)
	Du **scheinst** müde **zu** sein.	ته ستړی غوندې ښکارېږې. (ښکارېدل)
Brauchen اړتیا درلودل	Er **braucht** ein Auto.	دی موټر ته اړ دی. (اړتیا)
	Er **braucht** sich keine Sorge **zu** machen.	دی باید دومره غم و نه کړي. (ضرور نه ده)
Pflegen پالل	Anna **pflegt** ihren Vater.	انه خپل پلار پالي. (پالل)
	Anna **pflegt** jeden Tag Sport **zu** machen.	انه هره ورځ سپورت کوي. (د یوه کار کول په پرله پسې بڼه)
Wissen پوهېدل	Nicole **weiß** es.	نیکول پوهیږي. (پوهه)
	Nicole **weiß** nicht sich **zu** helfen.	نیکول نه شي کولای چې له ځان سره مرسته وکړي. (توان)
Verstehen درک کول	Sie **versteht** mich nicht.	دا ما نه شي درک کولای. (درک)
	Ich **verstehe** mit ihr um**zu**gehen	زه کولای شم چې له دې سره ګوزاره وکړم. (توان)
Gedenken پر زړه کول	Wir gedenken der Opfer.	موږ د مړو په اړه دعا کوو. (یادول)
	Was **gedenkst** du mit deinem Auto **zu** machen?	څه پلان لرې چې له موټر سره یې دې وکړې؟ (پلان لرل)
Kommen راتلل	Anaargul **kommt** nach Hause.	انارګل کور ته راځي .(راتګ)
	Wir **kommen** auf ihn **zu**	موږ به د دې په باره کې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

	sprechen.	وکړو. (یادول)
Bekommen لاسته راوړل	Du **bekommst** ein Geschenk.	ته یوه ډالۍ لاسته راوړې. (لاس ته راوړل)
	Sie **bekommt** meine Liebe **zu** spüren.	دا به زما مینه احساس کړي. (امکان درلودل، احساسول)

Der Infinitiv mit Zu

له کړنومي (مصدر) سره د (zu) کارول:

له هغو قاعدو او بېدويی (استثنا) څخه پرته چي کړنومی (مصدر) له (zu) سره نه راځي، په ټوليزه توګه په نورو حالتونو کي له کړنومي (مصدر) سره (zu) راځي. سربېره پر دې د ښه ترا سپړنې لپاره د يو څو لاربښوونو راوړل اړين دي.

په مله غونډله (فرعي جمله) کې: کله چې په آره غونډله (اصلي جمله) کې کړند (فاعل) ياد شوی وي او مله غونډله (فرعي جمله) کړند (فاعل) و نه لري، کړنومی (مصدر) له (zu) سره راځي:

Ich hoffe, die Prüfung <u>**zu**</u> bestehen.

په دغه بېلګه کې له کامې څخه وروسته مله غونډله (فرعي جمله) راغلې ده چې په خپله کړند (فاعل) نه لري، خو کړند يې په آره غونډله (اصلي جمله) کې راغلی دی. همداسې کېدای شي چې د هغې ملې غونډلې پر ځای چې په (dass) سره پيل شوې وي، کړنومی (مصدر) له (zu) سره راشي. په دې اکر کې د (Dass-Satz) غونډله له منځه ځي او اوډون (جوړښت) يې بدلون مومي:

Wir hoffen, **dass** wir nächste Woche nach Afghanistan fliegen.

په لاندې بېلګه کې به د (dass-Satz) غونډله په بل ډول وليکو او (dass) به ترې وغورځوو:

Wir hoffen, nächste Woche nach Afghanistan <u>**zu**</u> fliegen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغو غونډلو کې چې يو تصميم ښرګند شوی وي، کړنومی (مصدر) له (zu) سره راځي:

Ich habe vor, nach Afghanistan **zu** fliegen.

ما تصميم دی نيولی چې افغانستان ته والوزم (پرواز وکړم).

که چېرې کړنومی (مصدر) له وېشوړ (د جلا کيدو وړ) کړ (فعل) څخه جوړ شوی وي، (zu) د مختاړي او کړ (فعل) تر منځ راځي:

Trennbare Verben– ويشوړ کړونه	
Ich freue mich, dich wieder**zu**sehen.	زه خوښ يم چې بيا دې وينم.
Wir sind bereit um**zu**ziehen.	موږ تيار يو چې کډه وکړو.

په برسېرنه بېلګه کې (wiedersehen) يو ويشوړ کړ (فعل) دی چې له (wieder) او (sehen) څخه جوړ شوی دی. د (zu) په راوړلو سره کړ (فعل) په خپلو دوو برخو وېشل کيږي او (zu) يې په منځ کې راځي. همداسې يې د (umziehen) کړ درواخلئ.

Das Partizip کړستاينوم

کړستاينوم هغه ويی (کلمه) ده چې ځينې ځانګړتياوې د کړ (فعل) او ځينې هغوی د ستاينوم (صفت) ولري. په ټوليزه توګه د ستاينوم (صفت) او نابشپړو غونډلو (نيمه جملو) پر ځای کارول کيږي.

Verben		Partizipien	
schlafen	ويده کېدل	**schlafend**	ويده (د خوب په حال کې)
weinen	ژړل	**weinend**	ژړاند (د ژړا په حال کې)
brechen	ماتول	**gebrochen**	مات
nerven	قهرول	**genervt**	په قهر

(c) ketabton.com: The Digital Library

Das Baby, **das gerade schläft**, ist mein Sohn.

Das **schlafende** Baby ist mein Sohn.

د لومړۍ غونډلې (جملې) د نيمې برخې (das gerade schläft)، پر ځای په دويمه غونډله کې يوازې د (schlafend) کړستاينوم راغلی دی. د دواړو غونډلو (جملو) مانا هرګوره يوه ده.

په جرمنۍ ژبه کې دوه ډوله کړستاينومونه شتون لري چې د لومړي کړ ستاينوم (Partizip I) او دويم کړستاينوم (Partizip II) په نامه سره يادېږي.

لومړی کړستاينوم (Partizip I)

لومړی کړستاينوم چې د وسمهال کړستاينوم (Partizip Präsens) په نامه هم يادېږي، په وسمهال کې کارول کيږي. د جوړښت لپاره يې پر کړ ستېه (د فعل ستېه) د (end–) وروستاړی (پسوند) ور ډېرېږي:

singen	lachen	Lesen
sing<u>**end**</u> د سندرو ويلو په حال کې	lach<u>**end**</u> خنداند	les<u>**end**</u> د لوست په حال کې

هغه کړونه (فعلونه) چې په (–eln, –ern) سره پای ته رسيږي، د کړستاينوم د جوړولو لپاره يې پر پای يوازې د (–nd) وروستاړی ور ډېرېږي.

lächeln	zögern
läche**lnd**	zöge**rnd**

لومړی کړستاينوم (Partizip I) کېدای شي چې د ملې غونډلې (فرعي جملې) يا د غونډلې د يوې برخې پر ځای يا هم د لنډ ستاينوم په توګه وکارول شي. په دې ډول غونډلو کې په ټوليزه توګه دوه چاره همهمال يا يو ځای پېښيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Das Mädchen, **<u>das weint</u>**, sucht ihre Puppe. دا نجلۍچې ژاړي، خپله لانځکه لټوي.	Das **weinende Mädchen** sucht ihre Puppe. ژړېدونکې نجلۍ خپله لانځکه لټوي.
Die Vögel, **<u>die so schön singen</u>**, kommen aus Osten. دا مرغیانې چې ښکلې سندرې بولي (چغېږي)، له ختیځ څخه راځي.	Die schön **singenden** Vögel kommen aus Osten. ښکلې سندربولې (چغېدونکې) مرغۍ له ختیځ څخه راځي.
Das Kind, **<u>das laut schreit</u>**, rennt nach Hause. دا ماشوم چې په لوړ غږ ژاړي، د کور پر لور ځغلي.	Das **laut schreiende Kind** rennt nach Hause. په لوړ غږ ژړېدونکی ماشوم د کور پر لور ځغلي.

په برسېرنو بېلګو کې ملې غونډلې (فرعي جملې) چې خط ترې لاندې اېستل شوی دی، پر ځای یې په ښۍ خوا کې یوازې کړستاینوم راغلی دی. د دواړو غونډلو مانا هرګوره یو ډول ده. او لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، په غونډلو کې دوه چاره هممهال سر ته رسېږي:

ماشوم ژاړي او د کور پر لور ځغلي.

لنډ کړستاینوم کېدای شي چې د کړول (قید) په توګه هم راشي او په خپله دغه بڼه سره د کړ (فعل) یا یوه بل ستاینوم (صفت) په اړه نور مالومات راکړي یا یې نور هم وستایي:

Anna geht immer **<u>lächelnd</u>** nach Hause.
انه تل په موسکا سره د کور پر خوا درومي.

کله چې لومړی کړستاینوم (Partizip I) له کړ (فعل) ورسته راشي، لکه په برسېرنه بېلګه کې، نه ګردان کېږي. خو که چېرې له نوم څخه وړاندې راشي، نو اوړون (ګردان) مومي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nominativ کړند پېر (فاعلي حالت)	Der **singende** Vogel ist wieder da. سندربوله مرغی بیا دلته ده.
Akkusativ لنډ کړی پېر (بي واسطه مفعولي حالت)	Ich liebe **den singenden** Vogel. زه له سندربولې مرغۍ سره مینه لرم.
Dativ لر کړی پېر (با واسطه مفعولي حالت)	Ich habe **dem singenden** Vogel einen Namen gegeben. ما سندربولې مرغی ته یو نوم ورکړی دی.

ټولې برسېرني بېلګې په چارنومپير (Aktiv) بڼه کې دي، خو که له کړستاینوم سره (zu) راوړل شي، نو د بېچار (Passiv) مانا ترې اخيستل کېږي:

Die weinende Frau ist **zu** bemitleiden.
له ژړغونې ښځې سره باید غمشریکي وشي.

لکه له ستاینوم (صفت) څخه چې نوم جوړېدای شي، همداسې کېدای شي چې له لومړي کړستاینوم څخه هم یو نوم جوړ شي:

Verb	Partizip I	Nomen
Lesen لوستل	Lesend لوستکی (شخص)	Die Lesenden لوستونکي (خلک)
Schreiben لیکل	Schreibend لیکوال	Die Schreibenden لیکوالان
Die Lesenden sind glücklicher. لوستونکي (خلک) بختورترا دي.		
Die Schreibenden haben bestimmt Spass. لیکوالان (خلک) هرو مرو ښه وخت لري.		

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم کړ ستاینوم (Partizip II)

دویم کړ ستاینوم چې د لنډ تیرمهال کړستاینوم (Partizip Perfekt) په نامه هم یادیږي، نه یوازې د ستاینوم (صفت) په توګه کارېدای شي، بلکې همداسې د کړ (فعل) په توګه د مهالونو (زمانو) په جوړولو کې هم کارول کیږي. سربېره پر دې، دویم کړستاینوم کولای شي چې د یوې غونډلې (جملې) د یوې برخې پر ځای هم راشي، لکه لومړی کړستاینوم. د ده د جوړولو لپاره د غونډلې (جملې) د کړ (فعل) ډول اړین دی، ځکه چې له کمزورو (با قاعده) کړونو (فعلونو) سره یو ډول جوړیږي، له غښتیلو (بې قاعده) هغوی سره بل ډول او له ګډو کړونو (فعلونو) سره بل ډول رغیږي:

کمزوري کړونه: کړ سته (د فعل سته) د (–ge) مختاړی او د (–t) پایتوری خپلوي:

Verb	Formel ge+کړسته+t	Partizip II
lachen	**ge** + **lach** + **t**	gelacht
fragen	**ge** + **frag** + **t**	gefragt
machen	**ge** + **mach** + **t**	gemacht

که چېرې د کړ (فعل) مختاړی (پېشوند) د جلاکېدو وړ وي، نو (–ge–) د منځتاړي په توګه د کړ ستې او مختاړي (پېشوند) تر منځ راځي او کړسته د (–t) پایتوری خپلوي:

Verb	Formel مختاړی + ge + کړسته + t	Partizip II
abfragen	ab + ge + frag + t	abgefragt
abstempeln	ab + ge + stempel +t	abgestempelt

که چېرې د کړ (فعل) مختاړی یا پېشوند (Präfix) د جلاکېدو وړ نه وي، کړسته د (–t) پایتوری خپلوي او د (–ge) مختاړی (پېشوند) ګرد سره غورځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Verb	Formel مختاړی + کړسته + t	Partizip II
besuchen	be + such + t	besucht
erzählen	er + zähl + t	erzählt
verdienen	ver + dien + t	verdient

د کمزوریو (با قاعده) کړونو (فعلونو) یو ټولی (ګروپ) په (–ieren) سره پای ته رسیږي. د دوی دویم کړستاینوم (Partizip II) هم پرته د (–ge) له مختاړي یا منځتاړي څخه رغیږي او کړسته یې د (–t) پایتوری خپلوي:

Verb	Formel کړسته + t	Partizip II
studieren	studier + t	studiert
renovieren	renovier + t	renoviert
probieren	probier + t	probiert
diskutieren	diskutier + t	diskutiert

هغه کمزوري (با قاعده) کړونه (فعلونه) چې سټه یې په (–d, –t, –m, –n) سره پای ته ورسیږي، دویم کړستاینوم (Partizip II) یې د (–ge) په مختاړي او کړسته یې د (–et) توري خپلوي:

Verb	Formel ge + کړسته + et	Partizip II
reden	ge + red+ et	geredet
arbeiten	ge + arbeit + et	gearbeitet
atmen	ge + atm + et	geatmet
rechnen	ge + rechn + et	gerechnet

(c) ketabton.com: The Digital Library

غښتلي کړونه (بې قاعده فعلونه) د (Partizip II) په جوړولو کې تل د (–en) پایتوري خپلوي، د ځینو کړونو (فعلونو) د ستې واول (خپلواک) بدلون مومي، ځینې کړونه یې د (–ge) مختاړی (Präfix) خپلوي او د ویشوړ (د جلا کېدو وړ) کړونه (فعلونه) هرګوره د (–ge–) منځتاړی اخلي:

Verb	Formel **ge + کړسته + en**	Partizip II
fahren	ge + fahr+ en	gefahren
laufen	ge + lauf + en	gelaufen

هغه کړونه (فعلونه) چې د ستې واول (خپلواک) یې بدلون مومي:

Verb	Formel **ge + کړسته + en**	Partizip II
bleiben	ge + **blieb**+ en	geblieben
schreiben	ge + **schrieb** + en	geschrieben

له ویشوړ (د جلا کېدو وړ) کړونو (فعلونو) سره:

Verb	Formel **مختاړي + ge + کړسته + en**	Partizip II
abschreiben	ab + ge + schrieb + en	abgeschrieben
abnehmen	ab + ge + nomm + en	abgenommen

له هغو کړونو (فعلونو) سره چې مختاړی یې نا ویشوړ وي (د جلا کېدو وړ نه وي) او د ستې واول یې بدلون و نه مومي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Verb	Formel مختاړی + کړسته + en	Partizip II
verfahren	ver + fahr + en	verfahren

له هغو کړونو (فعلونو) سره چې مختاړی یې ناوېشوړ او چې د ستې واول یې بدلون مومي:

Verb	Formel مختاړی + کړسته + en	Partizip II
verschreiben	ver + **schri<u>e</u>b** + en	verschrieben

ګډ کړونه (Gemischte Verben):

ګډ کړونه د دویم کړستاینوم (Partizip II) په جوړولو کې د (t–) پایتوری اخلي، د ستې واول یې بدلون مومي، ځینې کړونه یې د (–ge) مختاړی او ځینې هغوی یې بیا د (–ge) منځتاړی خپلوي.

د (–ge) له مختاړي، د (t–) له پایتوري او د ستې د واول له بدلون سره :

Verb	Formel مختاړی + کړسته + t	Partizip II
bringen	ge + **br<u>a</u>ch** + t	gebracht

له هغه کړ (فعل) سره چې مختاړی یې وېشوړ (د جلا کېدو وړ) وي:

Verb	Formel مختاړی + منځتاړی + کړسته + t	Partizip II
beibringen	bei + ge + **br<u>a</u>ch** + t	beigebracht

له هغه کړ (فعل) سره چې مختاړی یې ناوېشوړ وي (د جلا کېدو وړ نه وي):

(c) ketabton.com: The Digital Library

Verb	Formel مختاړی + کړسته + t	Partizip II
verbringen	ver + **brach** + t	verbracht

لکه مخکې چې يادونه وشوه، دويم کړ ستاينوم چې د تېرمهال د کړستاينوم په نامه هم يادېږي، په ټوليزه توګه د هغه کړن (چار) د څرګندولو لپاره راځي چې په تېر وخت کې پېښ شوی وي، حال دا چې لومړی کړ ستاينوم چې د وسمهال کړستاينوم په نامه هم يادېږي، د هغه کړن (چار) لپاره کارول کېږي چې په وسمهال کې پېښېږي:

Die **ankommenden** Gäste freuen sich auf unsere Hochzeit.	را روان مېلمانه زموږ په واده خوښي کوي. (وسمهال)
Die **angekommenen** Gäste freuen sich auf unsere Hochzeit.	راغلي ميلمانه (هغه مېلمانه چې راغلي دي، تېرمهال)، زموږ په واده خوښي کوي.

د دود ټاکي کړ دويم کړستاينوم (Das Partizip II von Modalverben)

دود ټاکی کړ (مودال فعل) د دويم کړستاينوم (Partizip II) په جوړولو کې د (-ge) مختاړی او د (t-) پايتوری خپلوي. د (müssen, können, dürfen) د کړونو (فعلونو) د ستې واول غورځي:

Verb	Formel مختاړی + کړسته + t	Partizip II
müssen	ge + muss + t	gemusst
können	ge + konn + t	gekonnt
wollen	ge + woll + t	gewollt
dürfen	ge + durf + t	gedurft
sollen	ge + soll + t	gesollt

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاروال او بېچار Das Aktiv und Passiv

ځينې ژبپوهان اوس هم په دې اند دي چې د کړ (فعل) چاروال او بېچار بڼې د يو بل عکس (سرچپه) دي، خو اړينه نه ده چې په هر اکر (حالت) کې دې دواړه بڼې د يو بل عکس وي. د غونډلې (جملې) چاروال (Aktiv) بڼه هغه ده چې کړند (فاعل) پکې مالوم وي، خو په بېچار (Passiv) کې نامالوم.

➢ سپين ګل ډوډۍ خوري.

په دې غونډله کې د ډوډۍ خوړونکی يا د دې چار (عمل) کړند (فاعل) مالوم دی چې سپين ګل دی. خو ځينې غونډلې کېدای شي چې په بيچار (مجهول) (Passiv) بڼه سره ورغېږي. لکه څنګه يې چې له نامه څخه مالومېږي، بېچار (مجهول) د هغه کړن يا عمل د ښوولو لپاره کارول کېږي چې کړند (فاعل) يې مالوم نه وي يا اړين نه وي چې ياد شي، يا هم په باخبري توګه همداسې پتېيل شوې وي (تصميم نيول شوی وي) چې د يوې غونډلې (جملې) کړند (فاعل) ياد نه شي. په همدې توګه ځينې وخت د يوه چار (عمل) د کړند (فاعل) تر يادولو دا اړينه برېښي چې په غونډله کې په خپله چار (عمل) د پام او غور وړ وګرځي، نه کړند (فاعل). له همدې امله بېچار (مجهول) کارول کېږي.

➢ انارګل وهل شوی دی.

دغه بېلګه په بېچار (مجهول) بڼه کې رغېدلې ده. دا مالومه نه ده چې انارګل چا وهلی دی او يا اړينه نه ده چې وهونکی ياد شي.

➢ انارګل ټپي دی.

په دې غونډله کې هم مالومه نه ده چې انارګل چا ټپي کړی دی يا اړينه نه ده چې بايد ياد شي. دلته هرګوره د انارګل د ټپي حالت څرګندول اړين دي. دا چې چا ټپي کړی دی، اړينه نه ده .

په جرمنۍ ژبه کې بېچار (مجهول) يا (Passiv) په دوه ډوله دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کړن (عمل) بېچار (Vorgangspassiv): کله چې مالومه نه وي چې یو کړن (عمل) چا سر ته رسولی، یا که موږ وغواړو چې په غونډله کې یو چار (عمل) د لوستونکیو د پام وړ وګرځوو، د کړن بېچار کاروو. دغه ډول بېچار په بېلابېلو مهالونو (زمانو) کې په لاندې ډول جوړېږي:

مهال Zeitform	بېلګه Beispiel
Präsens	Anaargul wird geschlagen. انارګل به ووهل شي.
Perfekt	Anaargul ist geschlagen worden. انارګل وهل شوی دی.
Präteritum	Anaargul wurde geschlagen. انارګل ووهل شو.
Plusquamperfekt	Anaargul war geschlagen worden. انارګل وهل شوی وو.
Futur I	Anaargul wird geschlagen werden. انارګل به ووهل شي (په راتلونکې زمانه کې).
Futur II	Anaargul wird geschlagen worden sein. انارګل به وهل شوی وي. (په راتلونکې زمانه کې)

د اکر بېچار (Zustandspassiv) : کله چې د یوه اکر (حالت) څرګندول اړین وي، یا په بله وینا، کله چې د یوه کړن یا چار د پایلو څرګندول اړین وي، د اکر (حالت) بېچار کارول کېږي.

Anaargul ist verletzt.	انارګل ټپي دی.

په دغه بېلګه کې دا مالومه نه ده چې انارګل چا وهلی دی یا اړینه نه ده چې کړند (فاعل) یاد شي، بلکې د انارګل د حالت څرګندول اړین دي.

ځینې کړونه (فعلونه) شتون لري چې بېچار (Passiv) یې نه شي رغېدای یا کېدون نه لري، لکه هغه کړونه چې په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) کې کړی (مفعول) و نه شي لرلای او تېرمهال یې د (sein) له مرستیالکړ (کمکي فعل) سره جوړېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mein Kumpel ist nach Afghanistan gefahren. زما ملګری افغانستان ته (په موټر کې) تللی دی.

که چېرې همدا کړ (فعل) د (haben) له مرستیالکړ سره را شي او په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) کې یو کړی (مفعول) هم ولرلای شي، نو بېچار (Passiv) یې هم جوړېدای شي.

Aktiv **چاروال**	Ich habe meinen Kumpel nach Afghanistan gefahren. ما خپل ملګری افغانستان ته په موټر کې یووړ.
Passiv **بېچار**	Mein Kumpel wurde (von mir) nach Afghanistan gefahren. زما ملګری (زما لخوا) افغانستان ته په موټر کې یووړل شو.

په برسېرنه بېلګه کې (Kumpel) په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) کې راغلی دی او د غونډلې (جملې) آړ (شرط) یې پوره کړی دی .

له غبرګونکړونو (انعکاسي فعلونو) سره هم بېچار (Passiv) نه شي جوړېدای:

Sie wäscht sich.	دا (ښځه) ځان مینځي.

ځینې کړونه سربېره پر دې چې په لنډ کړي پېر (بې واسطه مفعولي حالت) کې یو کړی (مفعول) هم لري، بیا هم بېچار (Passiv) بنه یې نه شي جوړېدای لکه له (haben, wissen, kennen) او د (es gibt...) له څرګندنې (اصطلاح) سره:

Ich **habe** einen Stift.	زه یو قلم لرم.
Er **kennt** diesen Film.	دی دغه فلم پېژني.
Sie **weiß** die Antwort.	دا په ځواب پوهیږي.
Es gibt einen Park hier.	دلته یو پارک شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چاروال (Aktiv) سره د بېچار (Passiv) بدلون:

مخکې وويل شول چې دا هرو مرو نه ده چې بېچار (Passiv) دې د چاروال (Aktiv) عکس (سرچپه) وي يا چاروال د بېچار، خو هغه غونډلې (جملې) چې په رېښتيا د يو بل عکس وي، د هغوی بدلون هم کېدونی دی . په غونډله (جمله) کې کړی (مفعول) په کړند (فاعل) بدلېږي، کړند (فاعل) غورځي او پر ځای يې د (von+Dativ) پښوييز (ګرامري) جوړښت سره سم غونډله بدلون مومي او يا کړ (فعل) له (von) سره په لرکړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) کې راځي، کړ (فعل) د دويم کړستاينوم په بڼه راځي، د (werden) مرستيالکړ له کړند (فاعل) سره سم اوړون مومي.

Aktiv – چاروال	Passiv – بېچار
Subjekt+Verb+Objekt	Objekt + werden + von + Subjekt+ (Verb)
Anaargul kauft das Auto. انارګل دا موټر پېري (اخلي).	Das Auto wird von Anaargul gekauft. موټر به د انارګل لخوا وپېرل شي.

په چاروال غونډله کې (das Auto) کړی (مفعول) دی، په بېچار غونډله کې د غونډلې په پيل کې د کړند (فاعل) پر ځای راغلی، د (werden) مرستيالکړ د کړي (مفعول) (das Auto) سره سم ګردان شوی او د چاروال غونډلې کړند (Anaargul) په بېچار غونډله کې له (von) وروسته راغلی دی. په بېچار غونډله کې د دې برخې (von Anaargul) راوړل هرو مرو نه دي. راوړل يې په دې پورې اړه لري چې آيا بايد ياد شي که نه. که چېرې يې راوړل اړين نه وي، کېدای شي چې له غونډلې وغورځول شي:

Objekt + werden + finites Verb	
Das Auto wird gekauft.	موټر به وپېرل شي.

د هغو چاروال (Aktiv) غونډلو اوړون چې کړند يې مالوم نه وي يا نه ښايي چې ياد شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

	Aktiv – چاروال	**Passiv – بېچار**
Präsens	Jemand füttert den Hund.	Der Hund wird gefüttert.
Perfekt	Jemand hat den Hund gefüttert.	Der Hund ist gefüttert worden.
Präteritum	Jemand fütterte den Hund.	Der Hund wurde gefüttert.
Plusquamperfekt	Jemand hatte den Hund gefüttert.	Der Hund war gefüttert worden.
Futur I	Jemand wird den Hund füttern.	Der Hund wird gefüttert werden.
Futur II	Jemand wird den Hund gefüttert haben.	Der Hund wird gefüttert worden sein.

که چېرې په چاروال (Aktiv) غونډله (جمله) کې په لرکړي پېر (باواسطه مفعولي حالت) کې یو کړی (مفعول) راغلی وي چې باید د غونډلې (جملې) لومړۍ برخې ته د کړند (فاعل) پر ځای راوړل شي، نو په لرکړي پېر (باواسطه مفعولي حالت) کې پاتې کېږي.

Aktiv	Man legte **dem Verletzten** einen Verband an. (یوه سړي) ټپي (کس) ته پټۍ ور کېښووه.
Passiv	**Dem Verletzten** wurde ein Verband angelegt. ټپي ته يې پټۍ ورکېښووه.

په برسېرنه چاروال (Aktiv) بېلګه کې (dem Verletzten) په لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) کې راغلی دی. په دویمه بېګله کې چې په بېچار (Passiv) بڼه کې رغېدلې ده، (dem Verletzten) د غونډلې سر ته د کړند (فاعل) پر ځای راغلی دی، خو په خپل آر پېر (اصلي حالت) یا لر کړي پېر (با واسطه مفعولي حالت) کې پاتې شوی دی.

هغه چاروال (Aktiv) غونډلې (جملې) چې کړی (مفعول) و نه لري، کېدای شي چې د (es) په ملګرتیا په بېچار (Passiv) بڼه سره واړول شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Aktiv	**Passiv**
Wir aßen gestern viel. مونږ پرون ډېر خوراک وکړ.	Es/Gestern wurde viel gegessen. پرون ډېر خوراک وشو.

(Die Konjunktion) اړیکوییکی

اړیکوییکي (د ربط توري) هغه وییکي (کلمې) دي چې په یوه غونډله (جمله) کې د کلمو غونډونه، آره او آره غونډله (دوې اصلي جملې)، آره او مله غونډله (اصلي او فرعي جمله) او دوې ملې غونډلې (فرعي جملې) سره نښلوي یا د دوی تر منځ اړیکه رامنځ ته کوي یا هم د غونډلو (جملو) د مانا د پوهېدلو لپاره د دوی تر منځ یوه منطقي اړیکه ټینګوي.

Nicole ging nach Hause, **weil** sie morgen zur Arbeit geht. نیکول کور ته ولاړه، ځکه چې سبا ته کار ته ځي.
Anaargul lebt gerne in Deutschland, **denn** er liebt Frieden. انارګل په خوښۍ په جرمني کې ژوند کوي، ځکه چې له سولې سره مینه لري.
Ich wollte gerade rausgehen, **aber** Lea hat mich aufgehalten. ما غوښتل چې د باندې ووځم، خو لېئه تم کړم.

په جرمنۍ ژبه کې اړیکوییکي (د ربط توري) په ټولیزه توګه په درې ډوله دي:

همغږکوونکي اړیکوییکي (Die Nebenordnende Konjunktion) :

دغه ډول اړیکوییکي (د ربط توري) همغږې غونډلې (اصلي جملې له اصلي او فرعي جملې له فرعي سره) او کلمې یا د غونډلو برخې سره نښلوي:

Konjunktionen	Formel und Beispiele
	…Konjunktion + **Subjekt** + **finites Verb** +**…**
aber	Ich war da, **aber du bist** nicht gekommen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	زه هلته وم، خو ته را نغلې.
denn	Ich freue mich, **denn** ich habe ein neues Auto. زه خوښ یم، ځکه چې یو نوی موټر لرم.
doch	Es ist wahr, **doch** es ist irgendwie unglaublich. دا ریښتیا ده، خو یو ډول د باور وړ نه ده.
oder	Ist das dein Buch, **oder** es ist von Anna? آیا دا ستا کتاب دی، که د انه؟
sondern	Das ist nicht meins, **sondern** es ist von Lea. دا زما نه دی، بلکې د لیئه دی.
und	Das Wetter ist heiß **und** schön. هوا توده او ښکلې ده.

تابع کوونکي اړیکوییکي (Die Unterordnende Konjunktion) :

دغه ډول اړیکوییکي (د ربط توري) چې د (Subjunktionen) په نامه هم یادېږي، بېلابېلې غونډلې (ملې غونډلې له آرو) سره نښلوي، ملې غونډلې (فرعي جملې) پیلوي او له آرې غونډلې (اصلي جملې) سره تړاو ورکوي:

Subjunktion	Formel und Beispiel
	Konjunktion + **Subjekt** + …… + **finites Verb**
als	Du warst nicht da, als ich kam. کله چې زه راغلم، ته هلته نه وې.
bevor	Sie wollte mich sehen, bevor ich gehe. مخکې له دې چې ولاړ شم، دې غوښتل چې ما ووینې.
bis	Ich warte auf dich, bis du kommst. تر هغه وخته درته تم کېږم چې ته راشې.
da	Ich war froh, da du nicht hier warst. زه خوښه وم ځکه چې ته دلته نه وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

damit	Ich bin hier, damit du Pause machst. د دې لپاره چې ته تفريح وکړې، زه دلته يم.
dass	Sie ist froh, dass du da bist. دا خوښه ده چې ته دلته يې.
eher	Ich gehe weg, eher du mich rausschmeißt. مخکې له دې چې ما وشړې، زه (لرې) ځم.
falls	Falls du kommst, koche Ich für dich. که ته راځې، زه تا ته ډوډۍ پخوم.
indem	Man kann Deutsch lernen, indem man immer übt. سړی جرمني زده کولای شي چې تل يې تمرين کړي.
nachdem	Ich wollte schlafen, nachdem du weg warst. وروسته له دې چې ته ولاړې، ما غوښتل چې ويده شم.
obwohl	Er war müde, obwohl er nichts gemacht hat. سربېره پر دې چې هېڅ يې نه وو کړي، دی ستړی وو.
seit	Seit es regnet, geht´s mir schlecht. له کوم وخت راهيسې چې باران وريږي، ښه نه يم.
seitdem	Seitdem ich in Deutschland lebe, freue ich mich. له کوم وخت راهيسې چې په جرمني کې ژوند کوم، خوښ يم.
sodass	Er ist ein guter Vater, sodass die Kinder ihn lieben. دی يو داسې ښه پلار دی چې په ماشومانو ډېر ګران دی.
solange	Sie redete die ganz Zeit, solange wir aßen. تر هغه وخته چې موږ ډوډۍ خوړه، دې ټول وخت خبرې وکړې.
sooft	Sooft sie hier kommt, fühle ich mich glücklich. ځل چې دا (ښځه) دلته راشي، ځان ډېر بختور احساسوم.
während	Das Telefon klingelte, während ich schlief. تيليفون په داسې (وخت) کې زنګ ووهه چې زه ويده وم.
weil	Wir arbeiten hart, weil wir was erreichen wollen. موږ سخت کار کوو، ځکه چې غواړو چې يو څه شي ته ورسېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

wenn	Ich sehe sie immer, wenn sie zur Uni geht. زه يې تل هغه وخت وينم چې دا پوهنتون ته ځي.
wohingegen	Ich arbeite hart, wohingegen mein Kollege faulenzt. زه سخت کار کوم، حال دا چې زما همکار لټي کوي.

اړيکوييکي کړولونه (Die Konjunktionaladverbien):

دغه ډول اړيکوييکي (د ربط توري) د کړول (قيد) په توګه راځي. توپير يې له نورو هغوی سره د نحوې يا غونډله پوهيز پلوه دی:

Subjunktion	Formel und Beispiele
	…Konjunktionaladverb + **finites Verb** + **Subjekt** + **…**
allerdings	Sie wollen ein Auto kaufen, **allerdings** haben sie kein Geld. دوی غواړي چې يو موټر واخلي، **خو** روپۍ نه لري.
also	Sie ist krank, **also** muss ich zu ihr gehen دا ناروغه ده، **نو (خی)** زه بايد د دې کره ورشم.
andererseits	Es ist zu spät, **andererseits** können wir es versuchen. ناوخته ده، **خو بيا هم** کولای شو چې هڅه يې وکړو. **(بلخوا)**
anschließend	Ich habe die Prüfung bestanden, **anschließend** habe ich in meinem Fachbereich gearbeitet. زه په آزموينه کې بريالی شوم، **له دې وروسته (سره سم)** مې په خپله ځانګه کې کار وکړ.
außerdem	Frieden ist schön, **außerdem** ist er nötig. سوله ښکلې (ښه) ده، **سر بېره پر دې** اړينه هم ده.
dabei	Du singst sehr gut, **dabei** fühle ich mich so wohl. ته ډېرې ښې سندرې وايې، **له دې سره** زه ښه احساس کوم.
dadurch	Ich gehe oft aus, **dadurch** lerne ich neue Leute

(c) ketabton.com: The Digital Library

	kennen. زه ډېر د باندې وځم، **په دې وسیله** له نویو خلکو سره پېژندګلوي کوم.
dafür	Bleib doch hier, **dafür** kriegst du ein Buch. دلته پاتې شه، **د دې لپاره** ته یو کتاب لاس ته راوړې.
dagegen	Sie ist weg, **dagegen** kann ich nichts machen. دا نشته (ولاړه)، **د دې پر ضد (وړاندې)** هېڅ هم نه شم کولای.
damit	Sie ist weg, **damit** bin ich glücklich. دا نشته (ولاړه)، **په دې سره** (د دې له تصمیم سره) زه بختور یم.
danach	Ich habe die Schule fertig, **danach** habe ich studiert. ما ښوونځی خلاص کړی دی، **وروسته** له هغې مې (فاکولته) ولوسته.
dann	Ich schriebe erst ein Gedicht, **dann** malte ich dich. ما لومړی یو شعر ولیکه، **بیا** مې ته رسم کړې.
darauf	Ich bin mit dem Studium fertig, **darauf** bin ich stolz. ما پوهنتون خلاص کړ، **په دې سره** ویاړمن یم.
darum	Sie ist Polizistin, **darum** möchte sie nicht trinken. دا پولیسه ده، **نو ځکه** نه غواړي چې (الکول) وڅښي.
davor	Dieses Jahr bin ich hier, **davor war ich** in Kanada. سږ کال دلته یم، **مخکې له دې** په کاناډا کې وم.
dazu	Kaufst du einen Laptop, **dazu** bekommst du eine Tasche. که یو لپټاپ وپېرې، **له دې سره** یو بکس (دستکول) هم په لاس راوړې.
deshalb	Er war krank, **deshalb ist er** zuhause geblieben. دی ناروغ وو، **له همدې** امله په کور کې پاتې شوی دی.
deswegen	Sie wollte mich sehen, **deswegen** ist sie hier. دې غوښتل چې ما وویني، **له همدې امله** دلته ده.
einerseits	**Einerseits** habe ich Kopfschmerzen, … **یو خوا** سرخوږی لرم، …
ferner	Das Auto ist günstig, **ferner** bekommst du noch Reifen.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	موټر ارزانه دی، **سره له دې** ټیرونه هم په لاس راوړي.
folglich	Sie ist in Afghanistan, **folglich** kannst du sie nicht sehen. دا په افغانستان کې ده، **نو ځکه** یې نه شې لیدلای.
genauso	Sie war wütend, **genauso** war ich auch. دا ډیره په قهر وه، **همداسې** زه هم (په قهر) وم.
immerhin	Das Essen war Ok, **immerhin** war es günstig. خوراک بد نه وو، **خو (لږ تر لږه)** ارزانه وو.
inzwischen	Wir müssen warten, **inzwischen** können wir lesen. موږ باید تم شو، **په عین حال** کې کولای شو چې لوست وکړو.
jedoch	Er gab sich viel mühe, **jedoch** gewann er nicht. ده ځانته ډېر زحمت ورکړ، **خو** و یې نه ګټله.
schließlich	Ich habe sie viel gesucht, **schließlich** fand ich sie zu Hause. ما دا ډیره ولټوله، **په پای کې** مې په کور کې پیدا کړه.
seitdem	Sie hat ihn verlassen, **seitdem** ärgert er sich ständig. دې (ښځې) دی پرېښود، **له هغه وخت راهیسې** دی هره شېبه قهرېږي.
später	Sie war bis Mitternacht hier, **später** ging sie nach Hause. دا تر نیمې شپې پورې دلته وه، **وروسته له هغې** کور ته ولاړه.
trotzdem	Wir haben dich gern, **trotzdem** müsst du weggehen. پر موږ ګران یې، **(خو) سربېره پر دې** باید له دې ځایه ولاړ شې.
vorher	Ich bin Mechaniker jetzt, **vorher** war ich Journalist. اوس میخانیکر یم، **مخکې له دې** ژورنالیست وم.
weder … noch	**Weder** dieses Buch **noch** das andere möchte ich haben. زه **نه** دا کتاب غواړم، **نه** دا بل هغه.
zuvor	Wir leben zurzeit hier, **zuvor** waren wir in Afghanistan.

(c) ketabton.com: The Digital Library

	موږ اوس دلته ژوند کوو، **مخکې له دې** په افغانستان کې وو.
zwar	Diese Gewürze besteht aus drei Zutaten und **zwar** aus Pfeffer, Salz und Koriander. دغه مساله له دريو شيانو څخه جوړه شوې ده **چې عبارت دي** له مرچو، مالګې او ګشنيزو.

Der Satz غونډله

غونډله (جمله) د ويو (کلمو) داسې يو غونډ (ګروپ) دی چې يوه بشړه يا خپلواکه مانا ولري. کوشنۍ ترينه غونډله هغه ده چې يو کړند (فاعل) او يو خبر (اوړېدلی فعل) ولري، خو غونډله (جمله) کولای شي چې پر کړند (فاعل) او خبر (اوړېدلي فعل) سربېره نورې برخې هم ولري:

کوشنۍ ترينه غونډله	Sara studiert. سارا زده کړه کوي.
اوږده غونډله	Anaargul möchte nächstes Jahr sein Auslandssemester für sechs Monate in die beste Universität Deutschlands absolvieren. انارګل غواړي چې راتلونکی کال د شپږو مياشتو لپاره د خپل بهرني سمتر دوره د جرمني په تر ټولو ښه ترين پوهنتون کې سرته ورسوي.

د غونډلې ډولونه Satzarten

Der Aussagesatz څرګندني غونډله

څرګندني غونډله (بيانيه جمله) هغه غونډلې ته وايي چې يو حقيقت، يو اندواند او يا هم يوه فرضيه پکې نغښتل شوې وي. د دغه ډول غونډلو په لومړۍ برخه يا پيل کې کړند (فاعل) يا کړول (قيد) يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم وخت، په دویمه برخه کې اوړېدلی کړ (ګردان شوی فعل) او په وروستۍ برخه کې بشپړاند توکي راځي .

کړی (مفعول) + اوړېدلی کړ (ګردان شوی فعل) + کړند (فاعل)	
Ich <u>**liebe**</u> dich.	پر ما ګرانه یې.
Spingul **studiert** Physik.	سپین ګل د فزیک (فاکولته) لولي.

پوښتغونډله Der Fragesatz

په جرمنۍ ژبه کې دوه ډوله پوښتنغونډلې (سوالیه یا استفهامي جملې) شتون لري:

مالوماتي پوښتنې: دې ډول پوښتنو ته بشپړاندې پوښتنې یا (W–Fragen) هم وايي. دوی د (wer, was, wie, warum) په پوښتوییکو (استفهامي کلمو) سره پیلېږي او په ځواب کې د مالوماتو غوښتنه کوي:

Wer ist da?	څوک دي؟
Warum bist du so spät gekommen?	ولې دومره ناوخته راغلئ یې؟
Wie bist du hierhergekommen?	دلته څنګه راغلئ یې؟
Was hast du heute gemacht?	نن دې څه شی وکړل؟

پرېکړه ییزې پوښتنې Entscheidungsfrage: دغه ډول پوښتنې د انګرېزۍ ژبې د (Yes, No) پوښتنو په څېر دي. دوی په یوه کړ (فعل) پیلېږي او په ټولیزه توګه په هو یا نه سره ځوابېږي:

Arbeitest du heute? **Nein**, ich habe heute frei.	نن کار کوې؟ نه، زه نن رخصت یم.
Studierst du? **Ja** klar.	زده کړه کوې؟ هو مالومداره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناسیده پوښتغونډلې (استهامي جملې) د سیده هغوی په پرتله له درنښت او احترام څخه ډکې دي. دوی مله غونډله په (ob) سره پیلوي. د دې لپاره چې احترام یا درنښت لا نور هم څرګند شوی وي، په پیلیزه غونډله کې لومړی یا دویم انشايي (Konjunktiv II) راځي.

Er fragt, **ob** er heute früher nach Hause gehen **könnte**. دی پوښتي که چیرې نن لږ مخکې کور ته ولاړ شوای شي.
Er wollte wissen, wann wir ihm was schenken **würden.** ده غوښتل چې پوه شي چې موږ به ده ته څه وخت یوه تحفه ورکوو.

هېښني غونډله Ausrufesatz: هېښني غونډله (ندایه جمله) یوه حیرانتیا څرګندوي. په پای کې يې بلننښه اېښوول کیږي.

Wie schön!	څومره ښایسته یا ښه!
Was für ein Auto!	څه یو موټر !

امري غونډله (Aufforderungssatz): هغه غونډله (جمله) ده چې یوه غوښتنه، هیله یا یو امر څرګندوي. په پای کې يې بلننښه اېښول کیږي:

Halt!	دریږ (دریش)!
Geben Sie mir bitte ein Kaffee!	مهرباني وکړئ یوه کافي راکړئ!
Mach deine Hausaufgabe!	خپله کورنۍ دنده وکړه!

ارماني غونډله Wunschsatz: دغه ډول غونډله یو ارمان څرګندوي. په پای کې يې بلننښه اېښوول کیږي:

Wenn du hier wärest!	دریغه چې ته خو دلته وای!

(c) ketabton.com: The Digital Library

Wenn der Sommer nur kommen würde!	دریغه چې پسرلی راشي!

Die Verneinung نفي

په جرمنۍ ژبه کې منفي غونډلې (جملې) په (Nein) او (Kein) سره رغېږي.

Die Verwendung von Nein – د "نه" کارول	
Er trinkt **nicht.**	په ساده مهال کې له کړ (فعل) سره، د غونډلې په پای کې راځي.
Er hat heute **nicht** gegessen.	په ګډغونډلو (مرکبو جملو) کې له بېشړ کړ څخه وړاندې د غونډلې په پای کې راځي.
Sie hat **nicht das** Buch gekauft, sondern die Stifte.	له مالوم آرټيکل او تولنومځري (ملکي ضمير) سره له آرټيکل څخه وړاندې راځي.
Das ist **nicht Nicole´s** Tochter, sondern ihre Nachbarin.	له ځانګړنومونو څخه مخکې راځي.
Er hat **nicht dich** geliebt, sondern deine Schwester.	له نومځرو (ضميرونو) څخه وړاندې.
Das ist **nicht schwer.**	له ستاينوم (صفت) څخه وړاندې.
Sie geht **nicht gerne** tanzen.	له کړول (قيد) څخه وړاندي.
Wir gehen **nicht um acht Uhr**.	له وخت (ساعت) څخه وړاندې.
Wir gehen **nicht ins Restaurant**.	له ځای څخه وړاندې.
Wir kochen **nicht mit Gas**.	له دود (طريقې) څخه وړاندې.

که بنايي چې په غونډله (جمله) کې يو غړی يا يو غونډ منفي شي، د (Nein) کلمه له همغه غړي څخه مخکې راځي. د (Nein) د کلمې د ځای په بدلون سره کېدای شي چې د غونډلې مانا هم بدلون ومومي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ich habe dir **nicht** gestern einen Stift gegeben (sondern heute). ما پرون تا ته یو قلم در نه کړ (بلکې نن).
Nicht ich habe dir gestern einen Stift gegeben. ما تا ته پرون یو قلم در نه کړ (دا زه نه وم چې پرون مې تا ته یو قلم درکړ).
Ich habe **nicht** dir gestern einen Stift gegeben (sondern Marina). ما تا ته پرون یو قلم در نه کړ (بلکې مرینې ته)

Die Verwendung von Kein **د (kein) کارول**	
Ich habe Durst. Ich habe **keinen** Durst.	له هغه نوم سره چې آرټیکل نه وي ، د نفې لپاره (kein) کارول کېږي.
Ich habe **ein** Buch. Ich habe **kein** Buch.	د نامعین پېژندوییکي (آرټیکل، یا د تعریف توري) پر ځای هم (kein) کارول کېږي.

ځینې وخت کېدای شي چې یوه غونډله (جمله) په (Nein) او (Kein) دواړو سره منفي شي. د بېلګې په توګه، کله چې مله غونډله (فرعي جمله) په (Sondern) سره پیل شي:

Ich habe **nicht** Tee, sondern Wasser getrunken. ما چای نه، بلکې اوبه څښلې دي.
Ich habe **keinen** Tee, sondern Wasser getrunken.

د غونډلې برخې

کړند (Subjekt): د یوه کار سرته رسوونکی ته کړند (فاعل) وايي.

<u>**Jana**</u> macht ihre Hausaufgabe.	ینه خپله کورنۍ دنده سر ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی (Objekt) : مفعول هغه کس یا څیز ته وایي چې یو کار پې شوی وي. دوی کېدای شي چې لنډ کړی (بې واسطه مفعول، Akkusativobjekt) ، لر کړی (غیر مستقیم یا با واسطه مفعول، Dativobjekt)، تولپیرکړی (اضافي مفعول، Genitivobjekt) او سربلیز کړی (Präpositionalobjekt) وي.

Maya hat **<u>den Laptop</u>** mitgenommen. میه لپټاپ له ځان سره یووړ. (لنډ کړی، بې واسطه مفعول)
Maya hat den Laptop mit einem **Stift** zerkratzt. میه په قلم سره لپټاپ وګروه (داغ یې کړ). (قلم لر کړی یا با واسطه مفعول دی)

کړولیزه برخه (Adverbialbestimmung): هغه برخه ده چې کړولیز (قیدي) توکي لکه سربلونه (Präposition)، کړولیزې غونډلې (قیدي جملې) چې په کړي پېر (مفعولي حالت) او یا تولپېر (اضافي حالت) کې راغلې وي.

Ich warte auf dich **<u>am Seeufer</u>**.	زه تا ته د سیند پر غاړه تم یم.

خبر (Prädikat) : د غونډلې (جملې) هغه برخه ده چې له اوړېدلي کړ (ګردان شوي فعل) څخه جوړه شوې وي.

Anaargul **<u>arbeitet</u>** sehr gut.	انارګل ډېر ښه کار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړولیز توکي Adverbial

کړول (قید) یا کړولیز توکي (قیدي توکي) هغه ویيکي (کلمې) دي چې یو کړ (فعل) یا یو ستاینوم (صفت) ستايي یا د دوی د تون (ځای)، مهال (وخت)، پېر (حالت)، دود او آړونو (شرایطو) په اړه سرباري مالومات راکوي.

Anaargul liest **sehr** gut.	انارګل ډېر ښه لوست کوي. (دود ټاکنه)
Anaargul liest in der **Klasse**.	انارګل په ټولګي کې لوست کوي.(تون، مکان)
Anaargul liest, **weil** ihm das gefällt.	انارګل لوست کوي، ځکه چې د ده خوښېږي. (مله غونډله د کړول یا قید په توګه)

ستایوبی Das Attribut

ستایوبی (Attribut) په خپله ډېرولو یا اضافه کولو ته وايي، خو په ژبه کې د ستاینوم (صفت) یا کړستاینوم (Partizip) په توګه یا هم د ملې غونډلې (فرعي جملې) په څیر کارول کېږي. دی د یوه کړند (فاعل) یا یوه کړي (مفعول) په باره کې مالومات راکوي. ستایوبی کېدای شي چې همدارنګه د هغه څیز په باره کې اضافي مالومات راکړي چې یوه کړند (فاعل) یا کړي (مفعول) ویلي یا لیدلي وي. ستایوبی په خپله خپلواک نه دی، بلکې د غونډلې (جملې) د یوې کلمې یا یوې برخې سره تړاو لري . ځینې وخت له ستاینوم (صفت) سره توپیرېدای نه شي ځکه چې د ستاینوم (صفت) دنده پر مخ وړي.

Ich habe die Frau, <u>die gestern einen Unfall hatte</u>, heute wieder gesehen.

ما هغه ښځه نن بیا ولیده چې پرون يې ټکر وکړ.

په دغه غونډله کې ستایوبی په خپله مله غونډله ده چې د کړي (مفعول) په باره کې سرباري مالومات راکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستايوې کېدای شي چې له خپل اړوند توکي يا نوم څخه ښی يا کيڼې خوا ته راشي. له همدې امله د ښي يا کيڼ ستايوې په نامه سره يادېږي.

کيڼ ستايوی د ستاينوم (صفت) يا کړستاينوم (Partizip) په توګه له نوم څخه مخکې يا کيڼې خوا ته راځي:

ein **grünes** Haus	يو شين کور
das **gestrichene** Haus	رنګ شوی کور

ښی ستايوی له خپل اړوند توکي يا نوم څخه وروسته يا ښی خوا ته راځي:

Das Haus **in Kabul…**	دغه کور چې په کابل کې دی . . .
Das Haus **meiner Eltern…**	زما د مور او پلار کور . . .
Das Haus, **das ich gestern kaufte,**	دغه کور (کوم) چې ما پرون واخيست،

Die Valenz der Verben

د کړ د نښلولو وړتيا

په ژبپوهنه کې د يوه ويي (کلمې) په ځانګړې توګه د يوه کړ (فعل) د نښلولو وړتيا هغې ځانګړتيا ته وايي چې په ځان پسې نورې کلمې ونښلولای يا د ځان بشپړولو غوښتنه وکړای شي.

د غونډلې (جملې) د جوړښت ډول په کړ (فعل) پورې اړه لري. په دې مانا چې دا کړ دی چې په غونډله کې نور توکي ټاکي. يو کړ کولای شي چې په غونډله کې لاندې توکي وغواړي:

Ich lache.	يوازې يو کړند (فاعل) او يو کړ (فعل)
Ich lese ein Buch.	يو کړند، يو کړ او يو لنډ کړی (بې واسطه مفعول)
Ich helfe dir.	يوازې يوکړند (فاعل) او يو لر کړی (با واسطه مفعول)
Ich helfe dir eine Wohnung	يو کړند (فاعل)، يو لر کړی (باواسطه مفعول)،

(c) ketabton.com: The Digital Library

zu finden.	یو لنډ کرِی (بې واسطه مفعول)
Ich warte auf dich.	یو کړند (فاعل)، یو سربلیز کرِی (اضافي مفعول)
Ich schreibe eine Karte an deinen Bruder.	یو کړند، یو لنډ کرِی (بې واسطه مفعول) او یو سربلیز کرِی (اضافي مفعول)

Die Wortstellung im Satz

د غونډلې ویې اوډون

په غونډله کې ویې اوډون (د غونډونو یا کلمو نظم) پر دې بحث کوي چې په یوه غونډله (جمله) کې د ویو (کلمو) او غونډونو ځای وټاکي، په تېره د کړند (فاعل)، کرِي (مفعول) او اوړېدلي کړ (ګردان شوي فعل). په دې مانا چې کړند (فاعل)، کرِی (مفعول) او اوړېدلی کړ په غونډله کې چېرته راشي.

که څه هم چې په جرمنۍ ژبه کې د ویو اوډون (کلمو نظم) کېدای شي چې په څو ډولونو سره ورغېږي، خو په ټولیزه توګه د یوې غونډلې په لومړۍ برخه کې کړند (فاعل)، په دویمه هغه کې اوړېدلی کړ (ګردان شوی فعل) او په دریمه برخه کې یې کرِی (مفعول) راځي:

Anaargul schreibt einen Brief.	فاعل + اوړېدلی کړ (فعل) + کرِی (مفعول)

په جرمنۍ ژبه کې ډول ډول غونډلې (جملې) شتون لري. ځینې یې یوازې د اوړېدلې کړ (ګردان شوي فعل) برخه او بله منځنۍ برخه لري. ځینې غونډلې (جملې) بیا مخکنۍ او د ناوړېدلې کړ (ناګردان شوي فعل) برخه او ځینې یې بیا یوه بله برخه هم لري.

قاعده:

- اوړېدلی کړ (ګردان شوی فعل) د غونډلې (جملې) په دویمه برخه کې راځي.
- کړنومی (مصدر) او دویم کړستاینوم (Partizip II) د غونډلې په پای کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په مله غونډله (فرعي جمله) کې اوړېدلی کړ (فعل) د غونډلې په پای کې راځي.
- کړند (فاعل) ډېر وخت د غونډلې (جملې) په پیل کې راځي، خو همداسې کېدای شي چې د غونډلې په پیل کې کړی (مفعول) هم راشي یا د مهال یا هم ځای یادونه وشي.

Das Kind fängt den Ball.	کړند + اوړېدلی کړ + کړی (مفعول)
Den Ball fängt der Hund.	کړی (مفعول) + اوړېدلی کړ + کړند
Gestern hat das Kind den Ball gefangen.	وخت + کړند + کړی (مفعول) + اوړېدلی کړ

لاندې لارښوونې د پام وړې دي:

- باید هڅه وشي چې په غونډله کې پېژندل شوي څیزونه له نویو او ناپېژانده هغوی څخه وړاندې یاد یا ذکر شي او نامالومه یا نوی څیز د غونډلې په پای کې.

Ich habe **deinem** Bruder **ein** Buch gegeben.

په دغه بېلګه کې «کتاب» یو نامالوم څیز دی چې د غونډلې په پای او «ستا ورور» یو مالوم توکی دی چې له نامالوم څخه وړاندې راغلی دی.

- لر کړی (با واسطه مفعول)، وخت او ځای کېدای شي چې د غونډلې (جملې) په مخکنۍ، منځنۍ یا وروستۍ برخه کې راشي، خو که چیرې د دغو توکو یادول د یوې ځانګړې پاملرنې په موخه وشي، نو بنایي چې له لنډ کړي (بې واسطه مفعول) څخه وروسته راوړل شي:

Ich habe deinem Bruder in der Schule einen Laptop **gestern** gegeben.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برسېرنه بېلګه کې وخت (پرون) له لنډ کړي (بې واسطه مفعول، لپټاپ) څخه وروسته راغلی دی. او دا هم د دې لپاره چې د لوستونکیو پام ور ته را وګرځي. ځای تل تر تله له وخت څخه وړاندې راځي، په ځانګړې توګه په لیکلې ژبه په ځانګړې توګه په رسمي مکتوبونو کې.

- په ناسیده وینا (غیر مستقیم نقل قول) کې د لر کړي (با واسطه مفعول) پر ځای که نومځری (ضمیر) وکارول شي، نو هرو مرو باید په خپل آر (اصلي) ځای راشي.

1. Ich habe **ihm** (deinem Bruder) in der Schule einen Laptop gestern gegeben.
2. Ich habe in der Schule einen Laptop ihm (deinem Bruder) gestern gegeben.

په برسېرنه لومړۍ غونډله کې د (deinem Bruder) پر ځای د (**ihm**) نومځری (ضمیر) راغلی دی. له همدې امله باید په خپل ځای راوړل شي. په دې مانا چې لومړۍ غونډله سمه، خو دویمه هغه غلطه ده، ځکه چې لر کړی (با واسطه مفعول) په دویمه غونډله (جمله) کې پر خپل ځای نه دی راغلی.

Die Indirekte Rede ناسیده وینا

انارګل وویل چې دی به ژر تر ژره خپل وطن ته ولاړ شي.

په دغه بېلګه کې خبرې کوونکي یا ویناوال د انارګل خبرې راوړې دي یا یې د وینا نکل کوي چې انارګل څه وویل یا څه پلان لري. ویناوال د انارګل خبرې په خپله ژبه او کلمو کې رانغښتلې دي، خو د ده موخه یې په بشپړه توګه څرګنده کړې ده. د وینا دې ډول نکل ته ناسیده وینا (غیر مستقیم نقل قول) وایي.

که چېرې خبرې کوونکي ویلي وای چې:

انارګل وویل: "زه به ژر تر ژر خپل وطن ته ولاړ شم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

برسېرنه بېلګه سيده وينا ده. لکه څنګه چې انارګل خبرې کړې دي، ويناوال ټکی په ټکی هماغسې د ده خبرې تکراروي.

د يوه چا د خبرو يا وينا د راوړلو يا تکرار لپاره سړی کولای شي چې سيده يا ناسيده وينا وکاروي. ناسيده وينا هرګوره ډېره کارول کېږي. په جرمنۍ ژبه کي سړی کولای شې چې ناسيده وينا په مله غونډله کې د (sagen, fragen, dass) په کلمو سره پيل او د انشايي (Konjunktiv) په مرسته ورغوي. لومړی انشايي، دويم هغه او د (würde) بنه ټول يوه مانا لري. لومړی انشايي هرګوره نن سبا دومره نه کارول کېږي لکه دويم انشايي (Konjunktiv II) او د (Würde) بنه.

Er sagte, dass er nach Hause kommen **würde**.	ده وويل چې دی به کور ته راشي.
Er sagte, dass er nach Hause **komme**.	
Er sagte, dass er nach Hause **käme**.	

په ناسيده وينا د سيده وينا بدلون

نومځری (ضمير) هرو مرو بدلون مومي او که اړينه وي، د ځای او وخت وينا هم بدلون غواړي:

Sie sagte: „**ich** habe ein Buch gekauft.“	دې وويل: "ما يو کتاب اخيستی دی."
Sie sagte, **sie** habe ein Buch gekauft.	دې وويل چې ګواکي دې يو کتاب اخيستی دی.

لومړۍ بېګله چې سيده وينا ده، د (ich) نومځری (ضمير) پکې راغلی دی، خو په دويمه بېلګه کې چې په ناسيده وينا کې رغېدلې ده، د (ich) نومځری په (sie) سره بدلون موندلی دی.

کله چې د وخت او ځای کلمې بدلون مومي:

Er sagte: „Sie **war gestern hier**.“	ده وويل: "دا پرون دلته وه."
Er sagte, sie **sei am Tag zuvor dort** gewesen.	ده وويل چې ګواکي دا مخکې له هغې ورځې هلته وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځرګندني (بيانيه) غونډلې بدلون

د دې لپاره چې ځرګندني غونډلې (بياني جملې) په ناسيده وينا سره واړوو، اړينه نه ده چې هرو مرو دې د انشايي په بڼه ورغبږي، بلکې کېداى شي چې په (dass) سره هم ورغول شي:

Sie sagte, sie **habe**/hat ein Buch gekauft.
Sie sagte, **dass** sie ein Buch gekauft habe/hat.
دې وويل چې ګواکې يو کتاب پېرلى دى.

د پوښتغونډلې (سوالي جملې) بدلون

پوښتغونډله په پوښتوييکي (استفهامي کلمې) سره پېلېږي:

Direkte Rede سيده وينا	Ich fragte: „Was wollte sie?“ ما پوښتنه وکړه: "دې څه غوښتل؟"
Indirekte Rede ناسيده وينا	Ich fragte, was sie wollte/was sie gewollt habe. ما پوښتنه وکړه چې دې څه غوښتل يا غوښتلي دي.

که چېرې په پوښتغونډله (سوالي جمله) کې پوښتويى (استفهامي کلمه) شتون و نه لري لکه هغه پوښتنې چې په هو او نه سره ځوابېږي، نو په غونډله کې ناسيده وينا د (ob) په ويي (کلمې) سره پيلېږي:

Direkte Rede سيده وينا	Ich fragte: „**Hat** sie dir geholfen?“ ما پوښتنه وکړه: "آيا دې در سره مرسته وکړه؟
Indirekte Rede ناسيده وينا	Ich fragte, **ob** sie ihm geholfen habe/hat. ما پوښتنه وکړه چې آيا دې له ده سره مرسته وکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیلو څرګندولو لپاره په ناسیده وینا کې د (sollen) دود ټاکی کړ (مودال فعل) کارول کیږي، خو که چیرې وغواړو چې غوښتله (جمله) مو له درنښت څخه ډکه وي، د (mögen) دود ټاکی هغه کاروو.

Direkte Rede سیده وینا	Er sagte: „Komm bitte später." ده وویل: "مهرباني وکړه وروسته راشه."
Indirekte Rede ناسیده وینا	Er sagte, ich soll später kommen. ده وویل چې ښایي زه وروسته راشم.
Indirekte Rede ناسیده وینا (درنښت)	Er sagte, ich möge später kommen. ده وویل چې ښه به دا وي چې وروسته راشم.

ناسیده وینا کېدای شي چې په انشایي (Konjunktiv) او خبري (Indikativ) بڼه سره راشي، خو په ورځنیو خبرو اترو کې خلک ډېره خبري بڼه کاروي. که چیرې خبرې کوونکی د خبرو یا وینا په رېښتینولۍ باور ولري، نو خبري بڼه کاروي او که چیرې شکمن وي، انشایي بڼه کاروي.

Anaargul sagt, dass er Pilot **ist**.	انارګل وایي چې دی پیلوټ دی. (خبري) (ډاډه یم چې انارګل رېښتیا وایي)
Anaargul sagt, dass er Pilot **sei**.	انارګل وایي چې ګواکي دی پیلوټ دی. (انشایي) (ډاډه نه یم چې انارګل به پیلوټ وي.)

په لومړي انشایي (Konjunktiv I) کې ناسیده وینا:

	Direkte Rede	**Indirekte Rede**
Präsens	„Ich gehe." „Ich esse."	Sie sagte, sie gehe. Sie sagte, sie esse.
Perfekt	„Ich bin gegangen." „Ich habe gegessen."	Sie sagte, sie sei gegangen. Sie sagte, sie habe gegessen.
Präteritum	„Ich ging."	

(c) ketabton.com: The Digital Library

	„Ich aß.“	کېدای شي چې درې واړه مهالونه یو ډول ورغبېږي. مانا يې يوه ده.
Plusquam–perfekt	„Ich war gegangen.“ „Ich hatte gegessen.“	
Futur I	„Ich werde gehen.“ „Ich werde essen.“	Sie sagte, sie werde gehen. Sie sagte, sie werde essen.
Futur II	„Ich werde gegangen sein.“ „Ich werde gegessen haben.“	Sie sagte, sie werde gegangen sein. Sie sagte, sie werde gegessen haben.

کله چې د لومړي انشايي (Konjunktiv I) بڼه له خبري (Indikativ) هغې سره یو ډول وي، نو دويم انشايي (Konjunktiv II) يا د (Würde) بڼه کارول کېږي، د بېلګې په توګه:

Er sagte: „Sie haben uns fotografiert.“

Er sagte, **dass sie uns fotografiert haben.**

دويمه غونډله چې ناسیده وينا ده، لومړۍ انشايي (Konjunktiv I) او خبري (Indikativ) بڼه يې يو ډول ده. له همدې امله باید دغه ډول غونډلې په دويم انشايي (Konjunktiv II) کې ورغبېږي:

Er sagte, **dass sie uns fotografiert hätten.**

کله چې د دويم انشايي (Konjunktiv II) بڼه د خبري (Indikativ) له بېشړ تېرمهال (Präteritum) سره يو ډول وي، نو ناسیده وينا د (würde) په بڼه سره رغبېږي:

Er sagte: „Sie lachen viel.“

Er sagte, **dass sie viel lachten.**

دويمه غونډله چې ناسیده وينا ده او په دويم انشايي کې راوړل شوې ده، د خبري (Indikativ) له بېشړ تېرمهال (Präteritum) سره يو ډول ده. له همدې امله باید د (Würde) په بڼه ورغبېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Er sagte, **dass sie viel lachen würden.**

که چېرې د يوې غونډلې (جملې) رغښت (جوړول) په لومړي انشايي (Konjunktiv I) کې کېدون ولري، خو سړی يې په دويم انشايي کې ورغوي، په دې مانا چې د وينا په رېښتينولۍ کې شک کوي:

Lisa sagte, sie **sei** froh. (konj. I)	ليزا وويل چې ګواکي دا خوښه ده.
Lisa sagte, sie **wäre** froh. (konj. II)	ليزا وويل چې ګواکي دا خوښه ده يا خوښه به وي. (امکان لري چې خوښه نه وي.)

پای

و من الله توفيق

محمد کريم نور

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library